# پښتو ادب

# او

# نړیوال کلي

(تنقیدي و تخلیقي مقالې)

## عارف تبسم

Download from:aghalibrary.cm

خپروونکي

پښتو ریسرچ انسټیټیوټ، لورالائي
سهېلي پښتونخوا

دکتاب ټول حقوق دلیکوال په حق کې محفوظ دي

---

دکتاب پېژندنه

کتاب ------------------------------- پښتو ادب او نړیوال کلی
لیکوال ------------------------------ عارف تبسّم
کمپوزنګ ---------------------------- حافظ رحمت نیازي
کمپوزر موبایل--- ------------------(0300-3897428)
ټائټل ډیزائن مرسته ------------------ بارکوال میاخېل
شمېر ------------------------------- ۵۰۰ ټوکه
چاپ کال ---------------------------اګست -2007 ء
د چاپ زیار ------------------------- غزنوي خپرندویه ټولنه کوټه
بیه ---------------------------------- ۱۲۰روپۍ

دموندلودرك

۱- غزنوي کتب خانه سوس پلازه جناح روډ کوټه
۲- غزنوي کتب خانه قندهاري بازارکوټه
۳ - دانش خپرندویه ټولنه قصه خوانی پېښور
٤- خوشحال بک لېنډ تحصیل روډ بورےلورالائي

خپروونکي

پښتوریسرچ انسټيټیوټ، لورالائي

# ټرون

ديوويشتمي پېړۍ دهغه مزاحمت په نوم
چي په نړيواله ټولنه کي دانسان دښېګړي اوسوکالۍ دپاره
روان دے او مقصد يې له متنوع کلتوري ښوسره دقامونو
سرلوړي او ټولنيزانصاف دے

بسم اللّٰه الرحمن الرحیم

# لړلیک

شمېر سرلیک مخ

۱- پښتو ادب اونړیوال کلی – زما په خپل نظرکي.............. ۷

۲ - جدیدیت مابعد جدیدیت او پښتو ادب ........................

۳ - اوسنی پښتو ادب د طالبا نائزېشن تر اثر لاندي.......... ۳۱

٤ - د پښتو ژبي و ادب وده او د ټیلي ویژن اوسنۍ خپروني .. ۳۷

٥ - یویشتمه پېړۍ، نړیوال کلی او پښتو ژبه......................

٤۹

٦ - ادب، ترقي او سماجي بدلون.............................................

٦٣

٧ - د تهذيبونو تر ميان د جنګ حقيقتاو د ادب کردار..... ٧٣

٨ - يو ويشتمه پېړۍ او د نوي ادبي موضوعاتو ......... ٨٣

٩ - ژبه، قدرونه او ګلوبلايزېشن ............................ ٩٣

١٠ - ادب او فکري بحران .................................. ١٠١

١١ - د تکل د تاريخ اجمالي څېړنه ....................... ١١١

١٢ - دا مايل چي نن له لوی هنره ډك دی ............. ١١٧

١٣ - ما شاعر وليدو ............................................ ١٢٧

١٤ - د ياد په جزيره کي نغمه سنج سهېل جعفر .......... ١٤١

١٥ - د لورالايي د نوي غزل نن او پرون ................. ١٥٥

## دليکوال پېژندګلوي

نوم: محمد عارف

قلمي نوم: عارف تبسم

د پلار نوم: حاجي شيرافضل

ټاټوبۍ: بورے، لورالائي

تعليم: ايم- اې انګرېزي ادبيات

ايم- اې بين الاقوامي تعلقات

درک: مکان 246- رحيم کالوني جېل روډ
هده – کوټه، سهېلي پښتونخو

فون: 0333 - 7804824

اي مېل: ariftabassum@yahoo.com

## چاپ کتابونه

١- ګلوبلائزېشن اورمادري زبانين (ترتيب) ٢٠٠٤ ء

٢-آزادی کی پهلی کرن (ترجمه) ٢٠٠٥ ء

٣- دلمرپل (اوله پښتو شعري مجموعه) ٢٠٠٦ ء

٤- پښتو ادب اونړيوال کلی هم دا نثري مجموعه) ٢٠٠٧ ء

# پښتو ادب او نړیوال کلی -زما په خپل نظر کې

"پښتو ادب او نړیوال کلی" زما دهغه مقالو اوله مجموعه ده، چې ما و خت په وخت لیکلي دي، په دې کې زما ړومبنۍ مقاله، چې ما په ۱۹۹۲ء کې د خپل ادبي سفر په ښخي ابتدا کې لیکلې ده، هم شامله ده او د دې د شاملولو مقصدمي دا دی، چې لوستونکي "دلورالایي د نوي غزل نن او پرون" څخه بیا تر "د پښتو ژبې و ادب وده او د تیلي ویژن اوسنۍ خپرونې یو تنقیدي جاج" پورې زما د نثري سفر ښه اندازه ولګوي، په دې میان کې که څه هم پنځلس کاله تېر شوي دي، خو ما لیکل ډېر کم کړي دي، بلکې که دا ووایم چې ما د ۲۰۰۰ء پس زیات لیکل کړي دي، نو به هم صحي وي، د دې اندازه به تاسو ته د هري مقالې په آخر کې د هغه مقالې د لکلو نېټه درکړي.

تر دې له مخه چې تاسو د دې کتاب د مقالو لوستل پیل کړئ ځینې خبري داسي دي چې زه یې په سر کې له تاسو سره شریکول غواړم، تر ټولو اوله خبره خو دا ده چې شاید تاسو بهٔ د دې کتاب د لوستلو پس د دې تعلق له څه "ازم" سره لټوئ، او کېدای شي، چې له څه نا څه "ازم" سره د دې تعلق پیدا هم شي خو د دې دا مطلب قطعاً نه دی، چې زه د یو مخصوص ازم پیروکار یم، او یا څه مخصوصه جماعتي تهیوري یا نظریه پر مخ وړم، ما چې څه هم لیکلي دي نو د دې تجزیه مي زما په خپل نظر د هغه

حقیقتونو پر بنیاد کړې ده، چې زموږ شا وخوا پراته دي، دلته د دې خبرې سپیناوی هم ضروري دی، چې کېدای شي د حقیقتونو په دې تجزیه کې به زه هم چیرې غیرجانبدار نه یم پاته شوی، خو د دې مطلب دا نه دی، چې پر ما باندې د څه جماعتي نظریې تاپه ولګول شي. زه په لیکلو کې د څه غیرجانبدارۍ قایل نه یم، لاکن د یوه داسې ازم پیروکار هم نه یم، چې هغه انسانان پر دې بنیاد سره تقسیموي، چې په نسل، مذهب او رنګ کې یې توپیر دی، او د دې توپیر له کبله دي یو نسل، یو مذهب، یا یو رنګ پر بل نسل، بل مذهب او یا بل رنګ د بالادستې او برترې جواز ولري، زه د هر قام د بنیادي حق خبره کوم، خو په یو داسې انداز، چې د هغه حق د ترلاسه کولو له وجې دي په دنیا کې د کلتورونو متنوع حیثیت پر خپل ځای برقرار وي، ځکه د یو پښتون په حیث زه قام پرست یم خو نه تر دې حده چې زه دې د خپل قامي تفخر له وجې د دنیا نور قامونه تر ځان سپك وګڼم، خو زه د خپل قامي تشخص، تهذیبي پېژندګلوې او د باوقاره قامي ژوند د پاره د هرې پښتني هڅې ملګری یم.

دویمه خبره دا ده، چې کېدای شي ځینې لوستونکي په دې مقالو کې ځای پر ځای څه تکرار هم محسوس کړي، خو زما خیال دا دی، چې و دې عواملو ته د تکرار پر ځای د دنیا په تاریخ کې د ځینې داسې حالاتو او واقعاتو په توګه کتل په کار دي، چې دهغه اثرات له سلګونو کلونو پس هم زموږ د ژوند پر هر اړخ باندې پراته دي، په دې حالاتو او واقعاتو کې د یورپ نشاة الثانیه، صنعتي انقلاب، د مختلفه نظریو او علومو ارتقاء،نو آبادیت، د سرمایه دارانه او اشتراکي نظام تر میان مسابقه او سوړ جنګ، د ترقي په نوم خور شوی سامراجیت، ګلوبلایزېشن، د تهذیبونو تر میان د جنګ پروپېګنډه او د نن اعتدال پسندې او طالبانایزېشن تر میان د جوړ کړل شوي تضاد اثرات شامل دي.

دا ټول حالات او واقعات داسې دي چې په خپل میان کې یو

تــاریخي تسلــسل لــري، او د دې تسلــسل لــه کبلــه د دې اثــرات هــم هغــومره زمــوږ د ژونــد پــر هــر اړخ بانــدي پراتــهٔ دي، ځکــه خــو ټولــه ټولنــه، لــه نړیــوال ســطح بیــا تــر ځــایي ســطح پــوري، د یــو داســي انتــشار او ګــډ وډي ښــکار ده چــي پــه هغــه کــي سیاســي هڅــي، کلتـوري شـناخت، ټـولنیز انـصاف او ادبـي هلـي ځلـي تـر ډېـره حـده بـې معنـا ښـکاري، د تـاریخ د دې اقتـصادي مـسابقې او لـوبي لـه کبلـه انـساني حیثیـت او جـذباتو احـساساتو لا هـم خپـل قـدر بـایللی دی، زه لـه بـده مرغــه د دې تـاریخي جبـر او د دې پـه منفـي اثراتـو لـږ ډېـر خبر یم، ځکـه چـي مـا هـره مقالـه لیکلـې ده، نـو د هغـه چوکاټ کـه بـې شـکه ادبـي دی خـو د هغــه کېنـوس تـر دې ټولـو حـالاتو او واقعــاتو غزیــدلی دی، د دې وجــه شــاید دا هــم وي چــي زه ادب یــوائي د سـاتیري عمـل نـه ګـڼم او نـه د دې دپـاره لیکـل کـوم، چـي یـواځي او یـوائي خونـد پـرې واخلـم، زه خـو ادب د بـدلون یـوه مهمـه ذریعـه ګـڼم، او د دې دایـره تـر سیاسـته پـوري غزېـدلې ګـڼم، نـو ځکـه بیـا د دې د یـوه بـشپړه کـردار حـامي یم، د یـوه داسـي کـردار چـي هغـه هـم سیاسـي هڅـو تـه ګټـه ورسـوي او هـم پـه ټولنـه کـي د بـدلون منبـع وګرځـي. لـه دې کبلــه چــي مــا هرڅــه لیکلــي دي، مــا خپــل فکــر د دغــو تــاریخي حـالاتو او واقعـاتو پـر بـساط لوبـولی دی، نـو ځکـه دلتـه زه پـه خپلـه هـره تجزیـه کـي تـر دې حـالاتو راتېـر شـوی یم، او بیـا مـي لیکـل کـړي دي.

دربیمــه خبــره دا ده، چــي دا ســوال راپورتــه کیــږي، چــي شــاید د ادب لطیفـه، نازکـه او مهینـه پیرایـه بـه شـاید د دې جوګـه نـه شـي، چـي دومـره تراخـهٔ، کرخت او سـخت حقیقتونـه پـه کـي بیـان شـي. خـو زمـا خپـل یـو نظـر دی او هغـه دا چـي کېـدای شـي زمـا انـداز څـه تـریخ وي، خـو لکـه چـي مـخ کـي مـي هـم وویـل چـي زه ادب یـواځي سـاتېری نـه ګـڼم، نـو ځکـه بـه دلطیفـو جـذباتو اظهـار شـاید دلتـه نـه وي سـوي، د ډېـرو لطیفـو جـذباتو او احـساساتو دپـاره د شـاعري میـدان پـراخ

دی، خو د دې مطلب دا هم نه دی، چې شاعري دې هم یوازې د زلفو، سرو لبانو او د ګل و بلبل تر بیان پورې محدوده شي، په دې کتاب کې شاملې اکثره مقالې تنقیدي دي او تنقید چونکې د ښه او بد اړخ د رابرسېره کولو عمل دی، نو ځکه د دې عمل د رابرسېره کولو د پاره کله- کله دا ضروري شي، چې سړی تنقید د له روایتي اصولونو څخه لرې دباندې راووځي، دا جلا خبره ده، چې زما په اکثره مقالو کې تردې تنقیدي عمل د څه ادبي فن پارې پر ځای هغه حالات تېر شوي دي چې هغه زموږ له ادب سره- سره د ژوند هر اړخ متاثره کړی دی، چې یوازینی مقصد یې د ادب هغه کردار رابرسېره کول او بحالول (Revive) دی، چې د ادب تعلق د انسان له ژوند اوو رځني حالاتو سره بېرته وتړي.

څلورمه خبره دا ده چې ما ته ملګري هر وخت زما په انداز کې د تریخوالي خبره کوي، او اکثره مشوره راکوي چې زه دې له مصلحته هم کار اخلم، خو زما خیال دا دی، چې زموږ د ادب په وروسته پاتې کېدو کې یو بنیادي علت دا دی، چې موږ هر وخت له مصلحت څخه کارونه اخلو، هر وخت له موږ سره دا ویره وي، چې که مې دا خبره وکړه، نو به حکومت راته خوابدی شي، په دې خبره به ملا راته پورته شي، په دې خبره به څوك سنېره لیکوال خوابدی شي، دا خبره د سردار یا ملك د ښمني رابرسېره کولای شي، چې دومره ډېر مصلحتونه وي، نو به ارو مرو ټول ادب د مصلحتونو ښکار کیږي، او دا رنګه چې د ادب له لارې د حقیقتونو رابرسېره کولو کوم یو مقصد دی، هغه به یقیناً مري او د دې په نتیجه کې به دروغ، منافقت او چاپلوسي وده مومي، خو ما کوشش دا کړی دی، چې څه مې لیدلي او محسوس کړي دي هغه مې د خپل فکر مطابق د خپل لیك برخه ګرځولي دي، زما دا یقین دی، چې چونکې په ټولنه کې او بیا په ادب کې دننه هم دروغ او منافقت دومره زیات شوی دی، چې د هغه مخ نیوی په

پسته لهجه او لطیف انداز کې ممکن نه دی، نو ځکه په دې مقالو کې ځای په ځای به شاید زما انداز تېز او تریخ وي، ولې چې هري خواته دروغ او منافقت دومره زیات دي، چې رښتیا په زوره- زوره او په چیغو ونه وایې ځوك یې ګرسره اوري نه.

پنځمه خبره دا ده، چې په دې زیاتره مقالو کې ما کوشش دا کړی دی، چې داسې موضوعات وڅېړم چې هغه نوي وي، او د هغه ګټه و پښتو ادب ته ورسېږي، نو کېدای شي، په دې کتاب کې شامل ځینې موضوعات د پښتو دپاره غیر مانوس وي، خو زما په خیال غیر ضروري بالکل نه دي، اوس ضرورت هم د دې خبري دی چې موږ په ادب کې داسې موضوعات را مختته کړو، چې د هغه تعلق زموږ له سیاسي، معاشي، مذهبي او سماجي حالاتو او واقعاتو سره جوړیږي هم له دې لاري موږ د ادب تعلق له نورو اړخونو سره په ترړلو د ادب کردار بشپړه کولای شو.

شپږمه خبره دا ده، چې په دې کتاب کې شامل ځینې مقالې ما په اردو کې هم پخپله ژباړلي دي، چې په ځینې اخبارونو او رسالو کې چاپ شوي دي، خو د دې اوریجنل لیکل چې ما په پښتو کې کړي دي، هغه مې په دې کتاب کې سره راغونډ کړي دي.

زه له دې پورته ذکر شوو ټولو خبرو سره خپل کتاب "پښتو ادب او نړیوال کلی" تاسو ته وړاندې کوم، چې دا یو رنګه تاسو ټولو ته بلنه ده، چې موږ له خپلو ټولو حقیقتونو سره په نړیوال کلي کې د پښتو ادب پر کردار سره وږغېږو او د دې تعین وکړو، چې د نړیوال کلي کوم تصویر موږ ته وړاندې کېږي، په هغه کې پښتو، پښتون او پښتو ادب شته هم او که نه؟ که نشته نو په کار دی، چې بیا موږ د دې نړیوال کلي د برخه جوړېدو پر ځای "د پښتونخوا کلی" د جوړولو دپاره خپلې سیاسي او ادبي هڅې

وکړو، ولې چې په دې نړیوال کلي کې، پښتانه طالبان او ترهګر دي، او د نړیوال کلي د دې تصویر دپاره د پښتنو د طالبانو او ترهګرو امېج ضروري دی، ځکه ټولي هلې ځلې د دې دپاره د نن د سیاسي لوبي برخه دي چې پښتانه دي طالبان و اوسېږي، ځکه خو مقتدر قوتونه زموږ په نړۍ کې په خپله له پښتون څخه طالبان جوړ وي، هغوی ته تربیت ورکوي او بیا یې پخپله وژني، چې زما په خیال د پښتون قام تاوان دی، که یو پښتون طالب جوړیږي، او د طالب په حیث وژل کیږي، نو د دې تاوان صرف او صرف پښتون قام ته رسیږي، او چې پښتون قام په تاوان کې شو نو له هغه سره د پښتو ادب تاوان تړلی دی، نو ځکه په کار دی، چې پښتانه سیاستمداران، لیکوال او دانشور داسې هڅې پیل کړي، چې هغه د نړیوال کلي غندنه او د پښتونخوا کلي د بنا دپاره ګټور ثابت شي، یو داسې پښتونخوا کلی چې په کې ټول طالبان هم زما وي، او د هغوی جدو جهد د نړیوالو قوتونو په ګټه د تمامېدو په ځای د پښتون قام او ادب په ګټه تمام شي، په کار دی چې دطالبانو دا طلب د پښتونخوا کلي په طلب بدل شي نو په دې کې د اسلام ګټه هم ده، ولې چې پښتانه د اسلام زیات عقیدتمند دي، خو د دې دپاره شرط دا دی، چې پښتانه په خپل مذهبي استحصال خبرشي او د هغه مخ نیوی وکړي.

تر دې له مخه چې خپلې خبرې پای ته ورسوم، غواړم چې د هغه ملګرو مننه وکړم د چا په یو نه یو شکل کې د دې کتاب د چاپ مراحل تر سره ورسېدو، تر ټولو له مخه د غزنوي کتاب خانې ښاغلي روزالدین ډېره مننه کوم، چې د دې کتاب تر چاپ خانې یې د را ایستلو هلې ځلې راسره وکړې، د ښاغلي حافظ رحمت نیازي مننه چې په ډېره مینه او لږ وخت کې یې د دې کتاب کمپوزنګ را وکړو، له دې سره- سره د ځوان شاعر او لیکوال بارکوال میاخېل هم ډېره مننه کوم، چا چې د دې کتاب د ټایټل په

سـمولو کـي خپلـه تکنیکـي مرسـته راسـره وکـړه، هیلـه کـوم چـي لوسـتونکي بـه دا کتـاب خـوښ کـړي، او پـه دې کـي چـي کـوم ښـهٔ او بـد اړخونـه دي، د هغـه پـه اړه بـه خپلـه رایـه لـه مـا سـره شـریکه کـړي، چي هغه به بیا په راروان وخت کي زما دپاره ډېره مهم ثابته شي .

په درناوي

عارف تبسم

۱۵جـــــــــــــوالایي

۲۰۰۷ء

# جدیدیت، مابعد جدیدیت او پښتو ادب

## یوه علمي څېړنه ...................................

په پښتو ادب کې د جدیدیت، مابعد جدیدیت او په ادبي اړه د دې د اغېز خانه لا نیمګړې ده، ولې چې زما په خیال د جدیدیت او ما بعد جدیدیت سنجونه په سنجیده توګه نه ده شوې. ما چې په دې اړه څومره لیکونه لوستي دي، نو چپ له بو څو حوالو هیڅ چرته هم د دې رجحاناتو اصل مې لاس ته نه دی راغلی. د مابعد جدیدیت په اړه خو په پښتو ادب کې دا بحث د نشت برابر دی، که چیرې چا د جدیدیت خبره کړې ده نو هم یې جدیدیت د نوي توب یا نوښت په معنا وړاندې کړی دی، د خیال نوی توب، د فکرونو نوی توب، د اسلوب او هیئت نوي توب ته یې جدیدیت ویلی دی، او ځنې یارانو خو بیا د جدید دور د ایجادونو په شاعري، افسانه یا ناول کې ذکر جدیدیت بللی دی، چیرې هم جدیدیت په بشپړه توګه نه دی سنجول شوی، د یو تحریك او د یو همه ګیر رجحان په طور چیرې هم په پښتو کې د جدیدیت څېړنه زما تر سترګو نه ده تېره شوې او اوس خو بیا د مابعد جدیدیت خبري کیږي، ځکه څه داسې سوالونه د سړي ذهن ته راځي چې هغه پوره ځوابونه لټوي، د مثال په توګه جدیدیت څه دی؟ آیا دا یوائې څه ادبي تحریك یا رجحان دی او که د دې څه ټولنیز او هر اړخیز اثرات هم شته؟ ما بعد جدیدیت بیا و څه ته وایي؟ او دا د خپل تعریف، خصوصیاتو او اثراتو په اړه له جدیدیت څخه څه رنګه جلا دی؟ آیا په پښتو ادب کې هم د جدیدیت او ما بعد جدیدیت څه اثرات شته؟ او آیا موږ و دې دواړو تحریکونو یا رجحاناتو ته څه اړه هم لرو او که نه؟ دا هغه بنیادي

سوالونه دي، چې زما او زما رنګه لوستونکو ذهن ته راځي، ځکه خو کله کله یوه داسې پښتو ادبي فنپاره چې ورته جدید وویل شي، ذهنونو ته کنفیوژن اچوي، ولې چې د دې تحریکونو د پسِ منظر، ارتقايي عمل، مقاصدو او خصوصیاتو په اړه ناخبرتیا د دې له سنجولو څخه موږ ژغوري. دا خبره خو تر لمر سپینه ده چې جدیدیت دی او که مابعد جدیدیت، دا څه زموږ ځايي تحریکونه نهٔ دي، د دې ابتدا په غرب کې شوې ده، بیا له نورو لارو تر موږ را رسېدلي دي.

نو ځکه دلته غواړم چې اول د جدیدیت په اړه یو لنډ شان پسِ منظر د خپل محدود علم له لارې له تاسو سره شریک کړم، بیا د مابعد جدیدیت په اړه خپل بحث تر تاسو درورسوم او په اخر کې د پښتو ادب په اړه دا دواړه تحریکونه په لنډ شان مبحث کړم.

جدیدیت: ابتدا، ارتقاء او اثرات - (له۱۸۹۰ لیسزي بیا ۱۹٤٥تړپوري)

د جدیدیت د ابتدا او تاریخ په اړه په مغربي مفکرینو کې لا هم اختلاف موجود دی، څوک یې د نولسمي پېړۍ له آخري کلونو څخه ابتدا ګڼي، څوک یې د شلمي پېړۍ تحریک بولي او څوک خو بیا د دې تعلق د پنځلسمي پېړۍ له یورپي نشاة الثانیه سره تړي، خو زیاتره قابلِ قبول دلیل دا دی چې د جدیدیت د تحریک ابتدا د نولسمي پېړۍ په آخریني کلونو کې وشوه او د دې اساس پر دې نظریې وو، چې اوس د فن، ادب او ټولنیز ژوند روایتي هیئتونه، (Forms) زیاته زاړهٔ دي، نو ځکه ضرورت د دې خبري دی ،چې دا روایتي هیئتونه دې یوې خوا ته کړل شي او ثقافت دې له نوي سره ایجاد کړل شي. ګوا په بله معنا د جدیدیت وشاته پراتهٔ ټول روایات

رد کړو او د یوه نوي ثقافت د جوړولو تابیا یې وکړه، ولې چې د دې نولسمې پېړۍ په دغه دور کې دنیا له نوي صنعتي انقلاب سره مخامخ شوه، په بخار (بهاپ) باندې د چلېدونکي انجن له کبله د رېل ګاډۍ او د کارخانو د مشینانو د چلولو کار پیل شو او له کارخانو سره سم د مصنوعاتو (شیانو) د جوړولو ابتدا وشوه، چې مصرف یې نه یوائې سرمایه دارانه نظام ته وده ورکړه، بلکې د دې مصنوعاتو استعمال له ځان سره خپل قدرونه هم راوړو، ځکه په هغه وخت کې داسې رجحانات را مخته شوو چې هغه پر فن، ادب، فلسفه او نورو علمي وسایلو باندې هم اغېز واچولو، که څه هم دې جدیدیت د انساني ژوند پر هر اړخ باندې خپل اثرات واچولو خو دا په حیث د یو تحریك په علمي سطح باندې زیات مبحث شو، ځکه خو له روایت څخه انحراف ته جدیدیت وویل شو، ولې چې انساني ژوند او د نوؤ ایجادونو په اړه له نوؤ حالاتو سره مخامخ شو.

په ادبي توګه تر جدیدیت وړاندې د رومانویت دورؤ، چې زور یې پر دغه خبره ؤ، چې په فن کې ذاتي تجربه اهمه ده او فطرت د یو مهم موضوع په توګه د فن معیار د ی، له دې سره سره رومانویت د اظهار د انقلابي طرز او د فرد د ازادۍ خبره کوله، او دا ټول د ادبي روایت برخه وؤ، خو د جدیدیت د ساینسي پر مختګ او د هر ایجاد او ساینسي نظریې تر شا د منطق او وجوهاتو پلټنه انسان په بنیادي توګه له فطرت (چې په روحاني توګه تر خدایه د رسېدو اظهار ؤ) څخه د لیرې کولو موجب وګرځېده، ولې چې په فطرت او د فطرت په مظهراتو کې د یو ماورائي قوت احساس پټ ؤ، چې په یوه نا یوه توګه یې انسان له روحانیت سره تړلو، ځکه خو جدیدیت د خپل ساینسي پر مختګ په اډانه له روایت څخه انکار وکړو، تر دې

وړانــدې د ډارون د ارتقــاء نظريــې وړومبــی لا د فطــرت او مــذهب تعلــق چېلنج کړی ؤ، ځکه خو و جدیدیت ته د قبولیت سند ور په برخه شو.
د جدیــدیت تــر ابتــدا لــه مخــه د ۱۸۷۰ء پــهٔ شــا او خــوا کــې دا ســوچ موجــودؤ، چــې تــاریخ او تهــذیب پــه فطــري توګــه مترقــي دي، خــو د جدیدیت لـه ابتـدا سـره دا نقطـه نظـر هـم پـه زد کـې راغلـو او پـر دې هـم ســوالونه را اوچــت کــړل شــوؤ. جدیــدیت، مترقــي تــاریخ، ثقافــت او روایتــي او ســماجي هیئتونــه د ترقــي پــه لاره کــې خنــډ وګڼلــو، ځکــه یــې پــر لیکوالــو او دانــشورانو بانــدې زور واچولــو چــې هغــوی دې روایــت یـوې خواتـه کـړي او لـه دې دې ځـان خـلاص کـړي، ولـې چـې پـه روایـت کـې د روشـن خیـالي پیـدا کولـو هڅـې عبث دي، یعنـي جدیـدیت د یـوې داسي ترقـي خبـره مـخ پـه وړانـدې بوتلـه چـې هغـه نـه یـوائې د ساینس د ایجـادونو پــه شــکل کــې د انــسان مــادي ژونــد مــخ پــه وړانــدې بــوزي، بلکـې د ترقـي دا تـصور هـر هغـه علمـي او ادبـي موضـوع وګرځـي چـې د انـسان د ازادۍ او تـړولنیز بـدلون خبـره کـوي، خـو دا خبـره لکـه چـې مـا وړانـدې وویـل، ځکـه سـمه ده چـې انـسان لـه فطرت،فطـري مظهراتـو او د دې تـر شـا لـه مـاورائي قـوت ځخـه لیـري کـړي، ولـې چـې د جدیـدیت د مـادي ترقـي دپـاره دا ضـروري ؤ، چـې د انـسان توجـه دې د هغـه د مـادي ضـرورتونو او د دې د پـوره کولـو دپـاره د مـصنوعاتو تـر مـصرف پـوري محـدوده وسـاتي، ځکـه خـو هغـه وخـت هـم ځنـې مفکرینـو او دانـشورانو دا خبـره راپورتـه کـړه، چـې د جدیـدیت دا زیاتېـدونکې ترقـي بـه خلـک لــه تنهــایي (Isolation) ســره مخــامخ کــړي او خلــک بــه لــه تــړولنیز معمولاتــو او قــدرونو ځخــه لیــري کــړي، خــو د دې دانــشورانو ودې نقطـه نظـر تـه چـا غـوږ ونـه نیـو او د جدیـدیت د ترقـي تـصور مـخ پـه وړانـدې روان ؤ، هـن تـر دا چـې اول نړیـوال جنـګ نـړۍ لـه نـوي تباهـي سـره مخـامخ کـړه، بـې شـمېره انسانان د دې مـادي ترقـي او د دې جدیـد جنـګ

لـه کبلـه پـه حـق ورسـېدل خـو بیـا هـم جدیـدیت چیـري ونـه درېـدو، د ۱۹۲۰ء پـه لـسیزه کـي د ګـاډي، هـوايي جهـاز او ټیلـي وژن ایجـادونو لـه کبلـه جدیـدیت پـسندو دا دعـوه وکـړه چـي اوس بـه خلـګ نـه یـوا ځي لـه دې ایجـادونو سـره خپـل عادتونـه بـدلوي بلکـې خپـل بنیـادي، جمالیـاتي حِس به هم بدلوي.

د جدیـدیت تحریـك د نړیـوال جنـګ د تباهیـانو پـه یـورپ کـي د معاشـي بحـران، د سـوویت انقـلاب او داسـي لـه رجحـان نـه بې پـروا مـخ پـه وړانـدې روانؤ، او د دې پـه نتیجـه کـي ټـولنیز علـوم، فنـونِ لطیفـه، معاشـیات او د منـډې پـر هـر اړخ بانـدې د جدیـدیت ټینـګ اثـرات پرېوتلـو، پـه ادبـي اړه د جدیدیت په خصوصیاتو کي دا لاندیني نکتې ډېري اهمې دي.

(1) لـه روایـت څخـه قطـع تعلـق یعنـي چـي څـه وشـو هغـه وشـو، زمـوږ روایـت اوس مـوږ تـه هغـه څـه نـه شـي راکـولای، چـي هغـه دې انـساني ژونـد، د اظهـار قـوت، تخیـل او علـم نـور منـور کـړي، ځکـه لـه داسـي روایت څخه خپل تړون پرې کول او له جدیدیت سره تړل په کار دي.

(2) د انـسان او کاینـات پـه اړه او دې تـه د ګټـي رسـولو پـه اړه د نـوي او تـازه لارو لټـون پـه کـار دی، ولـې چـي هغـه انـسان تـه یـو خوشـحاله ژونـد ورکـوي او پـه کاینـات کـې د موجـودو وسـایلو د استحـصال لـه لاري دا ګټه ممکنه کېدای شي.

(3) پــه هیئـت او اسـټایل کـي نـوې تجربـې پـه کـار دي، ولـې چـي موجوده هیئـت او اسـټایل د اظهـار دپـاره ناکـافي دی، یعنـي پـه بلـه معنـا د جدیـدیت تـر معـانې او موضـوع و ژبـې، اسـلوب او ټیکنیـك تـه زیـات اهمیت ورکړو.

(4) د نامیاتي (Organic) پر ځای د (Fragmentation) ضرورت دی، د رومانویت او د وکتورین درو نامیاتي نظریې اوس بېکاره دي.

په دې څلورو مهمو خصوصیاتو کې یوې خوا ته انسان له خپلو روایاتو د رالیري کولو مقصدیت ؤ، نو بلې خوا ته انسان له روحاني ضرورتونو څخه هم را لیري کول پټ ؤ او له دې سره سره په ادبي اړه د هغه وخت د هیئت او اسټایل د ناکافي ګڼلو تر شا د داسې هیئتونو او سټایل د معرفي کولو مقصدیت ؤ، چې هغه مجردوي او په اسانه څوک په ونه پوهیږي، ولې چې تر دې وړاندې په ادبي اړه زور پر دې خبره ؤ، چې لیکوال د ذاتي تجربې له لاري له فطرته سره خپل تړون بیان کړي او هغه یو انقلابي اظهار وکړي. د دې اظهار دپاره چې د نظم او نثر کوم هیئتونه خپل کړل شوي ؤ، هغه د خپل ساده بیان او اسټایل له کبله خپل مقصد په ډېره اسانه توګه لوستونکو ته رسولو او په هغه کې لویه خاصه د فرد ازادي وه، له دې پرته په جدیدیت کې د فرد د ازادۍ خبره نه ځايېدله ولې چې د افرادو ازادۍ هغوی د اجتماعي ازادۍ پر خو بیایي چې دا صورتِ حال په هیڅ توګه هم و جدیدیت ته قبول نه ؤ.

تاریخ هم موږ ته دا را ښیي چې د یورپي نشاة الثانیه چې څنګه په نړۍ کې د نو آبادیانو و جوړولو ته جواز ورکړو نو جدیدیت و دې نو آبادیت ته د ودي منطقي جواز هم ورکړ، خو چې چرته د انسانانو د مهذب جوړولو منطق په نوآبادیانو کې د ځایي خلکو او قامونو د ازادۍ د مبارزې له وجې پیکه شو، نو هلته د جدیدیت د ترقۍ په نوم و نوابادیت ته له نوي سره دوام ورکړل شو، ځکه زۀ جدیدیت

یو اځي ادبي تحریك نه ګڼم بلکې دا یو تهذیبي، معاشي، سماجي او سیاسي تحریكؤ چې له مغرب را شروع شو او تر مونږ را ورسېدو او نه یواځي یې زمونږ پر ادبي محرکاتو باندي اثر واچولو بلکې په تهذیبي، معاشي، سماجي او په سیاسي توګه یې زمونږ رنګه د نام نهاده دریمې نړۍ خلګ د نوآبادیت له جابرانه او ظالمانه عمل سره مخامخ کړو او هم د دې جنون له کبله د نړۍ بې شمېره انسانان په دویم نړیوال جنګ کي له ژونده محروم او پاته در په دره شوو.

مابعد جدیدیت: ابتدا، ارتقاء او اثرات - (د ۱۹۴۵ء د لسیزي بیا تر اوسه)

د جدیدیت پس د مابعد جدیدیت ذکر د نن په علمي میدان کي ډېر کیږي.که څوك د ادب خبره کوي، که د بل څه فن، د فلسفې ذکر وي او که د څه نظریې، سیاسي مکالمه وي او که معاشي ډسکورس، که د علمِ عمرانیات خبره وي او که د بشریات، مابعد جدیدیت د یوه بنیادي موضوع په اړه تر بحث لاندي راځي. د جدیدیت رنګه د مابعد جدیدیت د ابتدا په اړه هم اختلاف موجود دی، ځیني مفکرین د دویم نړیوال جنګ پس زمانه د مابعد جدیدیت ابتدا ګڼي او ځیني بیا د ۱۹۴۰ء د لسیزي شا او خوایي ابتدا ګڼي لکه څنګه چي د مابعد جدیدیت له اصطلاح څخه څرګندیږي چي دا د جدیدیت وروسته دور دی، په دې اصطلاح کې د "جدیدیت" توري له ګډون څخه ځیني خلګ دا هم معنا اخلي چي مابعد جدیدیت دجدیدیت تسلسل دی، خو اکثره مفکرین له دې سره اختلاف لري او وایي چي "جدیدیت" له جدیدیت څخه بالکل یو جلا دور دی. په دې نکته کي هم اختلاف موجود دی، چي مابعد جدیدیت" جدیدیت یو مخ رد کوي، خو ځیني مفکرین د دې خبري منلو ته تیار نه دي، هم دغه رنګه د مابعد جدیدیت د ابتدا، تعریف او حیثیت په اړه دومره اختلافات مونږ ته دا را ښیي، چي دا څومره اختلافي موضوع دی، خو دا موضوع چي څومره

اختلافي دی، هم دومره زیات تر بحث لاندي راځي، ځکه ددې څه جامع تعریف ممکن نه دی، خو شاید موږ ته دلیوتار دا خبره معنا ولري چي مابعد جدیدیت یو حالت دی، یو داسي حالت چي په هغه کي تر ټولو غټ بدلون د علمِ (Knowledge) په نوعیت کي راغلی دی، د ګوپي چند نارنګ په قول په دې اړه لیوتار د مابعد جدیدیت دا لاندیني خصوصیات په خاص توګه رامخته کوي.

(1) لـه تېـرو پنځـوس، شـپېتو کلونـو راهیـسي پـه سـاینس او ټیکنـالوجي کـي د ژبـي د نظـر یـو ډېـر لـوی اثـر پـروت دی، ولـي چـي کمپیـوټر د برقیـاتي ذهـن دپـاره ژبـه جـوړول، پـه دې ژبـه کـي معلومـات را غونـډول او لټـول د مختلفونـو کـارونو دپـاره جـلا- جـلا پروګرامونـه جـوړول او د دې صـنعتي پیـداوار مـشیني ژبـه او مـشیني ژبـاړه، د معلومـاتو ذخیـره او پـه نـورو داسـي کـارونوکي د ژبـي کـردار مرکـزي دی.

(2) پـه برقیـاتي ټیکنـالوجي کـي چـي کومـه لویـه تبـدیلي راغلـې ده، د هغـې پـس اوس علـم پـه خپلـه د ځـان خپـل جـواز نـه دی، بلکـې علـم پـه مکملـه توګـه د کمرشـل قوتونـو پـه لاس کـي دی، علـم اوس د شخـصیت حـصه نـهٔ بلکـې د منـډی مـال دی، چـي څرنګـه خرڅېـدای او اخیـستل کېدای شي.

(3) چي څنګه- څنګه نړی پـه مابعـد جدیـد دور کـي داخلیـږي نـو د علـم هغـه برخـه چـي د کمپیـوټر او برقیـاتي ټیکنـالوجي نـه نـهٔ هـضم کېـږي، هغـه بـه ورکیـږي او د ماضـي برخـه بـه جـوړیږي . اول بـه خلګـو علـم د دې دپـاره لټولـو، چـي خپـل ذهـن او شخـصیت پـرې ښایـسته کـړي، اوس بـه علـم یـواځي د دې دپـاره پیـدا کیـږي چـي د منډی د معیـشت پـه دور کـي لـه دې

ځنګه ګټه پورته کړل شي او یا د طاقت د هتیار په توګه په کار را وستل شي.

د دویم نړیوال جنګ وروسته دنیا په یوه نوي دور کې داخله شوه، په یوه داسي دور کي چي هغه د "ایټم بم" په سایه کې پر مخ تله او بلي خواته یې د برقیاتي ټیکنالوجي پر مختګ او بیا د کمپیوټر ایجاد که یوې خواته د انټرنېټ له لاري سره را نژدې کول پیل کړه، نو دربیمې خواته یې د کوچنیو قامونو د وسایلو د استحصال عمل هم تېز کړو. د دنیا معیشت د یو څو کثیرالقومي کمپنیانو تر لاس لاندي راغلو، نوي نظریې را منځ ته شوې، په سیاسي، سماجي، معاشي، مذهبي او ثقافتي سطح باندي هر ځای دومره په تېزي سره بدلون راتلو چي د انسانانو ذهن لا نه پسې رسېدو، په دې ټولو حالاتو کي یوې خواته د ترقي عمل تېز کړو نو بلي خواته یې خلک د ذات له یو شدید بحران سره مخامخ کړو، ټولي فلسفې، ټولي نظریې او ټولي علمي مباحثې د مابعد جدیدیت ورد شورو کړو، خو دا ټولي مکالمي لا تراوسه په پوره نتیجه نه دي رسېدلې، چي د مابعد جدیدیت یو جامع تعریف وکړي، "ګوپي چند نارنګ" مابعد یوه ذهني رویه بولي او د تخلیقي ازادۍ ،ثقافتي تشخص د معاني له فرسوده تعریفونو ځخه د ازادۍ کوشش یې ګڼي او دا وایي چي: " مابعد جدیدیت په هر قسم اټل حقیقت باندي له نوي سره د غور کولو او پر دې باندي د سوالونو د راپورته کولو کوشش دی". ګوپي چند نارنګ وایي چي: " د مابعد جدیدیت له لوري متن د حقیقت عکس نه دی، بلکې د حقیقت د تخلیق کوشش دی". دا حوالې موږ ته دا راښیي چي مابعد جدیدیت د هم دې دور له دؤو لویو ادبي نظریو

"ساختيات او پسِ ساختيات" سره تړون لري او ځيني مفكرين خو پسِ ساختيات او مابعد جديديت يو ګڼي.

كه څه هم په ادبي اړه مابعد جديديت د تخليق د ازادۍ او متنوع كېدو خبره كوي او د كليت پسندي پر ځاى د عدم مركزيت خبره كوي، خو له دې څخه هم انكار نه شي كېداى چې پرنړيواله سطح باندي د مابعد جديديت دور يو داسي دور دى چرته چي د سائبرسپېس له لاري ثقافتونه، معيشتونه او هېوادونه كنټرول كيږي، په دې دور كې په زرګونو ميل ليري ناست يو انسان د ماؤس په يوه كلك باندي د بل هېواد روغ معيشت له تباهۍ سره مخامخ كولى شي، هم دغسي د دې دور د برقياتي مېډيا له لاري د زرګونو ميل ليري ثقافتي ننداري د ځايي ثقافتونو شكلونه بدلوي، نو دا خبره بې ځايه ښكاري چې په مابعد جديديت كې د ځايي (مقامي) ثقافت او تهذيب خبره ده، بلكې دا مابعد جديديت خو پر دې خبره ټينګار كوي، چې هره زمانه د خپل وخت ثقافتي صداقتونه پخپله جوړوي، ځكه څه يو صداقت، يو حقيقت د هري زمانې او هر وخت دپاره مناسب نه شي كېداى، د وهاب اشرفي په خيال هم دغه د عقيدو تر ميان د اختلاف وجه هم ده.

مابعد جديديت پر دې خبره پوخ يقين لري چي حقيقت او صداقت جوړ او تيار نه دي بلكې پيدا كيږي، له مابعد جديديت سره د مذهبي دانشورانو او صوفيانو بنيادي اختلاف هم پر دې نكته باندي دى، چې مابعد جديديت هيڅ يو موجود حقيقت نه مني بلكې وايي چې حقيقت جوړيږي او هره زمانه خپل حقيقت په خپله جوړوي، د مذهبي دانشورانو او صوفيانو په خيال د مابعد

جدیـدیت دا رویـه د الله تعـالی لـه ذات، چـي یـو اټـل حقیقـت دی، انکـار دی، هم دغسي رویه جدیدیت له مذهب سره ساتلې وه.

کـه د جدیـدیت پـه دور کـې د مـصنوعاتو پـر پیـداوار بانـدي زور ؤ نـو پـه مابعـد جدیـدیت دور کـي د دې مـصنوعاتو دپـاره د نـوي- نـوي منـډیانو پـر پیـدا کولـو بانـدي ټینګـار دی، ځکـه خـو پـه دې دور کـي یـو اځي هغـه شـی مهـم دی چـي خرڅېـدای او پـه بیـه اخیـستل کېـدای شـي، پـه دې کمرشـل دور کـې ادب، فـن، انـساني جـذبات او علـم هـم خرڅـول او اخیـستل کیـږي بلکـې اوس خـو د کمپیـوټر لـه لاري د علـم جـوړول او بیـا د مـادي ګټـې دپـاره پـه کـارول اوس یـوه ډېـره عامـه خبـره ده، ځکـه دا مابعـد جدیـدیت دور هـم د جدیـدیت پـه رنګـه د دې کاینـات تـر ټولـو مهـم عنـصر یعنـي انـساني هـم د مـصنوعاتو پـه توګـه پـه کـار راولي.

## د جدیدیت او مابعد جدیدیت مقایسه

کـه څـه هـم پورتـه ذکـر شـوی صـورتحال مـوږ تـه د جدیـدیت او مابعـد جدیـدیت یـو لنـډ غونـدي پسِ منظـر وړانـدي کـوي او تـر څـه حـده پـوري مـوږ پـه دې نتیجـه رسـوي چـي کـه څـه هـم د جدیـدیت او مابعـد جدیـدیت د طریقـه کـار، وضـع قطـع او حکمـت عملـي پـه اړه لـه یـوه بـل څخـه څـه جـلا ښـکاري خـو د مقـصد پـه اړه تـر ډېـره حـده دواړه یـو دي، خـو دلتـه بیـا هـم زه غـواړم چـي ځینـي خـصوصیات یـا عناصـر داسـي وړانـدي کـړم چي د هغه له لاري د جدیدیت او مابعد جدیدیت څه مقایسه وکړو.

جدیـدیت د مـذهب پـر ځـای عقلیـت پـسندي، د اجتماعیـت پـر ځـای انفرادیـت، د روحانیـت پـر ځـای مادیـت، د مابعـد الطبعیـاتي پـر ځـای

ساینسي ترقي ته زیات ترجیح ورکړه، لاکن مابعد جدیدیت د تاریخ پر ځای د ثقافتي مطالعې ته زیات اهمیت ورکړود دې دواړو د ځني خصوصیاتو په اړه نوره مقایسه موږ په لاندیني کرښو کې څه داسي کولای شو.

## جدیدیت

(1) له مادي صداقت څخه انحراف او د مجرد ثقافت تکل.
(2) د ۱۹۲۰ او ۱۹۳۰ء اعلی جدیدیت، پر سیاسي فکر اغېز
(3) بېنګانګي، له ساینسي او منطقي لارو معاني سنجیدی او پیدا کېدای شي.
(4) تسلط او ترقي، ماضي پر حال او مستقبل باندي اثر اچوي.
(5) کمیت پسندي، آفاقیت.
(6) د فن او ساینس کارونه موږ له صداقت سره اشنا کوي.
(7) یوائي اعلیٰ ثقافت د مطالعې وړ دی.
(8) ساینس، منطق او عقلیت زیات مهم دی.
(9) لویې ساینسي نظریې او مرکزیت.
(10) فن د ثقافت د تحفظ پر ځای د ثقافت تخلیق کوي.
(11) فن د سرمایه دارانه نظام مخالفت کوي.
(12) د ښه او بد تمیز او د فن تنقید ارزښت لري.

## مابعد جدیدیت.

(1) په نړۍ کې هیڅ اټل صداقت نه شته چي هغه په ټول کاینات کې و منل شي.
(2) هیڅ قطعي صداقت نه شته، هر شی له بل شي سره په تعلق کې کتل کېدای شي

(3) متن: نړۍ په خپله د متن او مباحث پرېماني ده.
(4) مستقبل غیر یقیني دی، ماضي یوائې متن دی، موږ له ماضي زده کړه نه شو کوای، موږ یوائې په حال کې او سېدای شو.
(5) مقامیت او تنوع.
(6) د فن او ساینس کارونه یوائې متن دی چې په خپله په خپل ځان کې سنجول کېدای شي.
(7) هرڅه پاپولر کلچر دی او د مطالعې وړ دی.
(8) ساینس د جوړېدو لوبه ده نه چې د دریافت کېدو.
(9) کوچني سیاسي کوششونه او لا مرکزیت.
(10) فن د مختلفه طرزونو او استایل نمونه ده.
(11) فن د سرمایه دارانه نظام دپاره دی.
(12) هرڅه Relative دی ښه او بد هیڅ نه شته.

دا مقایسه د انساني ژوند د ځني اړخونو په اړه موږ ته د جدیدیت خصوصیات راښیي، خو دا خبره په پام کې ساتل په کار ده چې که جدیدیت موږ د یو مجرد صداقت پر خوا بیایي نو مابعد جدیدیت هیڅ اټل حقیقت نه مني، په دواړو صورتونو کې دا د مذهب پر حقیقت او د فطرت پر صداقت باندې نه یوائې سوالونه پورته کوي، بلکې یو رنګه یو مخ انکار ځني کوي، هم دغه رنګه که چیري جدیدیت فن د ثقافت د امین پر ځای د نوي ثقافت د تخلیق لاره ګڼي نو مابعد جدیدیت فن ته یوائې د استایل نمونه وایي، چې په دواړو حوالو یې له انساني ژوند سره ډېر کمزور تړون پیدا کوي، که چیري موږ په سیاسي توګه دا منو چې جدیدیت د لویو سیاسي نظریو خبره کوي، او مابعد جدیدیت د کوچني سیاسي کوششونو ذکر کوي، نو دلته له لویې سیاسي نظریو څخه مراد د سرمایه دارانه

نظــام نظریــه، د مغربــي طــرزِ جمهوریــت او ازادۍ ســوچ دی، چــي د عــامو خلکــو یــوه لویــه برخــه د دې لــوبي لــه کبلــه لــه سیاســي میــدان څخــه لیــري ســاتي، او هــم دا رنګــه لــه لامرکزیــت او کــوچني سیاســي کوشــشونو څخــه مــراد خلــک پــر خپلــو وړو وړو مــسئلو پــوري محــدود کــول دي، چــي دا بــذاتِ خــود یــو غیــر سیاســي عمــل دی، چــي عــام اولــس لــه لویــو سیاســي ناانــصافیانو او استحــصالي ظلمونــو لــه ســنجولو او د دې خلاف د آواز پورته کولو څخه را ژغوري.

## جدیدیت، مابعد جدیدیت او پښتو ادب

کــه مــوږ د اردو ادب پــه اړه خبــره وکــړو نــو بــه دا څرګنــده شــي، چــي بقــولِ ګــوپي چنــد نارنــګ پــه اردو ادب کــې جدیــدیت د ترقــي پــسند تحریــك پــر ضــد پــه وجــود کــي راغلــئ، کــه ترقــي پــسندي د سیاســي ســوچ خبــره کولــه نــو جدیــدیت ادب لــه هــر قــسم نظریــو څخــه د خــالي او خــالص ســاتلو خبــره کولــه، کــه څــه هــم پــه پاکــستان کــي پــه اردو ادب کــي او بیــا لــه دې لاري پــه پــښتو ادب کــي جدیــدیت د غیــر سیاســي کېــدو اعــلان کولــو خــو زمــا پــه خیــال چــي څنــګه جدیــدیت پــه نړیوالــه ســطح بانــدي د غیــر سیاســي کېــدو پــه بڼــه کــي یــو بــشپړ سیاســي کــردار لوبولــو او د ســرمایه دارانــه نظــام د پــاره یــې لاري پرانــستې، هــم دغــه رنګــه پــه اردو او پــښتو ادب کــي جدیــدیت د غیــر سیاســي کېــدو مقــصد بــذاتِ خــود سیاســي ؤ، چــي نــه یــواځي د ترقــي پــسندي د اشــتراکي نظریــې لاره ونیــسي بلکــې پــه ادبــي بڼــه کــې هــر هغــه صــلاحیت خــتم کــړي چــي هغــه و خلکــو تــه د څــه ازادۍ یــا د حــق خبــره رســوي، ځکــه خــو د جدیــدیت لویــه کامیــابي پــه ادب کــې د تجریــدیت خورونــه ده، چــي زمــا رنګــه خلــک نــه پــرې پــوهیږي او نــه تــرې خونــد اخستــی شــي، د جدیــدیت

له لاري په هيئت او اسلوب کې د ناشونو تجربو زما په خيال نه څه مقصد شته او نه څه معنا شته.

که چيري موږ لږ شاته تاريخ وګورو نو به څرګنده شي، چې د ۱۸۵۷ء د برِصغير د ازادۍ د جنګ پس سر سيد هغه وخت لا په برصغير کې د جديديت د تحريك اغاز کړی ؤ، د دې تحريك مقصد د برصغير و مسلمانانو ته د انګرېزانو د جديد تعليم د حاصلولو او د انګريزي حکومت د برخه جوړېدلو ترغيب ورکول ؤ، که څه هم د پاکستان په تحريك کې د سر سيد تحريك ته ډېر ارزښت ورکول کيږي خو تجزيه موږ ته دا راښيي چې دا تحريك په اصل کې مسلمانان د دې د پاره تيارولو چې هغه نه يوائې د جديديت برخه شي، بلکې د انګريزي حکومت د نوکرانو په طور د هغوی و قبضې او نوآباديت ته نوره وده ورکړي، ګوا يو رنګه د جديد تعليم او د جديديت په بڼه کې د برصغير و غلامۍ ته دوام ورکول ؤ، هم د سر سيد دغه تحريك پر ادبي سطح باندي هم يو رنګه اغېز پيدا کړو، له دې پس د مولانا حالي ادبي کاوشونه په اردو ادب کې د جديديت په اولنيو کوششونو کې شمېرل کيږي، خو دا خبره پر خپل ځای زياته مناسبه ښکاري چې په پاکستان کې په ادبي سطح باندي جديديت د ترقي پسندي په خلاف زيات جوت راښکاره شو او هم دغسي په پښتو ادب کې هم له دغه لاري د ترقي پسندي او جديديت تحريك را داخل شو.

که څه هم دا دواړه تحريکونه د پاکستان تر جوړېدو له مخه لا زموږ په ادب نتوتی وو، ځکه دا دواړه خپله خپله حلقه لري، څوك چې د جديديت علمبرداران وو، هغوی جديد فکر پر مخ وړلو، د

هغوی په فن کې اجنبیت، ذات پرستي، ویره، تنهایي او یاسیت زیات جوت ښکارېدو. او څوك چې د ترقي پسند نظریې ملګري وو، د هغوی په خپلو فنپارو کې یو انقلابي فکر او د انساني ژوند حقیقتونه څرګندولو کوشش کولو. خو زما په خیال په پښتو ادب کې تر ډېره حده دا دواړه تحریکونه کنفیوژډ دي او یا په ځینو لیکوالو کې په یوه وخت دا دواړه رجحانات لیدل کیږي، بلکې که دا ووایم چې زمونږ زیاتره لیکوال د ترقي پسندي او جدیدیت په صحیح روح لا نه دي خبر نو به هم شاید مغالطه نه وي، ولې چې د دې په اړه څه ډېر بحثونه په مخه نه دي راغلي.

د جدیدیت په اړه د پروفیسر ربنواز مایل او د ترقي پسندي په اړه د سلیم راز د ځینو لیکونو علاوه څه داسې مواد تر مونږ نه دی رارسېدلی، چې د جدیدیت او ترقي پسندي بشپړه څېړنه یې کړې وي، خو بهرحال د نورو ډېرو لیکوالو په شاعري، افسانه او نورو لیکونو کې د جدیدیت یا ترقي پسندي آثار ضرور لیدل کیږي. خو زما خیال دا دی چې په دې کې د ځنې لیکوالو علاوه د نورو شعوري کوششونه کم دي، او د دې قبیلې د لیکوالو له لیکونو څخه اخیستی اثر زیات معلومیږي.

دلته ما د جدیدیت او ترقي پسندي د دوو مکتبۀ فکر او نظریو په اړه خبره کړې ده، چې په دې انداز زیات نه دي څېړل شوي، ځکه دا لږ ګرانه خبره ده چې دا وویل شي، چې په پښتو ادب کې د جدیدیت دا بتدا کله وشوه، د دې ارتقایي عمل څنګه د ی او څه اثرات یې پرې ایښي دي، خو دا خبره پر خپل ځای یو حقیقت ده چې د دې دواړو له اثراتو به پښتو ادب خالي نه وي، اوس خو دور د

مابعد جدیدیت د ی که څه هم زموږ لیکوال لا د مابعد جدیدیت د صحیح معنا په لټون دي خو د دې مطلب دا نه د ی چې د مابعد جدیدیت اثرات زموږ په ادبي فنپارو کې نشته، دلته د مثال په توګه ډېر داسې شعرونه او افسانې وړاندې کېدای شي، چې هغه د مابعد جدیدیت له اثراتو ډکې دي، خو دا اثرات د مابعد جدیدیت په اړه د شعوري سنجونې پر ځای د اردو یا نورو ژبو د ادبي فنپارو د مطالعې له لارې راغلي دي، خو دلته دا هم ویلای شو، چې کومې فنپارې تردا اثر لاندې وړاندې شوې دي، هغه تر ډېره حده مجرد او له ابهامه ډکې دي، په دې فنپارو کې داسې علامات، هیئتونه او اسلوب په کار راوستل شوي دي، چې عام فهم نه دي، له دې په پرته چې د پښتو ژبې ادیبانو د خپلې تولنې کوم اړخونه په عام فهم اسلوب کې د خپلو فنپارو موضوع ګرځولي دي هغه لا تراوسه په پښتني کلتور او تهذیب کې دننه دي، چې دا خبره را برسېره کوي، چې لا پښتو ادب د مابعد جدیدیت له بشپړې اغېزې څخه لیرې دی، خو ضرورت دلته د دې خبرې د ی ، چې زموږ لیکوال د جدیدیت او مابعد جدیدیت په صورتحال باندې باید خبر وي، ځکه که د دې صورتحال اثرات په لاشعور توګه د هغو په لیکونو کې راځي نو دا زموږ ادب له انسانانو او د هغو له ژوند څخه نور هم لیرې کولای شي او که چیرې موږ د جدیدیت او مابعد جدیدیت شعوري ادراك ولرو نو کېدای شي، چې موږ خپل ادب د دې له اثراتو څخه لیرې وساتو، ولې چې په خصوصي توګه د مابعد جدیدیت دا دور د انسانیت د بې قدرۍ او له انساني قدرونو څخه د انکار دور د ی ، په دې دور کې انسان او انساني جذبات هم د مصنوعاتو رنګه اخیستل او خرڅېدل کیږي، و دې عمل ته د ګلوبلایزېشن په بڼه کې د حقیقت رنګ ورکول کیږي، هغه

ګلوبلایزېشن چې د لویو قوتونو تر میان د ازاد تجارت د منډې د معیشت لوبه ده، چې په کې هغه هېوادونه بری تر لاسه کولای شي، د چا چې مجموعي قامي پیداوار او وسایل تر نورو زیات وي.

په دې مابعد جدیدیت دور کې که یوې خواته د مېډیا له لارې د اشتهارونو په ذریعه و صارفیت ته دوام ورکول کېږي، نو هم د دغه مېډیا له لارې د طاقتور په حق کې د عامو خلکو رای هم خلق کېږي چې په مکمله توګه د عامو خلکو د سیاسي کردار زوال دی، هم د دغه مابعد جدیدیت دور له کبله عام خلک د خپل بشپړه سیاسي کردار، علمي برخې، مذهبي عقیدو، روحاني قدرونو او تهذیبي شناخت څخه لیرې کېږي.

زما ذاتي خیال دا دی، چې جدیدیت دی او که مابعد جدیدیت دی، دې دواړو په اصل کې ادب او ادبي بحث دومره کړکېچن کړی دی، چې پخپله لیکوال لا په ډېر مشکل د دې و حقیقت ته رسیږي، دغه بحث د ادب دایره هم یوائې تر لیکوالو پورې را رسولې ده او عام لوستونکی یې له دې بحث څخه ډېر لیرې کړي دي، زما په خیال دلته یوائې عام لوستونکی نه دي لیرې کړل شوي بلکې ادب یې هم د انساني ژوند، ضرورتونو، جذباتو او احساساتو څخه تر ډېره حده لیرې کړی دی، ولې چې په ادب کې د جدیدیت، مابعد جدیدیت، ساختیات، پسِ ساختیات، تعمیریت، لا تعمیریت، اثباتیت، وجودیت او دا رنګه نورو بې شمېره مباحثو پورې محدود کړل شوی دی، چې د دې سنجونه د یو عام لوستونکي د وس خبره نه ده او نه عام لوستونکی له دغه مباحثو سره خپل څه تعلق لرلای شي، ځکه خو پر دې باندې یوائې ادب پوهان خبره کوي او نور ادب لیکونکي یې

لـولي.زه دا نــه وایــم چــي زمــوږ لیکــوال دي د دې تحریکونــو د بحــث برخــه نــه جــوړیږي زمــا مطلــب دلتــه یــوائې دا د ی چــي مــوږ د دې تحریکونــو بــشپړ جــاج واخلــو ، دا یــوائې ادبــي تحریکونــه نــه وګڼــو ، بلکــې د دې تجزیــه پــه ټــولنیزه او هــر اړخیــزه توګــه وکــړو ، د دې پــه مـضمراتو ، ښـه او بـد اثراتـو بانـدي نـه یـوائې ځـان خبـر کـړو ، بلکـې پـه ډېـرو اسـانو ټکـو کـې یـې تـر خپلـو لوسـتونکو پـوري هـم ورسـوو او بیـا پـه خپلـه شـاعري، افـسانه، نـاول او ډرامـو کـې د دې د پرچـار پـر ځـای او یـا د دې د اثراتــو د پــرمخ وړلــو پــر ځــای لــه نــوي سـره د ادب او ژونـد تعلـق د خپـل تهـذیبي، مـذهبي او روحـاني تـشخص او قـدرونو سـره سـم مخ په وړاندي یوسو.

۳۰ جنوري ۲۰۰۷ء

کتابیات

1- ادب کا بدلتا منظرنامه- اردو مابعد جدیدیت پر مکالمه
ګوپي چند نارنګ
2- مابعد جدیدیت: مضمرات و ممکنات-- وهاب اشرفي
3- انګریزي ادب کی مختصر تاریخ .. ډاکټر محمد يٰسین
4- ادب، کلچر اور مسائل ...... ډاکټر جمیل جالي
5- نئي تنقید .. ډاکټر جمیل جالي
6- ادب تنقید او فکر ... پروفیسر ربنواز مایل
7- تنقیدي کرښي .. سلیم راز
8- د انټرنیټ ځیني پاڼي

# اوسنی پښتو ادب د طالبا نائزېشن تر اثر لاندي

نــن صــبا بیــا پــښتون قــام او پــښتني ټولنــه د تــاریخ تــر داســي ازمېــښتونو تېرېــږي، چــي نتیجــه یــې د پرمختــګ پــه ځــای ببرتــه شــاته راتلــل دي، پــښتانه یــو وار بیــا د نړیوالــو قوتونــو د سیاســي لــوبي د یــوه مهــم ګټــې (مهــره) پــه توګــه پــه کــار راوســتل کیــږي، لکــه څنګــه چــي د ۱۹۸۰ء پــه لــسیزي کــي لــه زیــاتره پــښتنو څخــه د مجاهــدینو کــار واخــستل ســو، او د هغــوی پــه مــدد ســوړ جنــګ وګټــل ســو، هــم دغــه رنګــه د ۱۹۹۰ء پــه لــسیزه کــي هــم هغــه پــښتانه یــو وار بیــا د طالبــانو د تحریــك پــه شــکل کــي راپورتــه کــړل شــو او نــن هغــه پــه ښــکاره خــو د امریکــا نائزېــشن د دښــمن خــو پــه پټــه هــم د هغــه د سیاســي او معاشــي نړیــوالي لــوبي تــه وده ورکــوي، دا خبــره نــن لــه مختلــو لارو څخــه ســپینه شــوې ده، چــي کلــه د ســوړ جنــګ د خــاتمې او د اشــتراکیت پــه شــکل کــي د غــرب د ســرمایه دارانــه نظــام دښــمن وپــای تــه ورســېدی، نــو هغــه وخــت غــرب د بنیــاد پرســتۍ او ترهګــرۍ پــه شــکل کــي د طالبــانو پــه نــوم خپــل نــوی دښــمن تخلیــق کــړو، او چــونکې پــښتانه زیــات عقیــده پرســت او پــر خپــل مــذهب ټینــګ خلــګ وو، نــو ځکــه د طالبــانو تخلیــق د پــښتنو پــه میان کي وشو.

نــن د افغانــستان، جنــوبي او ســهېلي پــښتونخوا ټولــه ســیمه یــو وار بیــا د طالبــا نائزېــشن تــر عمــل تیریــږي، نــن هــر هغــه ځــای تــه، چــي چیــري

پښتانه او سیږي، د بنیاد پرستۍ او ترهګرۍ مرکز ویل کیږي او داسې ځکه کیږي چې په دې سیمو کې یو وار بیا د کټر طالبانو په شکل کې ځینې قوتونو ناروا عملیات پیل کړي دي، په دې پښتنې سیمو کې په ټنګ ټکور کې د خپلو خوشحالیانو له لمانځلو ځخه خلک وېریږي، دلته د انجونو اسکولونه په بمونو الوزول کیږي، د موسیقۍ دکانونو ته اور اچول کیږي، له ګاډیانو څخه په لارو ټیپونه او کېسټونه غورځول کیږي، و زنانو ته په چادري (برقع) کې د راوتلو او نارینوو ته د ږیري نه خرییلو د همکیاني ورکول کیږي، ځانمرګي بریدونه عام دي، د پښتنو پر سیمه هر وخت د طالبانو او ترهګرو په ضد بمونه غورځول کیږي، مدرسې د خود رو ځنګلي بوټو په رنګه خوریږي، نن که په پاکستان کې هر ځای څه ورانې جوړیږي، نو هغه په پښتنو پوري تړل کیږي، نن که هر څومره ځانمرګي بریدونه دي او که په اسلام آباد کې د ځینو مدرسو له خوا وړاندې کېدونکي ډرامه ده، هر ځانمرګی برید کوونکی پښتون ثابتیږي او هم د دغه مدرسو طالبان او طالباني له پښتونخوا ځخه راغلي شمېرل کیږي.

دې ټولو عملیاتو په نړۍ کې د پښتون قام امېج د یوه بنیاد پرسته او ترهګر قام په حیث خور کړی دی، دا ټول هغه عملیات دي، چې نن یې پښتون قام او ټولنه له لویو چېلنجونو سره مخامخ کړې ده، نن که یوې خوا ته په نړۍ کې د پښتون قام د صحیح امېج مسئله ده نو بلې خوا ته په پښتني ټولنه کې دننه دې بنیاد پرستانه عملیاتو پخپله د پښتنو ژوند هم له کشالو سره مخامخ کړی دی.

زه دا خبره بیا کوم چې پښتون قام، پښتني سیمي او ټولنه نن یو واري بیا د طالبا نایزېشن تر عمل تېریږي، او دا خبره زه ځکه کوم چې

د نن طالبان د تحریك په ځای یو رجحان او یوه رویه ده، چې ترې د بنیاد پرستۍ خورونه کیږي، د دې رویې د اسلام له اصل روح او جوهر سره څه تعلق نه شته، بلکې د دې تړون له نړیوالي سیاسي لوبي سره دی، ځکه دا رویه په هر ځای لیدل کیږي، خو په پښتني سیمه کي د دې اغېز ځکه زیات دی، چې و دې رویې ته د اسلام بڼه ورکول کیږي او پښتانه بیا د یو مذهب پرسته قام له کبله له دې رویې زیات متاثره دی.

د طالبا نایزېشن دې عمل د پښتو اوسنی ادب هم متاثره کړی دی او پښتو ادب هم سوکه- سوکه طالبانائزډ کیږي، دا نور هم لوی چېلنج دی، ولې چي زما په خیال په ټولنه کي د ادب کردار ډېر مهم دی، او په نړۍ کي د ادب له لاري انقلابونه هم راغلي دي، ځکه زه دا ګڼم چي په ادب کي د ننه دا طاقت موجود دی، چي هغه پر یوه ټولنه او د هغې پر زیاتره برخو اثر انداز شي، خو له دې سره- سره ادب د ټولني له رجحاناتو څخه هم متاثره کیږي، هم دغه لامل دی، چي نن زموږ په ټولنه کي د طالبانو کوم رجحان روان دی، زموږ ادیب او ادب د هغه له اثره خلاص نه دی، دلته خبره بېرته هغه ده، چي ادب خو د مینې او امن پیغام ورکوي، د دې له بنیادپرستۍ او تشدد سره څه کار. دا سي بنیادپرستۍ چي هغه د نورو خوشحالیاني په اور پوري کوي، لاکن که موږ سترګي پټې نه کړو، نو دا حقیقت به په خپلو سترګو و وینو، چي زموږ په اوسني ادب کي بنیادپرستانه جذبات او احساسات اوس وار په وار زیاتیږي، ولي چي زموږ د ادیبانو یوه لویه برخه د خپل عمر په آخري کلونو کي له تبلیغي عمل او طالبانو څخه زیاته متاثره ښکاره کیږي، ځکه خو اوس زموږ په ځینو ادیبانو او یو کټر لاعلم ملا او طالب کي څه توپیر پاته نه دی، که له طالبانو څخه متاثره خلګ د خپل عمل له لاري او د خپل کم علم او محدود سوچ له کبله د خلګو پر

ذهنونو باندي اثراندازه کیږي، نو ادیب او لیکوال د خپل نظم، غزل یا افساني له لاري هم هغه خبري تر خپلو لوستونکو رسوي، د دې تبلیغي عمل دوه تاوانه ډېر زیات څرګند دي، یو خو دا چي د دې عمل تول زور پر رسمیاتو باندي دی، چي یواځي د لمانځه، په حیث د یو عادت، سره اړه لري، له دې کبله له دې سوچ څخه متاثره خلګ بس د لمانځه له لاري د خپل آخرت د سمولو په نیت له نورو ټولو ذمه واریو څخه لاس واخلي، دویم دا چي تر دې عمل د تېرېدونکو خلګو حمایت د طالبانو له سختي رویې سره شي، دا دواړه عوامل عام خلګ له خپله سیاسي کرداره، چي د ټولنیز انصاف برابري او امن د پاره وي، څخه لیري کوي.

اوس که یوې خوا ته د قام پرسته ګوندونو له خوا د دې عمل مزاحمت ناکافي دی، نو بلي خوا ته د پښتو ادب له خوا خو بېخي داسي مزاحمت د نیشت برابر دی، بلکې زه خو له دا څو کلونو راسي داسي ډېر نظمونه، شعرونه او افسانې په اوسني پښتو ادب کي لولم، چي پر هغه باندي د تبلیغ دفرضي قصو او یا د طالبانو د ترانو د بیان زیات ګمان کیږي، ولي چي په دې تخلیقاتو کي طالبان د ظلم خلاف د استعاري په توګه په کاریږي، چي سړی یواځي دا پیغام ځنې اخلي، چي ګوا هر څوك دي د طالبانو رنګه جوړ شي. ډېري فنپارې د دې تحریکونو د مشرانو ذکر د خلګو د پاره د آئیډیل په توګه کوي، او ډېر شاعران د عراق د تېر ظالم او آمر صدر د مرګ تر تاثر لاندي په دې نظمونه لیکي، چي هغه د ظالم او جابر پر ځای یو قام پرسته سړی ګڼي. زما په خیال په دې اړه د لیکلي شوي تخلیقاتو تر شا یواځي محرك دا دی چي دا شخصیتونه له اسلام سره اړه لري، ځکه یو لیکونکی یواځي د خپلي مسلماني جذبې تر اثر لاندي هغه ټول ظلمونه هېر کړي، چي تاریخ به یې په هیڅ صورت

هېر نه کړي، ځکه په داسي وخت کي زموږ لیکوال هم د طالبانو د رويې ښکارونه کوي، چي د اسلام په نوم او د اسلام په بڼه کي هر ناروا عمل جائز او صحيح ګڼي. دلته زه د مذهبي يا اسلامي ادب په اړه قطعاً خبره نه کوم، د مذهبي او اسلامي ادب خپل يو مهم مقام دی، له هغه څخه انکار نه شي کېدلای، دلته زما مقصد له هغه ادب څخه دی، چي هغه د طالبانایزېشن او بنیادپرستۍ تر اثر لاندي دی، داسي ادب چي په هغه کي طالبان آئیډیل دي،ددې تحریکونو لارښوددوی دپاره د ظلم خلاف د مزاحمت علامتونه دي، او يا د هغه تر شاد دې وخت د دې بنیاد پرسته رويې محرکات موجود دي.

شايد اصل مسئله داده چي زموږ لیکوال په بنیاد پرستۍ، انتهاپسندۍ او اسلامي قدرونو کي د فرق کولو له صلاحیتونو څخه محرومه دي، ځکه هغوی طالبان او د طالبانو رويه، اسلامي قدرونه او د اسلام علمبرداري ګڼي، زموږ هغه لیکوال، چي په خپلو تخلیقاتو کي د دې سوچ پرچار کوي، هغه په اصل کي په خپله ذمه واري يا خو به پوره توګه خبر نه دي او يا بيا له دې ذمه وارۍ څخه د ځان ژغورلو په نيت د اسلام په نوم له بنیادپرستۍ سره ځان تړي، ځکه خو زموږ او سنی ادب سوکه- سوکه د تبليغ او طالبانایزېشن تر اثر لاندي روان دی، زه دلته د مثال په توګه ډېري داسي نمونې وړاندي کولای شم، چي په کي د دې بنیاد پرستانه سوچ پرچار دی، زه د ډېرو داسي افسانه لیکونکو ذکر دلته کولای شم، چي يو وخت يې په خپلو افسانو کي نوي خبري را مختته کولې، خو له تبليغي عمل څخه د واپسي پس د هغوی راغلي کتابونه د دغه عمل رنګه له فرضي قيصو څخه ډك دي، دلته ډېر لوی او ښه شاعران هم يادېدلای شي، چي يو وخت يې د پښتو په شاعري کي ډېره لويه

برخــه درلــوده، خــو د هغــو اوســنۍ شــاعري د بنیــاد پرســتۍ او طالبانایزېشن لـه اثـره څخـه ډکـه ده، خـو د څـه مـصلحتونو لـه کبلـه د داسـي لیکـوال پېژندنـه پـر لوسـتونکو پرېـږدم، زه یـواځي دا ویـل غـوارم چي کـه زمـوږ هـر سینئر لیکـوال د خپـل عمـر پـه آخري کلونـو کـي د تبلیغـي عمـل ملګـری شـو او یـا یـې د طالبـانو رویـه پـه ادب کـي خپلـه کـړه، او بیـا د هغـه تخلیقـات لـه دغـه اثراتـو څخـه ډك را وتلـو نـو یـو وخـت بـه داسـي راشـي چـي د مـستقبل نقـادان بـه پـه ټـول پـښتو ادب د بنیادپرستۍ ټاپـه ولګـوي، او ګرسـره بـه یـې د ادبیـاتو لـه تـاریخ ځخـه وباسـي، لکـه څنګـه چـي نـن د دې طالبانایزېشن لـه کبلـه ټـول پـښتون قـام ترهګـر ګڼـل کیـږي، خدای مـه کـړه، چي هـم دغـسي پـښتو ادب هـم د ترهګرۍ ادب و ګڼـل شـي. د مـستقبل لـه دې لـوی تـاوان څخـه د پـښتو ادب د ژغورلـو دپـاره ضـرورت د دې خبـري دی، چـي زمـوږ نقـادان پـه ادب کـي د دې رجحانـاتو او رویـې نـه یـواځي غندنـه وکـړي، بلکـې د داسـي لیکوالـو حوصـله شـکني وکـړي، چـي د هغـوی د نـن دا انفـرادي عمـل د صـبا د اجتمـاعي شـعور برخـه جـوړېږي، لـه ادب ځخـه د بنیـاد پرسـتانه سـوچ د لیـري کولـو دپـاره ضـروري دی، چـي د نـوي کهـول پـه صـحیح معنـا تربیت وشـي، یـو داسـي تربیت چـي د هغـه بنیـاد پـر ټولنیز انــصاف، برابــري او امــن وي او د خپــل قــام او مــذهب پــر ښــتني قـدرونو او روایتونـو بانـدي د نـوي کهـول اعتمـاد بېرتـه پـوخ کـړي، نـن کـه د ځیني لیکوالـو لـه بنیـاد پرسـتانه تخلیـق څخـه یـو څـو نـوي لیکـوال هـم متـاثره دي، نـو د دې شـمېر پـه را روان وخـت کـي نـور هـم زیاتیـدلای شــي، پکاردی چــي زموږتخلیقــات اودې محرکــات لږمــورهم وژونــد تــه ورنــزدې شــي او پــه پــښتني ټولنــه کــي د دې خورېــدونکو منفــي رجحانـاتو غندنـه وکـړي، او د دې پـر ځـای داسـي موضـوعات او فکـر خـور کـړي، چـي هغـه نـه یـواځي پـه نـړۍ کـي د پـښتون قـام امـېج د یـوه

امـن خوښـه او مهـم قـام پـه حیث ببرتـه رابرسـېره کـړي، بلکـې پـه پـښتني ټولنـه کـې د ننـه هـم د دې منفـي عمـل مـخ نیـوی وکـړي، هـم هغـه وخـت زمـوم ادب هـم د نـړۍ د نـورو ژبـو لـه ادب سـره سـیال کېـدلای شـي او زمـوږ لیکـوال و خپلـو لوسـتونکو تـه دا ورښـودلای شـي، چـې نـه خـو هـر پـښتون طالـب دی او نـه ترهګـر، بلکـې پـښتون قـام او پـښتو ادب هـم د نـړۍ لـه نـورو قـامونو او ادبیـاتو پـه رنګـه پـه نـړۍ کـې مهـم رول لوبـولای شـي، زمـا پـه خیـال هـم دغـه د یـو لیکـوال ذمـه واري ده، چـې هغـه دي ادب د انــسانانو دپــاره د شــعور رابیــدارولو او د پــراخ ســوچ د پیــدا کولو د یوې مهمې ذریعې او لارې په توګه په کار راولي.

کوټه

۱۹مئي ۲۰۰۷

# د پښتو ژبې او ادب وده او د ټيلي ويژن اوسنۍ خپروني............ يو تنقيدي جاج

په دې کې هيڅ شك نشته، چې د يوې ژبې په پرمختګ کې ټول ذرايع ابلاغ او په خصوصي توګه "ټيليويژن" ډېر لوی کردار لوبوي. ولې چې د دې پر سکرين باندې وړاندې کېدونکي منظرونه او مکالمې د ژبې او ټولني د رښتيني قدرونو تر جماني او عکاسي کوي، د ټيلي ويژن له لارې چې د يو قام د کلتور او ژبې کومه ننداره وړاندې کيږي، هغه د کتونکي پر رويې، کړۀ وړۀ، ژبه او نورو ټولو اړخونو باندې ډېر زر اغېز اچوي.

تر دې له مخه چې پر دې موضوع باندې نوري خبري وکړم، غواړم چې په سر کې دا سپيناوی وکړم، چې دلته زما مؤخه نه خو د پښتو ژبې او ادب د پرمختګ په اړه د ټيلي ويژن پر غوره تاريخ باندې نظر اچول دی او نه زه له نورو هېوادونو او ښارونو څخه د روانو ټيلي ويژن چينلونو د پښتو خپرونو څېړنه کوم، دلته زما مؤخه يوائې دا ده، چې د هغه ټيلي ويژن چينلونو او د هغه د پښتو خپرونو تنقيدي جاج واخلم، چې له جنوبي پښتونخوا څخه نشر کيږي، چې زياتره د پاکستان ټيلي ويژن

کـوټې او هـم د دې اداري لـه یـوه بـل چېنـل "بـولان" سـره اړه لـري، پـه دې کـې هـم د خپـل موضـوع د اسـانۍ د پـاره زه د دې ټیلـې ویـژن چینلونـو د هغـه خپرونـو جـاج وړانـدې کـوم، چـې پـه دا اوسـنې وخت کې خپرېږي، او موږ یې شپه او ورځ ګورو.

دا وخـت لـه کـوټې ځخـه د هـم دغـه ذکـر شـوو دوؤ چینلونـو پـښتو خپرونـې وړانـدې کیـږي، دلتـه کـه یـوې خواتـه دا سـوال دی، چـې پـه دې چینلونـو کـې د پـښتو خپرونـو تـه د دې صـوبې د نـورو ژبـو پـه نـسبت زیـات وخـت د څـه سیاسـې او حکـومتې اړیکـو لـه کبلـه نـه ورکـول کیـږي، نـو بلـې خواتـه د دې ځـای د قامي ګوندونو او دانشور طبقې له خوا کله هم په دې اړه چا څه ږغ نـه دی پورتـه کـړی، دا یـو بېـل بحـث دی، چـې ضـرورت یـې محـسوسیږي، او دا مـسئله پـر خپـل ځـای راپورتـه کـول غـواړي. دا وخـت د دې ذکـر شـوو چینلونـو پـه خپرونـو کـې پـښتو خبرونـه، ډرامـې، ادبـې و فرمائـشي خپرونـې، د موسـیقي محفلونـه او د ورځنـې ژونـد پـه اړه پـه ځینـو موضـوعاتو بانـدې ځـانګړې خپرونـې شـاملې دي، چـې هـره اوونـۍ وړانـدې کیـږي، ځکـه دا ضـروري ده، چـې د دې خپرونـو دې یـو تنقیـدي جـاج واخـستل شـي، چـې دا د پـښتو ژبـې، کلتـور او ادب پـه پرمختـګ کـې څـه برخـه لـري؟ د دې دننـه کـوم ښـه او بـد اړخونـه دي، چـې هغـه رابرسـېره شـي، نـو ځکـه غـواړم چـې پـه وار- وار د دې خپرونـو پـه اړه خپله مشاهده او تجزیه له تاسو سره شریکه کړم.

(۱) **پـښتو خبرونـه** : خبرونـه د انـسان پـه ژونـد کـې ډېـر ارزښت لـري، د دې لـه کبلـه مـوږ پـه خپلـه سیمه او د نـړۍ پـه ګـوټ-

ګوټ کې له هغه حالاتو څخه خبرېږو چې هغه یا خو له موږ سره څه اړه لري، او یا بیا زموږ پر حالاتو باندې اثر اندازه کېږي، له کوټې څخه هم په ورځ کې درې ځله په پښتو کې خبرونه خپرېږي، خو د دې خبرونو د دې ژبې له ویونکو سره کم او د حکومت له پروپېګنډې سره زیات تعلق لري، چې مقصد یې د پښتو ویونکو رایې د حکومت په حق کې هوارول دي، که څه هم مېډیا د سیاسي لوبې یو مهم ستون دی، خو په دې بحث کې د تللو په ځای به دلته خبره په خبرونو کې پر پښتو ژبه وکړم، دا خبره پر خپل ځای چې د نوي ځوانانو د دې خبرونو په خپرونو کې د راتللو په سوب د پښتو خبرونو کچه یو څه بهتره شوې ده، خو مسئله دا ده، چې دلته خبرونه په نورو ژبو کې راځي، او بیا په پښتو ژباړل کېږي، او چونکې د پښتو ژبې په اړه او د دې د نورو کارولو په کار خبر خلک په دې چینلونو کې نشته، نو ځکه په دې ژباړه کې د پښتو دپاره هغه توري په کارول کېږي، چې یا خو د پښتو قطعاً نه دي او یا بیا دومره ادبي او غیرمانوس دي، چې د کلي زیاتره اورېدونکي نه په پوهېږي، ځني وختونه خو ژباړونکي په ډېره دیده دلیري خپل توري جوړوي او یا داسي توري په کار راولي، چې هغه د جنوبي پښتونخوا په یوه ګوټ کې هم نه ویل کېږي، دلته دا خودساخته دلیلونه وړاندې کېږي، چې په کار دی چې د پښتو ژبې سوچه توري وکارول شي، چونکې په ټیلي ویژن کې د خبرونو د تدوین دپاره په پښتو ژبه خبر خلک نشته، نو ه هرڅه د ژباړونکي په رحم او کرم دي، ځکه خو هر ژباړونکی په خپلو عینکو کې د تورو ژباړه کوي، کله-کله خو داسي هم وشي چې یوه خبره په مختلفو وختونو کې په بېل بېل انداز او بېلو تورو خپره شي.

که يې په سياسي توګه وګورې او که يې د ژبې په اړه، د دې خپرونو د پښتو ژبې له پر مختګ سره څه اړه نشته، خو بېرته موږ په دې زړه خوشحالوؤ، چې څه ياره! بيا خو هم په پښتو کې وړاندې کېږي، د دې د ګټې او تاوان اندازه موږ نه ده کړې، موږ دا نه دي کتلي چې "د پلازمينه، ستونزه، خړپرتيا، د هوا د پېژندني ځانګې" رنګه د پښتو په سوچه تورو څومره پښتانه پوهيږي، او يا بيا په ايالت، دولت، تالار، بودجه، پروژه، حوزه، پېښنهاد، فشار، مسئوليت کې کوم توري د پښتو دي؟ (دا ټول توري د فارسي دي) موږ کله د دې جاج نه دی اخستی، ولې چې پر ټيلي ويژن باندې د پښتو کوم خودساخته توري (د پښتو د خپلو تورو نه بلکې د پښتو په نوم د وړاندې کېدونکي نورو تورو خبره کوم) په وار- وار نشر کيږي، هغه بيا سوکه-سوکه د اورېدونکو د ورځني ژبې برخه جوړيږي، او له دې لارې و پښتو ته داسې توري ور دننه کيږي، چې نه يې ماخذ پښتو وي او نه لهجه، بلکې موږ چې و کومو تورو ته زياتره د پښتو وايو هغه د فارسي توري وي، موږ چونکې افغانستان د پښتنو وطن ګڼو نو ځکه هلته په کارونکي ټول توري د پښتو ګڼو، دا موږ هېر کړو، چې د افغانستان پښتو په زياته توګه د فارسي تر اثر لاندې ده، ځکه هلته هرنوی توری له فارسي څخه اخذ کيږي.

(۲) **د موسيقي خپروني** : هو دلته له کوټې څخه د پښتو د موسيقي خپروني هم وړاندې کيږي، چې د موسيقي ذکر سي نو له هغه سره خو شاعري تړلې ده، موږ هره اوونۍ پر ټيلي ويژن باندې د موسيقي خپرونه هم ګورو، چې هم يې خوند خراب وي او هم يې رنګ پيکه وي، په دې کې شك نشته چې د

پښتو ژبې او خصوصاً د پښتو شاعري په پرمختګ کې د موسيقي ډېر لوی کردار دی، له هم دې لاري د پښتو ژبې ښه شاعري تر اوربېدونکو پوري رسيږي او ارزښت ځکه لري چې له هم دې لاري د پښتو شاعرانو او عام اولس تر ميان تړون پيدا کيږي، خو په دې کې هم د موسيقي معيار اول شرط دی، او هم ښه معياري شاعري . نن صبا چې د ټيلي ويژن له لاري د پښتو موسيقۍ کومې خپروني وړاندي کيږي، په ډېر بخښنه وايم، چې په هغه کې نه خو د موسيقۍ معيار شته او نه شاعري معياري ده. هو دا ضرور کيږي چې د موسيقي له دې غير معياري خپرونو ځخه و موسيقار، سندرغاړي او شاعر ته څه معاوضه وررسيږي . زۀ ډېر داسي شاعران پېژنم چې د موسيقۍ دپاره په يوه نشست کې پنځلس شل غزلي او سندري وليکي او بيا يې و خپروندوی ته ورکړي، له دې پس چې له دې چې د دې غزلو چيك ترلاسه کړي، له دې غزلو سره پخپله هغه شاعر هم څه تړون نه ساتي، او نه يې د خپل بياض برخه ګرځوي، نو ځکه زه نشم ويلای، چې د داسي غير معياري موسيقۍ او غير معياري شاعرۍ ځخه ترتيب شوي خپروني به څومره د پښتو شاعرۍ په پر مختګ کې برخه ولري، داسي خپروني که يوې خواته د دې سيمي د پښتو موسيقۍ معيار راغورزوي، نو بلي خواته د پښتو شاعري کچه هم ډېر کښته کوي .

(۳) **پښتو ډرامې** : زموږ د سات تېري دپاره دلته ډرامې هم وړاندي کيږي، چې زياتره برخه يې پر مزاحيه ډرامو باندي مشتمله ده، داسي ښکاري لکه د نن پښتو مزاحيه ډرامه

چې لا د پنځلس کاله له مخه وړاندي شوي ډرامې "کور مي تر تا جار" له چوکاټه ځخه نه ده راوتلې، لږ فرق یې ضرور کړی دی، چې د نن په مزاحیه ډرامه کې د ټوقو په نوم بې باکي څه نوره زیاته شوې ده، له دې په پرته د سنجیده پښتو ډرامو دلته ډېره کمې محسوسیږي او که څه ډرامې وړاندي شوي هم دي، نو د هغه لیکونکي متنازعه دي، ولې چې داسي هم کیږي، چې دلته ډرامه یو لیکي او وړاندي کیږي د بل په نوم، او بیا چیك سره تقسیمیږي، دا هغه تراخهٔ حقیقتونه دي، چې زموږ ورسره مخه ده. له دې کبله بیا په دې ډرامو کې موږ څه معیار لیدلی شو، او دا هیله څنګه کولای شو، چې د معاوضې د ترلاسه کولو دپاره لیکل شوي دا ډرامې به د پښتو ژبې، کلتور او ادب په وده کې څه برخه ولري؟ و بلي خواته هم په دغه رنګه پښتو ډرامو کې او یا د پښتنو په اړه وړاندي کېدونکو اردو ډرامو کې د پښتون امېج همېشه د اسمګلر، ترهګر، ډاکو او یا هروخت د بدي داره په توګه و دنیا ته ورښوول کیږي، نه پوهېږم چې آیا د پښتون دا امېج وړاندي کوونکي لیکوال د چا کوم مقصدونه سرته رسوي؟ که څه هم د ډرامې اولنی مقصد سات تېری دی، خو له دې لاري نور مقصدونه هم ترسره کیږي، ځکه چې په دې ډرامو کې وړاندي کېدونکی هر منظر او ادا شوې هره مکالمه او له دې سره- سره هر کردار د کتونکو پر ذهن باندي اثر اچوي او بیا هم دغه د هغوی د خیالاتو برخه جوړیږي او هغه بیا د یو قام او کلتور په اړه خپل Perception جوړوي، اوس د دې تجزیه تاسي پخپله کولای شئ، چې زموږ ډرامې د پښتون کوم امېج وړاندي کوي، او د نورو خلګو د دې قام په اړه څه Perception جوړوي؟

(٤) **ادبــي خپرونـــې**: پــه ادبــي خپرونـــو کـــي هـــره هغـــه خپرونـه شـامله ده، چـي هغـه یـا پـر ادب رڼغیـرېي، او یـا د ادب پـه اړه خپریـږي، پــه دې کــي لــه ادیـب سـره ناسـته، د چـا پـر تخلیقـاتو مباحثـه، د کتـابونو پــه اړه مـذاکره، مــشاعره او نــوري داسـې خپرونـي شـاملي دي، کـه څـه هـم څـه وخـت لـه مخـه چـي پـه ټیلـي ویـژن کـي د پـښتو وخـت ښـخـي کـم ؤ، او پـه یـوه اوونـۍ کـي بـه پـه مـشکل یـو سـاعت ور پـه برخـه کېـدلو، نـو هغـه وخـت ځنـي معیـاري ادبـي خپرونـي او ښـه معیـاري مـشاعرې وړانـدي کېـدې، خـو اوس کـه پـر ټیلـي ویـژن بانـدي و پـښتو ژبـې تـه هـره ورځ دوه سـاعته ورکـول کیـږي، خـو بیـا هـم پـه اوونـۍ کـي د یـوه او یـو نـیم سـاعت وخت و ادبـي خپرونـې تـه ورکـول کیـږي، دا ادبـي خپرونـه کـه څـه هـم دا دعـوه لـري، چـي پـه یـوه کـال کـي یـې تـر ډېـرو ادارو د پـښتو دپـاره زیـات کـار کـړی دی، خـو زمـا نـه دی خیـال چـي دا د دې دومـره لـویې دعــوې جوګــه کېــدلای شــي، پــه دې خپرونــه کــي دننــه ځنــي ډېــري بنیــادي نیمګړتیــاوي موجــوده دي، چــي هغــه شــاید د یــوه عــام کتـونکي لـه نظـره څخـه نـه تېرېږي، خـو پـه حیثیـت د یـوه لیکـوال او لـه پـښتو ژبـې سـره د اړه لرونکـي وګـړي پـه حیـث شـاید مـا تـه زیـات معلومیږي.

اوسنۍ روانـي ادبـي خپرونـي کـه څـه هـم لـه عـامو کتونکـو څخـه ښــه داد ترلاســه کــوي، خــو پــه دې کــي هــم شــك نــشته، چــي دا خپرونــي د ډېــري زیــاتي بهتــري او ښــه والــي غوښــتنه کــوي، کــه د مـشاعرو خبـره شـي، نـو پـه ټیلـي ویـژن کـي لـه پـښتو ادب سـره د اړه لرونکـي پېـشه ور خلکـو د کمـي لـه کبلـه اوس چیـري ښـه معیـاري مــشاعره نــه ده شــوې، هغــه د ســعیدګوهر صــاحب خبــره ده، چــي

اوس شاعران یوائي په محرم یا بیا د پاکستان په اړه په ځینو ورځو کي ټیلي ویژن ته رابلل کیږي.

بلي خواته په "بولان چینل" بانده هره اوونۍ یوه ادبي خپرونه وړاندي کیږي، چي هرځل ورته یو ادبي شخصیت د مېلمه په حیث رابلل کیږي چي مقصد یې دا وي، چي د هغه ادبي شخصیت خدمات او خیالات تر کتونکو پوري ورسوي، خو ما چي د دې سلسلې څومره خپروني کتلي دي، نیمګړي او تشنه مي محسوسه کړې دي، اول خو د دې خپروني زیاتره وخت کارټون، بې مقصده رپورټونه، خبرونه، سندري اوزیاتره غیرمتعلق ټېلیفونونه واخلي، دانورپاته وخت کي زیاتره وخت دکوربهٔ و خپلو خبرو ته وقف وي، ځکه مېلمه زیاتره وخت پټه خوله ورته ناست خپله ننداره کوي. زما خیال دی، چي په دې خپرونه کي که یوې خواته مرستیال کوربهٔ بېخي اضافي او غیر ضروري دی، نو بلي خواته د کوربهٔ انداز هم د بنیادي بدلون متقاضي دی، ولي چي زما خیال دا دی، چي په داسي خپرونه کي د کوربهٔ کار دا دی چي هغه د مېلمه او د کتونکو د دلچسپي سوالونه راپورته کړي، او داسي انداز خپل کړي چي د یوه شخصیت ټول علم، پوهه او تجربه د کتونکو مخ ته کښېږدي، خو د دې په پرته په دې خپرونه کي اکثره پوښتني د کوربهٔ د خپلي دلچسپي وي، چي هغه بیا د مېلمه او کتونکو دپاره زړه راکښونې نه ثابتیږي.

په دې خپرونه کي د نوؤ خپاره شوو کتابونو او خطي نسخو سلسله په زړه پوري ده، چي د ښه کتابونو ښه زېرمه ځني

جوړېږي، خو نیمګړتیا یې دا ده، چې دا زېرمه د ادارې د لائبریري په ځای د ذاتي لائبریري برخه جوړېږي، چې د صبا د محقق له رسائي ځخه دا رنګه بیا ووځي، که څه هم دا خپرونه ادبي ده خو د دې خپرونې په میان کي چي کوم رپورټونه وړاندي کیږي، د هغه له ادب سره لیري- لیري هیڅ تړون نه وي، زه نه پوهېږم چي له دې ادبي پروګرام سره د لوبو په اړه او یا د چا د بېګم صاحبه د فنکشن د رپورټ څه تعلق جوړیږي؟

(۵)**نوري خپروني** : دلته ځیني داسي خپروني هم وړاندي کیږي، چي هغه په ډېرو بنیادي کشالو باندي خلګو ته خبرتیا ورکوي، په دې کي شك نشته، چي "قانون څه وایي" او "ډاکټر آن لاین" د کار معلومات تر خلګو رسوي او خلک د خپل ورځني ژوند دپاره له دې خپرونو ځخه خبرتیا اخلي، د دې پر څنګ په نورو زیاتره خپرونو کي څه داسي مواد یا پیغام نشته چي هغه دي د پښتو ژبي، کلتور یا ادب په ګټه تمام شي، بلکې په داسي زیاتره خپرونو او د رېډیو په خپرونو کي څه زیات توپیر نشته، دلته یوائي تصویر او ناصحانه انداز اضافي دی، نور ټول مواد، طریقه کار او انداز یې د رېډیو د خپرونو دی، په دې رنګي خپرونو کي کله- کله داسي غلطیاني هم کیږي، چي هغه د پښتو په تاوان تمامیږي، ولي چي د دې خپرونو ځني کوربانهٔ پر اسکرین باندي د پښتو ژبي له زړګونو کلونو راسي مستعمل توري، محاوري او متلونه غلط ثابتوي، او د خپل کم علم توضیح ورکوي، خو دا کله چا په نظر کي نه دي نیولي، له دې سره- سره د دې خپرونو معیار د ډېري کښته کچي دی، په

دې کې وړاندې کېدونکې څه رپورټونه بې معنا وي، کله – کله د یو کار رپورټ په نادانستګي کې راشي.

دلته زه دا خبره هم کوم، چې تر اوسه په دې خپرونو کې د یوه ادبي سیمینار، کانفرنس یا ناستې رپورټ نه دی وړاندې شوی، هسې خو په سیرینا هوټل کې په هررنګه پروګرام کې د بولان چینل کمپئېر سره له مائیك او کېمرې موجود وي، دوی تر اوسه د یوې بېګم صاحبه فنکشن او د هغه رپورټنګ نه دی قضا کړی، خو نه پوهېږم چې ولې د پښتو ژبې او ادب په اړه ترتیب شوی پروګرام یا سیمینار ته د بلنې باوجود د دوی پښې نه راځي.

دا ما له کوټې څخه پر ټیلي ویژن باندې وړاندې کېدونکو پښتو خپرونو په اړه خپل نظر په لنډه توګه له تاسو سره شریك کړو، شاید دلته به تاسې ته داسې معلومېږي چې هیڅ هم نشته، خو دا زما خپله مشاهده ده، زما خیال دا دی د پښتو په اړه د معیار د دې کښتې کچې بنیاد لامل دا دی چې په ټیلي ویژن کې دننه په پښتو ژبې ادب او کلتور د پوهه او خبر پېشه ور خلګو ډېره کمي ده، بلکې د نیشت برابر دي، اکثره خپرونې د کمپئیرانو په رحم وکرم چلیږي، ځکه دا لږ ګرانه خبره ده چې په دې خپرونو کې به معیار پیدا شي، په کار خو دا دی چې په ټیلي ویژن کې دې له ادب سره تړلي خلګو ته ترجیح ورکړل شي، چې بیا خو هغه کم از کم ادبي خپرونې له یو معیار سره وړاندې کړي، له دې سره- سره ضرورت د دې خبرې هم دی چې زموږ لیکوال او په پښتو ژبه مېن خلک دې د ټیلي ویژن و

واکدارانو ته د خپرونو په اړه خپل نظر ضرور وړاندي کړي، ولي چي ما د اکثره لیکوالو له خولې د پښتو خپرونو په اړه د هغه د نیمګړتیاؤ او غیر معیاري کچي خبري په وار- وار اورېدلي دي، خو شاید د څه مصلحت له کبله دا نظر تر واکدارانو نه رسیږي، ځکه خو هغوی یوه خپرونه د لیکونو په شمېر او د ټیلي فون په ګټه معیاري او د خلکو د خوښي ګڼي.

هم دغسي ضرورت د دې خبري دی، چي یوه ادبي خپرونه دي ادبي خپرونه و ګرځول شي، د ادبي خپروني له وخته دي دا بې مقصده رپورټونه، فرمایشي ټیلي فونونه او نور داسي خرافات و ایستل شي او زیات نه زیات وخت دي و مېلمه ته ورکړل شي، په کار دا دی، چي د خپروني کوربۀ د پښتون، پښتو او پښتو ادب په اړه د یو مېلمه معلومات، علم، تجربه او خیالات تر خلکو وروړسوي او د څه وخت دپاره دي خپل علم و علمیت او فنکارانه انداز هېر کړي.

په کار دی چي ځیني داسي پروګرامونه ترتیب شي چي هغه په نوي کهول کي له خپل کلتور سره مینه او افتخار پیدا کړي، او د خپلي ژبي په ویلو د شرمېدلو پر ځای په خپله ژبه فخر په هغوی کي پیدا کړي، په داسي خپرونو ي باید د پښتون قام ورځني ژوند او د هغوی حالات رامخته کړي، دلته ضرورت د داسي خپرونو هم دی، چي هغه په دې یوویشتمه پېړۍ کي و پښتون ته په ورپېښو کشالو او چېلنجونو باندي یو نظر خلکو ته وړاندي کړي، او داسي عوامل رابرسېره کړي چي هغه پښتو ژبه او پښتون قام د نړۍ له نورو ژبو او قام سره په یوه قطار کي

ودروي او د پښتون امېج د يو مهم قام په توګه ببرته راژوندی کړي.

د پښتو د موسيقۍ خپروني دي هم معياري کړل شي، د دې دپاره دي ښه معياري شاعري او معياري سندرغاړو شرط کښېښوول شي، ګني هسي د چيك د ترلاسه کولو د پاره جوړېدونکي دا خپروني د پښتو په ګټه هيڅکله هم نه شي تمامېدلای، له دې سره- سره پر پښتو خپرونو باندي يو ښه ناقدانه نظر وساتل شي، او په دې کي له پېړيو راسي د مستعمل تورو يا محاورو د مسخ کولو او يا د خودساخته تورو شاملولو دي ښه په ټينګه مخ نيوی وشي، دلته دا خبره هم مهمه ده، چي ټيلي ويژن دي د پښتو او پښتنو د سيمينارونو، کانفرنسونو او ناستو رپورټونه هم خپلو کتونکو ته وړاندي کړي، چي هغوی هم په دې هلوځلو خبر شي او په دې کي برخه واخلي.

زما دا خيال دی، چي که دا او دا رنګه نور عملي ګامونه پورته شي نو نه به يوائي د پښتو خپرونو معيار لوړ شي بلکې د پښتو ژبي او ادب په وده کي به د دې برخه نوره هم زياته شي او اوس که موږ په ټيلي ويژن کي دا اوسنۍ پښتو خپروني غنيمت ګڼو نو بيا به داسي معياري خپروني د ټيلي ويژن ضرورت وي، او نتيجه به يې د پښتو ژبي، قام او پښتو ادب وده او پرمختګ وي.

کوټه
۸ جون ۲۰۰۷ء کوټه

# یو ویشتمه پېړۍ، نړیوال کلی او پښتو ژبه

د ژبو په اړه نړیوال تحقیق موږ ته دا راښیي چې په نړۍ کې دا وخت ۶۸۰۹ ژبې ویل کېږي، په دې کې ۳۳ فیصده ژبې په ایشیا کې ۳۰ فیصده په افریقه کې، ۱۹ فیصده په پېسیفك کې، ۱۵ فیصده په شمالي او جنوبي امریکه کې او ۳ فیصده په یورپ کې ویل کېږي، په دې ۶۸۰۹ ژبو ۴۱۷ ژبې و مرګ ته نزدې دي، ولې چې د دې ژبو په شمېر څو ویونکي ژوندي دي، د دغه څو ویونکو له مرګ سره به دا ۴۱۷ ژبې هم مړې شي، په دې فنا کېدونکو ژبو کې ۵۵ ژبې په ایشیا کې، ۳۷ په افریقه کې، ۱۵۷ په پېسیفك کې، ۱۶۱ په شمالي او جنوبي امریکه کې او ۷ په یورپ کې دي، څه داسې شواهد هم موجود دي، چې په تېره پېړۍ کې څه شپږ سوه ژبې فنا شوې دي او اوس د دغو ژبو یو ویونکی هم موجود نه دی، دا د ژبو په اړه یو ډېر خطرناك صورتحال دی، چې زموږ په وړاندې دی، له دې سره سره دا یو داسې چېلنج هم دی، چې که پر وخت ونه سنجول شو نو نتیجه به یې تر دې هم زیاته خطرناکه وي، ولې چې د هرې

فنا کېدونکي ژبې سره سره د هغه ژبې ادب او قام به هم د تل دپاره فنا شي.

موږ پښتانه هم اوس په دغو حالاتو کې ژوند تېروو، که څه هم ډېر امیدونه داسې موجود دي، چې د پښتو ویونکي زیات دي، نو دا ژبه مړه کېدای نه شي، خو که موږ په ډېرې تېزي سره بدلېدونکي حالاتو ته وګورو او دا وسنجوو چې یوائې په تېرو پنځوس یا شپېتو کلونو کې چې نړۍ په څومره تېزي سره له بدلون سره مخامخ شوې ده، دومره بدلون په تېرو زرو کلونو کې هم نه دی راغلی. اول که به یو نوی ایجاد او یو نوی بدلون په دېرش یا پنځوس کلونو کې میان ته راتلو اوس تر هغه زیات او غټ بدلون په کلونو کې څه چې په میاشتو او هفتو کې دننه- دننه رامخته کیږي او هم دغسې هر نوی بدلون له ځانه سره خپله ژبه، خپل قدرونه او خپله رویه راوړي، د دې نوي ژبې، نوي قدرونو او نوي رویو سره په نړۍ کې له زرګونو کلونو څخه موجودي ژبې، قدرونه او رویې له میانه څخه هم په هغومره تېزي سره وړي.

نن د مادي پر مختګ رفتار دومره تېز شوی دی، چې له دې سره تهذیبونه، ژبې، ادبیات او له دې سره تړلي قدرونه په هغومره رفتار تګ نه شي کولای، ځکه خو موږ نن په خپله ټولنه کې بې چیني، ګډوډي، بدحواسي او د یو داسې هدف و خواته منډې وینو چې تر هغه پوري د رسېدو دپاره به وګړي خپله ژبه، خپل قامي شناخت او خپل ادب ارومرو بایلي، ولې چې زما په خیال د نړیوال کلي د برخه جوړېدو دپاره تر څو پوري خپله ژبه،

خپل کلتور او خپل قامي شناخت له لاسه ور نه کړي، هغه خلک په دې کلي کې د اوسېدو جوګه نه شي ګرځېدای، نن په موږ کې هر یو د دې نړیوال کلي د برخه جوړېدو د پاره لېوال دی، ولې چې مېډیا، اداري او عالمي صورتحال شپه او ورځ په دې پروپېګنډه اخته دي، چې د نړۍ په بېلابېلو کونجونو کې له خپل متنوع کلتوري، ژبني او تهذيبي ورثو سره اوسېدونکي قامونو ته دا ور وښيي چې اوس نړیوال کلی یو مطلق حقیقت دی، که څوك د نړیوال کلي له برخه جوړېدو څخه پاته شو، هغه قام به بیا دوام ونه مومي، هغوی به د پرمختګ له دې عظیم کار څخه بې برخي پاته شي او وروسته پاته کېدونکي به فنا شي.

په داسې صورتحال کې به دا خبره بې شکه رښتیا وي، چې د پښتو ژبې ویونکي زیات دي نو ځکه په نړیوال کلي کې هم دا ژبه مړه کېدای نه شي، خو موږ ته یوائې په دې امید کې هم ژوند تېرول نه دي په کار بلکې د دې امید هم یوه علمي څېړنه په کار ده، چې آیا په دې کې څومره حقیقت دی؟

ویل کېږي چې په نړۍ کې څه شپېته میلیونه پښتانه دي، چې زیاتره برخه یې په افغانستان او پاکستان کې اوسېږي، د نړۍ په نورو هېوادونو کې اوسېدونکي پښتانه هم له دغو دوؤ هېوادونو سره تړون لري، پښتو د افغانستان اوله او د پاکستان دویمه غټه ژبه ده، (له اردو علاوه په پاکستان کې پنجابي اوله غټه ژبه ده) په پاکستان کې د ۲۰۰۱ء کال د سر شمېرنې مطابق د پاکستان د ابادۍ ۴۲,۱۵ فیصده خلک پښتو وایي خو دا بېله خبره ده، چې په ۴۲,۱۵فیصده کې به په

شمېر څومره پښتانه داسي وي چي د پښتو لوست او ليك هم كولای شي، هم دا رنګه كه څه هم په افغانستان كي د پښتو ليكلو او لوستلو شمېره څه زياته ده، خو په مجموعي توګه دا خبره زياته صفا ده، چي كه څه هم د پښتو د ويونكو شمېره زياته ده، خو د لوستلو او ليكلو شمېره يې ډېره كمه او ناكافي ده او حقيقت خو دا دی، چي ژبه يوائي په ويونكي له خپل اصل حقيقت سره ژوندۍ نه شي پاته كېدای، ولي كه موږ په خپل چاپېرچل كي پر پښتو ويونكو باندي غور وكړو، نو به څرګنده شي، چي د ويونكي پښتو ژبه د نورو ژبو له بې ځايه اغېزني څخه پاكه نه ده پاته شوې، ځكه خو موږ اردو او انګريزي ته مونږدونكي پښتو ژبه په خپل ورځني ژوند كي اورو، (او زه هم د دې يوه برخه يم) د دې وجه كه يوې خواته په رسمي توګه د زده كړي له عمل څخه د پښتو ليري ساتل او له هغې سره ميرنی سلوك دی، نو وبلي خواته د نړيوال كلي د يوائنۍ ژبي انګريزي زور هم دی. ولي چي نن په نړۍ كي انګرېزي د طاقت ژبه ده، د ماركېټ، ټيكنالوجي او روزګار ژبه ده ځكه پښتانه هم د دې ژبي د برخه جوړېدو دپاره هلي ځلي كوي، او دا ګټې چي كه داسي ونه كړي، نو به وروسته پاته شي.

بلې خواته دا خبري هم كيږي چي پښتو ځكه نه شي مړه كېدای چي اوس پښتو هم د انټرنېټ پر پاڼو خوره ده او له دې ټيكنالوجي سره سمه سيالي كوي، يقيناً دا د هغه پښتو مينو د شپه او ورځ د كړاو نتيجه ده، چا چي د نړيوال كلي په دې دروازه كي د پښتو ژبي د وردننه كولو دپاره ګاللی دی،

خو خبره بېرته هغه راځي، چې څومره پښتانه تر انټرنېټ پوري رسېداى او په هغه پوهېداى شي، ژبه خو ژوندۍ هغه وخت پاتې کېداى شي، چې ټول قام يې په مختنګ کي برخه ولري، زه په دعوه سره وايم چې اوس هم 95 فيصده پښتانه لا د انټرنېټ له نوم سره اشنا نه دي، په انټرنېټ کي د پښتو د پرمخ وړلو خبره خو لا ډېره ليري ده.

موږ په دې هم غره يو چې اوس خو پښتو د مېډيا ژبه ده، له هري نړيوالي رېډيو څخه په پښتو ژبه کي خپروني نشر کيږي، هم دغه رنګه اوس ډېر د ټېليويژن چېنلونه يا خو يواځي د پښتو ژبي دي او يا بيا د پښتو ژبي د پاره لويه برخه لري، و دې ته موږ کله هم نظر نه دی کړی، چې د هري نړيوالي رېډيو څخه د پښتو خپروني د پښتو ژبي دپاره کم او د هغه هېواد د سياسي مفاداتو د حاصلولو دپاره زيات په کاريږي، دې ته مو هم نه دي کتلي چې پر ټيليويژن باندي نشر کېدونکي پښتو خپروني د پښتو ژبي، کلتور او فن و ادب د کوم اړخ ترجماني کوي، خوشحاله پر دې يو چې د رېډيو او ټيليويژن په دې خپرونو کي کله کله زموږ ږغ او عکس هم راځي.

زه دا هم منم چې اوس په پښتو کي کتابونه او مجلې هم ډېري چاپيږي، يقيناً د دې کتابونو او مجلو له کردار څخه انکار په هيڅ صورت هم ممکن نه دی، هم په دې کتابونو کي پښتو ژبه خوندي کيږي، خو حق دا دی چې موږ څه د پښتو ژبي ميوزيم جوړول نه غواړو، چې پکي بې ژوند توري خوندي شي، دلته دا خبره هم راځي چې دا چاپېدونکي کتابونه څومره پښتنو

تــه رســیږي، او یــا ځــومره پــښتانه دا کتابونــه او مجلــې لوســتلای شــي، ځکــه بیــا دا کتابونــه یــوازې هغــه خلــک وایــي، چــې څــوك لــه ادب ســره اړه لــري، یعنــي دلتــه د پــښتو لوســتل تــر ډېــره حــده پــوري یــوازې تــر پــښتو لیکوالــو پــوري محــدود دی، زمــوږ عــام پــښتانه د کتــاب لوســتل خــو لا لیــري خبــره ده، پــه دې هــډو خبــر هــم نــه دي، کــه څــوك د پــښتو پــه کتــابونو او یــا مجلــو خبــر وي او یــا یــې لــولي، د هغوی شمېر په ګوتو کېدای شي.

مــوږ پــه افغانــستان او پاکــستان کــې د پــښتو اکادمیــاني هــم لــرو، دا اکادمیــاني وخــت پــه وخــت د پــښتو ژبــې او ادب ســره تړلــي تحقیقونــه پــه کتــابي بڼــه کــې خــوروي او یــوه نیمــه اکــادمۍ کلــه کلــه د پــښتو ژبــې او ادب پــه اړه څــه غونــډه هــم وکــړي. خــو زمــا پــه خیــال یــوازې کتابونــه چــاپول او کلــه یــوه نیمــه غونــډه کــول د پــښتو اکادمیــانو یــوازېنی کــار بایــد نــه وګرځــي، ولــې چــې بیــا هغــه خبــره راځــي چــې کتــاب لــولي څــوك؟ او د غونــډو بیــا څــه ارزښــت پاتــه کیــږي، کــه چیــرې عــام پــښتون اولــس لــه دې کتــابونو یــا غونــډو څخه لیري وي؟

هــم داســې د نــړۍ پــه هــر کــونج کــې چــې چیــرې پــښتانه لیکــوال شــته، هلتــه څــه ازادي ادبــي ټــولني هــم وجــود لــري او وخــت پــر وخــت ادبــې غونــډې کــوي، خــو زیــاتره غونــډې د مــشاعرو تــر واه- واه او یــا بیــا د تنقیــد پــه نــوم د یــوه بــل تــر ســتایلو پــورې محــدودې دي، مــا چــې پــه هــر څــومره غونــډو کــې ګــډون کــړی دی او یــا مــې چیــرې د نــورو غونــډو رپورټونــه لوســتي دي چیــرې پــه کــې مــا د دې نــوي پېــړۍ د هغــه چېلنجونــو پــه اړه څــه خبــره ونــه لیــده د کــوم لــه وجــې

چي پښتو ژبي او قام ته نن د خپل وجود ، خپلي پېژندګلوي او د بقا ستونځي ورپېښي دي، و بلې خواته د دې غونډو محدود دايره کار هم پر خپل ځای يو سوال دی.

لـه تېرو شلو پنځويشتو کلو څخه د پښتو نړيوالي غونډې هم کيږي، په دې نړيوال کانفرنسونه، کنونشنونه او سيمينارونه شامل دي يوې خواته که د دې نړيوالو غونډو تر ميان د دې د ملکيت تنازعه يو حقيقت دی، نو بلي خواته ځني نړيوالي غونډې د خالص ادبي، ځني د سياسي هدفونو تر اغېز لاندي او ځني د يو مخ غير جانبداري دعوه لري، خو زما دا خيال دی، نه خو خالص ادبي غونډې د پښتو ژبي د پرمختګ دپاره ګټوري ثابتېدای شي، نه به څه مخصوص سياسي سوچ لرلي غونډې د دې حل دی او نه زه د پښتو ژبي او ادب په اړه د څه غير جانبداري جوګه کېدلای شم، ولي چي پښتو ژبه نه خو خالص ادب دی نه څه مخصوص سياسي سوچ او نه په دې عمل کي غيرجانبداري څه عقلمندي ده، ولي چي پښتو ژبه د اديبانو او ليکوالو او يا څه مخصوص سياسي ګوند علاوه د عام اولس ژبه هم ده، هيڅ يوه طبقه دا دعوه نه شي لرلای چي پر پښتو ژبه يوائني د هغه حق دی، خو زه دلته دا خبره هم په ډاګه کوم چي تر هغه پوري مور پښتو ژبه پر مخ نه شو وړای چي تر څو پوري له ادب سره سره مور د پښتو ژبي د حق دپاره يو مخ سياسي تحريك شروع نه کړو، يو داسي سياسي تحريك چي د څه مخصوص سياسي ګوند تر سايې لاندي نه بلکې د هر عام پښتون تر جذبې لاندي وي، که څوك دا وايي چي هغه د پښتو د حق په اړه غيرجانبدار دی نو هغه سړی د پښتو ژبي دعوېدار نه شي کېدای ولي چي چيري د حق خبره راسي نو هغه عمل بيا يو

بشپړ سیاسي عمل وګرځي، ځکه خو زه د ادب او سیاست د ټینګ تړون همکار یم، د یو داسي تړون چي د مخصوص ګوند له اثره خلاص وي.

یقیناً دا نړیوالي غونډي د پښتو ژبي په خوربدوکي برخه لري، د نړۍ له هر کونج څخه لیکوال راځي، خپلي مقالي وړاندي کوي او بیا د هغه مقالو کتابونه هم چاپیږي، خو په ډېره بخښنه دا وایم، چي زه بیا هم دا برخه ډېره نیمګړې ګڼم، ولي چي عام اولس ته کله هم په داسي نړیوالو غونډو کي د خپلي برخي ورکولو هڅي نه دي شوي، دې غونډو ته زیاتره لیکوال راځي او که څوك عام اولس راځي نو هغه یو سامع وي، مقالې واوري او بیا ولاړ شي، زه خو دا وایم، چي اکثره د داسي مهمو غونډو په اړه معلومات دومره کم وي چي عام اولس په دې نیت ګډون په کي کوي، چي د څه ټنګ ټکور مېله به وي او داسي ځکه کیږي، چي موږ لیکوالو د پښتو په حقله خبره کول یوازي خپل حق ګرځولی دی او دا مو فرض کړی دی، چي د پښتو په اړه به یو عام ناخوانده پښتون څه نظر ولري، هغه په څه پوهیږي، ځکه خو خلکو ته خپلي مقالې اوروو او خپل علمیت پرې ثابتوو او په دې خوش فهمي کي اوسو چي موږ د پښتو ژبي د پرمختګ دپاره خپل کردار ولوبولو، عام اولس که په دې غونډو کي ګډون لري نو د یو بت به شان چي نه یې څه ږغ وي او نه یې څه حرکت، کټ مټ داسي لکه موږ چي د ربډیو څه خپرونه اورو یا د ټیلیویژن څه خپرونه ګورو خو په هغه کي خپله برخه نه شو ورکولای، ولي چي د ربډیو د څپو او د ټیلیویژن پر سکرین شاته څه

مخصوص هنرمندان او خصوصي خلک کار کوي او موږ تر هغو پوري نه شو رسېدلای.

تاسي به هم دا وایاست چي دا د پرون هلك بیا کومه سُرنا شروع کړې ده، چي د پښتو ژبي د پرمختګ دپاره له کېدونکو هلوځلو څخه مطمئین نه دی، نه خو پر انټرنېټ باندي د پښتو ژبي راتلو ته ګوري، نه یې د مېډیا له لاري و پرمختګ ته نظر دی، نه د بې شمېره چاپېدونکو کتابونو او مجلو کردار ستایي، نه د پښتو ژبي د ازادو ټولنو وکارکردګي ته پر مختګ وایي، نه د پښتو اکادمیانو له نه هېرېدونکي رول څخه مطمئین دی او نه د عالمي غونډو له طریقه کار سره اتفاق لري، یو خواست زه دلته له تاسي څخه کوم، زما مقصد قطعاً دا نه دی، چي زه دا ټولي هلي ځلي یو مخ رد کوم، دا ټولي هلي ځلي پر خپل ځای مهم رول لري، خو دا ښېله خبره ده، چي زه دا هرڅه ناکافي ګڼم، ولي چي زما مسئله دا ده چي د یوویشتمي پېړۍ له حقیقتونو سره اشنا یم، چي ډېر جابره، بې رحمه او هرڅه له میانه وړونکي دی، ځکه خو د داسي هلو ځلو په هیله یم، چي هغه پر وخت باندي د یوویشتمي پېړۍ و دې سېلاب ته بندونه وتړي که تیري شلمي پېړۍ شپږ شوه ژبي، کلتورونه او قامونه له میانه وړي دي، نو د یوویشتمي پېړۍ رفتار خو دومره زیات دی، چي دا شپږ زره ژبي، کلتورونه او قامونه له میانه وړلای شي او خدای مه کړه، چي په کي پښتو ژبه، کلتور او قام شامل وي، ځکه خو زه د پښتو ژبي د خدمت په اړه په روانو هلوځلو او د هغه په طریقهٔ کار کي د بدلون خواهش لرم، او دا غواړم چي:

➢ تر ټولو له مخه خو باید موږ دا مغالطه لیري کړو چي د پښتو ژبي د خدمت او پرمختګ ذمه واري یوازي موږ لیکوالو پر سر اخستې ده، زما په خیال هر پښتون د پښتو ژبي په پرمختګ کي مهم رول لري، هر هغه ځوك چي په دې یوویشتمه پېړۍ کي پښتو وایي او په پښتو باندي فخر کوي، هغه د پښتو ژبي تر ټولو لوی خدمتګار دی، هم د داسي پښتنو و هلوځلو ته د یو مخصوص قیادت ضرورت دی، یو داسي قیادت چي هغه دا خواره واره پښتانه د پښتو دپاره را یوځای کړي او یو داسي تبلیغي عمل پیل کړي، چي هغه پښتانه را وګرځوي، ځوك چي خپله ژبه او کلتور له دې وجي پرېږدي چي دا نړیوال کلیوال به یې خپل نه کړي، زما په خیال خو د دې رویې غندنه په کار ده، چي که موږ پښتو- پښتو کوله نو به وروسته پاته شو او د نړیوال کلي برخه به جوړ نه شو.

➢ د پښتو ژبي له لاري خپل مفادات پوره کولو دپاره لګیا رېډیو او ټیلیویژن چینلونو تر څنګ په کار دی چي شتمن پښتانه خپل ریډیو استېشنونه او ټیلیویژن چېنلونه پیل کړي او د خالص پښتو ژبي او کلتور ترجماني په کي وکړي او د دې تر شا د څه هېواد یا ایجنسۍ سیاسي هدفونه نه وي، یقیناً به پښتانه اورېدونکي او کتونکي و داسي خپرونو ته په ښه نظر ګوري او ګټه به هم ورکوي، له دې عمل څخه ممکنه ده د پښتون له خپلو ټولو مثبتو روایاتو او قدرونو سره په نړۍ وپېژندل شي او و نړۍ ته دا ور وښیل شي، چي پښتانه طالبان یا ځوکیداران نه دي، خو ورسره- ورسره هېپیان او برګران هم نه دي، بلکي پښتون یو مهذب او له ډېرو ښېګړو ډك قام دی.

➢ د پښتو په اړه له انټرنېټ څخه د ګټې د اخستلو د پاره ضروري دی چې عام پښتون اولس پښتو لیکل او لوستل زده کړي، د پښتو لیکلو او لوستلو د پاره پښتو د تعلیم ژبه ګرځېدل په کار ده، او د پښتو د تعلیمي ژبې د ګرځولو د پاره د یو بشپړ سیاسي مبارزې ضرورت دی، په کار دی چې زموږ لیکوال طبقه له سیاست څخه الرجي نه شي، بلکې هم دغه طبقه د سیاسي ګوندونو لار ښوونه وکړي، په بېلو- بېلو ګوندونو کې خوارهٔ پښتانه، سیاسي لارښود او کارکنان په دې سځ کړي چې هغوی د خپلو نظریاتي اپروچ د تضاد په پرته پښتو ژبه د تعلیم ژبه د جوړولو پر ایجنډا یو آواز یو قوت شي، هم دا رنګه به پښتو لوستونکي او لیکونکي زیاتیږي او د پښتو د کتابونو او مجلو د پاره به هم د لوستونکو دایره پراخیږي، ځوك چې پښتو لولي او لیکي هغوی به بیا پښتو د دې له اصل جوهر سره وایي هم.

➢ په پاکستان او افغانستان کې د پښتو اکادمیانو کردار لږ پراخول په کار دی، د انفرادي محققینو د کتابونو چاپولو سره سره دي د نن د دور په اړه په هغه موضوعاتو باندي تحقیق پیل کړي، چې پښتو ژبه او ادب اړتیا ورته لري. په کار دی چې دا اکادمیاني نوي تحقیقي موضوعات را مخته کړي، د پښتو ژبې سره دلچسپي لرونکي ځوانانو او پېغلو ته دي فیلوشپ یا وظیفه ورکړي، چې هغوی د یو مخصوصه موضوع په اړه له بېلا بېلو کونجانو څخه مواد او معلومات راغونډ کړي، دا ځوانان او پېغلي دي د وتلو محققینو تر څارني لاندي دا کار پر مخ وړي، دا رنګه پشپړه ګټې تر لاسه کېدای شي، اول

دا چې د ځوانانو او پېغلو له تحقيق او پښتو ژبې سره مينه زياتېداى شي، او بل هغوى د تحقيق په اړه زده کړه کولاى شي. او له دې سره سره د يو ټيم په شکل کې بشپړ مواد را غونډېداى شي، چې څېړنه او ترتيب يې زيات استناد ولري. له دې په پرته په کار دى چې دا اکادميانې په ننني چېلنجونو باندې کانفرنسونه، مذاکرې او غونډې کول پيل کړي، نوي مباحث را مخته کړي نوي- نوي ادبي او ژبني موضوعات وڅېړي داسې موضوعات چې هغه و پښتو ژبې او ادب ته له هر قسم چېلنج سره د مسابقت طاقت وکړي او هم دغسې دا اکادمياني بايد د عام اولس دپاره د پښتو ژبې د لوستلو او ليکلو د تربيت بندوبست وکړي چې پښتو خواندګي زياته شي.

➢ زما نه دى خيال چې د پښتو ژبې او ادب د خدمت دپاره جوړې شوې ازادې ټولنې تش په مشاعرو او تنقيدي ناستو باندې د واه- واه او د يو بل په ستاينو څه نوى بدلون را وستلاى شي، په کار خو دا دى، چې دا ټولنې په ټولنه کې د ژبې او ادب د پرمختګ دپاره لارې هوارې کړي، ادب د چايخانو له مشاعرو څخه دباندې را وباسي او د عام اولس د ورځني ژوند برخه يې جوړ کړي، لکه پخوا چې وو، زموږ فولکلور موږ ته دا رابښيي چې شاعري د څه خاص طبقې ميراث نه و، بلکې هر چا به په دې کې برخه اخيسته، غاړې، ټپې، سندرې او نور داسې لوك اصناف به يې ليکل، ځکه خو ورته د عوام ادب ويل کېدو، خو دا د تاريخ د هغه دور ستم ظريفي ده چې په کوم کې د ژوند د نورو اړخونو په رنګه ادب هم يو مخصوص کار وګرځېدو، او بيا دا د عام اولس له دسترس څخه

لیري شو او د یوې مخصوصي طبقې تر لاسه محدود شو. اوس له دې محدوده سوچ څخه د راوتلو ضرورت دی، په عام اولس کي د ژبي او ادب د پرمختګ د پاره هغه هلي ځلي بریالۍ کېدای شي، چي هغه د لیکوالو او اولس تر میان جوړه شوې فاصله ختم کړي او زما په خیال د دې فاصلې په ختمولو کي د ازادو ادبي ټولنو رول زیات ارزښتناك دی، له دې سره سره په ادب کي هم له انساني ژوند سره تړلي موضوعاتو ضرورت دا فاصله نوره کمولای شي او دا هغه وخت کېدای شي چي موږ لیکوال خپل تخلیق په موضوعي او معروضي اعتبار د عام اولس و ورځني ژوند ته ور نزدې کړو.

➢ پاته شوه خبره د نړیوالو غونډو، زما په خیال د دې نړیوالو غونډو په بنیادي طریقهٔ کار کي بدلون په کار دی چي په کي تر ټولو مهمه د موضوع انتخاب دی، تیري چي هرڅومره غونډې شوې دي، د ټولو موضوعات د تورو د څه بدلون په پرته ټول یو دی، ګڼي د پښتو د کلاسیك ادب په اړه یا د افسانې د ارتقاء په موضوع یا د جدیدي شاعري د جاج یا نورو داسي موضوعاتو په اړه په وار- وار لیکونه شوي او په مجلو کي چاپ شوي دي، چي بیا بیا یې په داسي نړیوالو غونډو کي وړاندي کول د تکرار په پرته نور هیڅ هم نه دي، په کار دی چي د دې نړیوالو غونډو موضوع مخصوص او د نوي دور مطابق وي، په هره غونډه کي په هر موضوع باندي مقاله وړاندي کول مهمه نه ده، که په داسي نړیوالو غونډو کي د نړۍ له هره کونجه څخه لیکوال راځي نو بیا ضرورت د دې خبري دی، چي د دې دپاره یو غونډه موضوع وټاکل شي، پر هغه باندي څلور، پنځه

مرکزي مقالې وړاندي شي او بیا د هغه موضوع او مقالو په اړه تول ګډون کوونکي یو بحث و مباحثه وکړي نو دا رنګه به نوي خبري هم رامنځ ته کیږي او عام اولس چي په دې غونډو کي ګډون کوي هغوی به هم خپل نقطهٔ نظر بیانوي، دا رنګه به د پښتو ژبي او ادب په اړه د عام اولس برخه هم را برسېره شي چي نه یوائي په عام اولس کي له ژبي او ادب سره مینه زیاتولای شي، بلکې عامو پښتنو ته دا احساس هم ورکولای شي، چي هغوی د خپلي ژبي او ادب په پرمختګ کي یو مهم رول لوبولای شي، د دې بله ګټه به دا وي چي پښتو ژبه او ادب به د عامو پښتنو د ورځني ژوند د خبرو برخه وګرځي او هر څوك به د ژبي او ادب په هلوځلو خبروي، له دې سره سره دا نړیوالي غونډې باید چي په ځان د څه مخصوص لېبل لګولو څخه ځان و ژغوري بلکې د ټول پښتون اولس ترجمان دي ځان وګڼي او په ادبي او ژبني اړه د یو بشپړ سیاسي عمل څرګندونه هم وکړي، یو داسي سیاسي عمل چي یوائنی هدف یې د پښتو ژبي حق تر لاسه کول وي.

که موږ په نړیوال کلي کي له خپلي شیریني پښتو ژبي سره پاته کېده غواړو نو بیا به خپل لیك او خپل عمل کي ډېر بنستیز بدلون کوو، په خپلي رویې به غور کوو، پر خپل ژبني او ادبي کردار به دویم نظر اچوو، د ژبي او ادب قصې به له محدوده کونجونو څخه را باسو د عام اولس په شریکه به یې پر مخ وړو، خپل ادبي موضوعات به پراخوو، او د خپلي ژبي د بقا دپاره به نوي ګامونه پورته کوو، که چیري موږ په موجوده رفتار او طریقهٔ کار د ژبي او ادب و خدمت ته

جوړېدلي وو، نو به د ګلوبلايزېشن ښامار زموږ ژبه او قام په يوه سا داسي تېر کړي، چي هيڅ نوم او نښان به مو پاته نه شي، که چيري داسي وو نو صبا به په نړيوال کلي کي يو بل ثوك په يوه نړيوالـه غونډه کي ناست دا خبره به کوي چي په يوويشتمه پېړۍ کي شپږ زره ژبي له ميانه ولاړې چي ورسره شپږ زره قامونه او کلتورونه هم اوس د تاريخ برخه دي او خداى دي نه کوي چي په هغه کي پښتو ژبه، قام او کلتور شامل وي.

کوټه

۳۰جولايي۲۰۰۶ء

# ادب، ترقي او سماجي بدلون

ادب، ترقي او سماجي بدلون په ښکاره خو بېل- بېل تناظر او معاني لري لاکن په حقيقت کي د دې درې واړو تر ميان يو ټينګ تړون موجود دی. ولي چي د دې دواړو تړون له انساني ژوند سره دی. ادب ته موږ د ژوندآئينه وايو چي په کي د انساني ژوند ، د سماج، ثقافتي، معاشي، سياسي او تاريخي اړخونو او بهيرونو عکاسي کيږي، هم دغه رنګه ترقي يا پرمختګ و مخ ته د تګ عمل دی او تعريف يې داسي کيږي، چي کله انسان له لږ خراب حالت څخه د ښه حالت و خواته ځي نو هغه ترقي کوي، و بلي خواته سماجي بدلون هغه وخت راځي، چي کله د سماج په څه حالت کي څه بدلون راشي، موږ داسي هم ويلای شو ، چي کله انسان له يو حالت څخه و بل حالت ته ځي نو د دې په نتيجه کي چي کوم بدلون راځي هغه بيا په مجموعي توګه ټولنيز يا سماجي بدلون وګرځي.

که چيري موږ په تهيوري کي د ادب، ترقي او سماجي بدلون دا تعريفونه و منو نو په دا نتيجه رسېږو ، چي په دې درې واړو عوامل کي يو شی مرکزي حيثيت لري او هغه دی انسان او انساني ژوند ، دا درې واړه هغه عوامل دي، چي پر انساني ژوند او سماجي حالاتو باندي خپل اغېز خوروي، ځکه د درې واړو تر ميان يو ټينګ تړون موجود دی، لاکن دلته سوال دا پيدا

کیږي چي آیا- په عمل پریکټس کي هم ادب په ټولنه کي د خپل کردار په سوب ترقي او سماجي بدلون را وړلای شي؟

د دې سوال او ځواب له مخه غواړم چي اول پر ادبي تاریخ، د ترقي پر رجحاناتو او سماجي بدلون پر مختلفو اړخونو یو مختصر نظر واچوم، چي له موضوع سره انصاف و شي.

د ادب او انساني ژوند تعلق له هغه وخته پیل شوی دی، چي کله انسان خبري کول پیل کړې او د خپل جمالیاتي حس په سوب یې نه یوازې فطري منظرونه لیدل او محسوسول پیل کړو بلکې د هغه دا جمالیاتي حس انسان ته غور و فکر او د فطري ماحول د اغېزني ادراك هم ورکړو، چاچي په انسان کي دننه د حساسیت ماده غوره کړه، له فطرت سره د خپل ښایسته تړون بیان چي کله انسان شروع کړو، نو هغه بیا په یوه نه یوه قالب کي غوره شو، چیري دې بیان د شاعري بڼه واخیسته او چیري بیا د نثر په شکل کي خور شو، که څه هم هغه وخت د لیك طرزونه نه وو پیدا شوي، ځکه دا ادب په سماج کي د اذانګو په شان موجود و، کله چي د لیك لوست شکلونه پیدا شو، نو خلګو هم خپل احساسات، جذبات او خیالات په لیك کي راوستو.

تاریخ موږ ته دا راښیي چي د لیك لوست د طریقو د نشت باوجود د ادب یوه ډېره لویه برخه سینه په سینه خوندي کېدله او په هغه کي زیاتوب هم راتلو، و دې ته شفاهي، لوك، فولکلور یا عوامي او د خلګو ادب ویل کیږي، له دې څخه دا څرګندیږي چي په ماضي کي ډېري داسي ټولني هم تېري شوي

دي، چیري چي هر سړی په یوه نه یوه سطح باندي شاعر، ادیب پاته شوی دی، ولي چي د هغه وخت ادب له انساني ژوند سره ډېر نږدې او کلك تړون درلودو او عامو انسانانو د ادب او ادبي اظهار له لاري د ژوند ادراك او له فطرت سره د خپل تعلق اظهار کاوه، د ادب دا ښې تر څو پېړیو پوري دوام درلودو، په دې صورتحال کي بدلون هغه وخت راغلو چي کله د ساینسي ایجادونو پیل وشو او هر شی پر ساینسي بنیادونو باندي کتل شروع شو، هغه وخت انسان خپل ځان له فطرت څه جلا کښېښوو او د هر عمل وجوهات او منطق د سنجولو دپاره یې ساینسي اصول خپلول شروع کړو، دا بدلون هغه وخت نور هم تېز شو چي کله یورپي خلکو د خپل نسل د اعلیٰ او برتر ثابتولو دپاره د ساینس او منطق پر بنسټ دلیلونه را منځ ته کړو، او بیا یې د نوري دنیا انسانانو ته د تهذیب ښودلو په نوم پر وسایلو باندي قبضه وکړه او پنځه سوه کاله یې د دنیا له هر کونج څخه مال و دولت لوټلو په ذریعه ځان ترقي یافته کړو، له هم دې ځایه د ادب او انساني ژوند په تعلق کي نور لیریوالی پیدا شو.

ولي چي د یورپ آقا وو چي و خپلو غلامو هېوادونو ته څنګه ترقي ورکوله او د هغه په نتیجه کي چي څنګه ټولنیز بدلون راتلو هغه د انساني ژوند د کړکېچنو کشالو سنجولو ادبي رجحانات وشاته غورځار کړو، د دې عمل یو واضح اثر دا وشو چي ادب د یو مخصوصه طبقي میراث وګرځېدو، اول چي به هر سړی په یوه نه یوه توګه د خپلو جذباتو د ادبي اظهار قدرت درلودو هغه دوام نه وموندو، ولي چي انساني ژوند په ډېره تېزي سره له مختلفه بهیرونو څخه تېرېدو، عام سړی د دې

بهیرونو په جستجو کي دومره اخته شو چي د غور وفکر او تخلیق له صلاحیتونو څخه ورو- ورو لیري کېدو ځکه خو په ټولنه کي دا خبره عام شوه چي ادب لیکل، لوستل او اورېدل یو تفریحي عمل دی، او له دې تفریح څخه هغه خلک خوند اخیستلای شي چي له چا سره فالتو وخت یا فراغت وي، کله چي د شلمي صدۍ په اول نمایي کي نو آبادیات/ غلام هېوادونه په ظاهره آزاد شو نو هغه وخت د ترقي یو نوی تعریف مخ ته راغلو او د خلکو له لویو عمارتونو، بنګلو، سړکونو، جهازونو، ګاډیانو، کارخانو او ټیکنالوجي سره خپله ترقي وتړله او د دې د تر لاسه کولو دپاره تر اول هم زیات اخته شو دې ترقیاتي تصوراتو یوې خواته په انساني ژوند کي داسي کړکیچني پیدا کړه، چي په ډېرو ځایونو کي په خپله انسان د دې و مختته بې وسه شو، نو و بلي خواته د ترقي یا پرمختګ ودي مغربي معیار ته د رسېدلو په نیت انسان له خپلو وسایلو، ثقافتي ورثو او مځکني حقیقتونو څخه لا هم لیري شو، د دې په سوب ټولنه له یو داسي بدلون سره مخامخ شوه چي په کي انساني تعلقات، رویې او جذبې سره سره ټول سماجي نظام سره ګډوډ شو، په داسي حال کي د ادب کردار هم محدود شو، ادبي کتابونه د ډراینګ روم په طاقونو کي پراته خو وو، لاکن د هغه له ژوند سره د تړون پیدا کولو په اړه له ناکامي سره مخه شوه، چونکه د ادب لیکونکي هم د دې ټولني وګړي دي، ځکه هغوی د مادي ترقي له تصوراتو او د هغه له اغېز څخه خپل ځان او تخلیقات خوندي نه وساتل له هم دې کبله ادب د انساني ژوند د روحاني، ثقافتي او سماجي ورثو د امین پر ځای د مادي ترقي مبلغ جوړ شو.

ادب لــه تېــرو څــو پېړيــو راهيــسې کلــه د يــو چــا مخــصوص مــسلك آلــه کــار پاتــه شــوی دی او کلــه د دوو طــاقتونو تــر مــابين و يــوه بـل تـه د مـاتې ورکولـو دپـاره پـه کـار راوسـتل شـوی دی، پـه دې تېـر زيـاتره وخـت کـې پـه فنـي لحـاظ ادب ډېـر پرمختـګ کـړی دی ډېـر نـوي صـنفونه متعـارف شـوي دي، د ادب پـه قالـب کـې نـوې- نـوې تجربـې شـوې دي، خـو پـه فکـري توګـه لـه انساني ژونـد سـره د تـړون پـه اړه ادب لـه زوال سـره مخـامخ شـوی دی، ولـې چـې پـه دې ټولـه عرصـه کـې ادب د انـساني ژونـد لـه عـامو نشـستونو، ناسـتې پاستې څخه لېرې شوی دی.

د ادب د زوال خبــره زه ځکــه کــوم چــې زه لــه تېــرو شــپږو، اوو کـالو راهيـسې لـه يـوې ادارې سره وابسته يـم چيـرې چې زمـا زيـاتره وخـت لـه ځوانـانو او پېغلونجونـو سـره د ترقيـاتي علـم و عمـل پـه اړه پـه بحـث او مکالمـه کـې تېرېـږي، پـه دې عمـل کـې چـې زيـاتره برخــه يــې تربيتــي کورســونه دي، هغــه ځوانــان او نجــوني ګــډون کـوي، چـې پـه خپلـه سينه کـې د سـماج د دې بـدي ورځـې پـه اړه درد لـري او د خلکـو پـه ګـډون سـره د يـوې ښـې ترقـۍ پـه عمـل کـې د خپـل کـردار د لوبولـو خـواهش لـري، دا ځوانـان او نجـوني د ټـولني د نـورو وګـړو پـه نـسبت څـه زيـات حـساس وي، پـه تېـرو کلونـو کـې لـه دې ځوانـانو او نجونـو سـره مکـالمې، بحـث و مبـاحثې او ګـپ شـپ پـه دوران کـې د ادب پـر کـردار او ارزښـت بانـدې پـه وار وار رغېـدلی يـم، خـو د افـسوس خبـره ده چـې پـه دوی کـې زيـاتره ځوانــان پرتــه لــه څــو عــشقيه او رومــاني شــعرونو، د ادب پــه مجمـوعي کـردار هـډو خبـر نـه دي، بلکـې مـا اکثـره دا محـسوسه کـړې دي، چـې د شـاعرانو او اديبـانو پـه اړه د دوی خيـالات څـه ښـه

نــه وي. د ځوانــانو لــه ادب ســره د دې عــدمِ دلچــسپي پــه اړه مــا پــه وار- وار چورت وهلی دی، چي داسي ولي دي؟

زمــوږ نــوی کهــول د ادب لــه افادیــت څخــه دومــره بېګانــه او بېــزاره ولــي دی؟ پــه دې اړه زه پــه دا نتیجــه رســېدلی یــم چــي زمــوږ پـه تعلیمي نصاب کي ادب کله هم له ژوند سره د تعلق پـه اساس نــه دی را وړل شــوی، پــه داســي کتــابونو کــي چــي کــوم نظمونــه، غزلونــه، یــا نــور ادبــي صــنفونه شــامل کــړل شــوي دي او د درس و تــدریس پــه دوران کــي پــه هغــوی بانــدي د څــه فایــده مــن بحــث او مباحثې کله هم حوصله افزایي نه ده شوې، ولـي چـي پـه جماعـت کــي د دې ادبــي فنپــارو بــې معــاني، بــې مقــصده او لــه ژونــد څخــه لیــري تــشریح کلــه هــم پــه لوســتونکو کــي د ادب او ژونــد د تــړون د ســنجولو مــاده نــه شــي پیــدا کــولای، هــم لــه دې کبلــه زمــوږ نــوی کهــول د خپــل تعلیمــي ســفر پــه دوران کــي د ادب لــه یــو محــدود معــاني ســره ژونــد کــوي او یــوائي څــه بــې مقــصده عــشقیه شــعرونه په یاد کړي.

او چــونکې هغــوی ادب لــه ژونــد ســره د تعلــق پــه رڼــا کــي نــه شــي ســنجولای ځکــه پــه هغــوی کــي لــه ادب او ادیــب څخــه د بېــزارۍ رجحــان لیــدل کیــږي، لاکــن کــوم وخــت چــي کلــه هــم لــه دې ځوانــانو ســره مــوږ پــه خپلــو کورســونو کــي ادب د انــساني ژونــد ، ســماجي، ثقــافتي، معاشــي، مــذهبي او سیاســي حــوالې پــه توګــه مبحــث کــړی دی نــو د هغــوی پــه فکــر ي رجحــان کــي یــو څــه څرګنــد بــدلون راغلــی دی او هغــوی ادب او ادبــي روایــات لــه خپلــو حقیقتونــو ســره کتــل پیــل کــړي دي او د هغــوی دننــه د ادب او ادیبــانو دپــاره ګنجــایش

پیدا شوی دی، دا خو یو ډېر کوچنی کوشش دی، چې موږ یې په خپله اداره کې له ځوانانو سره کوو، موږ ویلای شو چې موږ په مجموعي توګه په خپلو ځوانانو او ټولنه کې له ادب څخه د بېزارۍ په سوب د خپلې ټولنې د کړکېچنې په لېرې کولو کې ناکامه یو.

ولې چې په کومه ټولنه کې د ادب او عامو خلکو تر میان فاصله پیدا شي، هلته بیا داسې رجحانات ځای نیسي چې انسان له نورو کشالو سره مخامخ کوي، که موږ نن د خپلې ټولنې جاج واخلو نو به څرګنده شي، چې زموږ په ټولنه کې مذهبي جنونیت، جرمونه، غلا، ډاکې، استحصال او دکرپشن رجحانات ورځ په ورځ زیاتیږي.

زموږ ټولنه دخپل مذهب له ریښتوني مقاصدو، ثقافتي روایاتو، ژبې او تهذیبي قدرونو څخه د لیر کېدو عمل په ډېره تېزۍ سره زیاتیږي، د یوولسم ستمبر د واقعې پس پر افغانستان باندې بمباري او پر عراق باندې د امریکې قبضې وروسته یو واري بیا دنیا په دوو انتهاوو کې تقسیم شوې ده، یوې خواته د امریکې په مشرۍ کې د فري مارکېټ اکانومي یا ګلوبلایزېشن د معاشي ګټو د ترلاسه کولو دپاره پر مخ وړل کیږي، او بلې خواته د اسلام د ریښتیني تشخص د مسخ کولو وروسته د ملا عمر او اسامه بن لادن خود ساخته جهاد ته لاري پرانستل کیږي، د دې دواړو انتها پسندو قوتونو تر میان د نام نهاد تضاد له کبله د ټولې نړۍ سماجي نظام ګډ وډ شوی دی، هم د دې دواړو قوتونو له جوړه د معاشي برابري، مذهبي

روداري او سماجي تحمل تر ميان توازن له مينځه تللی دی، ځکه خو د مارکېټ اکانومي د ناهمواره معاشي نظام له کبله په نړۍ په کروړونو انسانان هر ورځ د غريبي او لوږي له لاسه په ابتري اخته دي، او و بلې خواته د خود ساخته جهاد په سوب بې شمېره انسانان هره ورځ په خپلو وينو لمبول کيږي، په دوارو صورتونو کي له انساني ژوند سره تړلي روحاني، سماجي او سياسي ضرروتونو ته تاوان رسيږي او ماده پرستي زياتيږي، ځکه خو په داسي حال کي له ادب څخه هم د يو مادي څيز رنګه مادي ګټه اخستل کيږي او له دې څخه ګټه يوائي هغه خلک اخيستای شي، چي دا afford کولای شي، ځکه خو ادب اوس تر ډېره حده يوائي د ايليټ کلاس ميراث جوړ شوی دی، څوك چي يې يا خو په پنځه ستورو هوټلونو کي د جوړ کړل شوو تقريباتو له لاري د خپل ساتير دپاره په کار راولي او يا يې له شوره ډکي موسيقي سره په نيمو لغړو نجونو باندي د پکچرائز کولو پس خوند پرې اخلي.

په اصل کي د ادب د دې زوال تر شا د ترقي، تهذيب، سماجي بدلون د کاميابي هغه آباد ياتي او سامراجي تعريفونه دي، چي يو رنګ يې ټوله نړيواله ټولنه په خپل اثر کي نيولي ده، پر ماده پرستۍ اډانه دا تعريفونه اوس زموږ د رويې برخه ګرځېدلي دي، چي زموږ سوچ، فکر، تصورات او خيالات قابو کوي، ځکه چي کله موږ د دې ترقي يا کاميابي عينکو کي د ادب جايزه اخلو نو بيا دا ټول راته هسي بې فايدې شي، ولي چي د ترقي بدلون او کاميابي دا سامراجي رجحانات کور په کور خواره دي.

کله چې موږ په نړۍ کې امن، برابري، ټولنیز انصاف او رواداري و دې وران حال ته ګورو نو په دا چورت وهلو مجبور شو، چې آیا- په داسې حال کې د ادب څه کردار شته هم او که نه؟آیا په داسې حالاتو کې د اوسېدو باوجود موږ د ادب تخلیق جاري ساتلای شو؟ داسې سوالونه د هر لیکوال په ذهن کې راپورته کېږي، خو چې کله بیا موږ تاریخ وګورو، د فرانس، روس او ایران انقلابونو ته وګورو، د برصغیر د ازادۍ جنګ ته وګورو او نور داسې واقعات و پلټو نو موږ ته د دې ټولو تر شا د ادب، ادیب او ادبي ادارو هغه بې شمېره له فکره ډك خیالات او عمل را ښکاره شي، چې د دې بدلون موجب ګرځېدلي دي، نو هغه وخت زموږ دننه هم د ادب د کردار په اړه امید او حوصله پیدا شي، د ادب د دې کردار سنجولو د پاره موږ ته د ترقي د سماجي بدلون پر تعریفونو باندي له نوي سره غور کول په کار دي، د دې خپل او زموږ له حالاتو سره سم تعریفونه کول په کار دي، هم هغه وخت موږ د ادب کردار ته ګوته ورکولای شو، که موږ د امن، برابري، رواداري او ټولنیز انصاف آفاقي اصولونه له ترقي او ټولنیز بدلون سره وتړو نو به د ادب کردار مترقي شي او بیا به ادب یقیناً موږ ته یو داسې سماجي بدلون راوړي، چې هغه به د عدل پر بنیاد وي.

دا هغه وخت کېدلای شي، چې ادب له هر رنګه ازم څخه جلا شي او د انساني اصولونو په اډانه مواد تخلیق کړي، نن ادب باید چې د ظلم، جبر و تشدد، استحصال، مذهبي جنونیت او نوري داسې مسئلې په داسې انداز خپل موضوع وګرځوي چې تر عامو خلکو ورسېږي، هم دغه رنګه په نوي کهول کې د ښه او

مثبت ادبي ذوق د رابیداره کولو دپاره په تعلیمي نصاب کي د ادب نوي تشریح په کار ده، داسي تشریح چي ادب له ژوند سره وتړي، هم هغه وخت به د نوي کهول دننه ادب و ژوند د سنجولو بهترینه ذریعه گرځي.

د ادب تر قیاتي کردار هم دغه دی چي هغه د هر عام انسان و رویو، تصوراتو، کردار او خواهشاتو ته نوې بڼه ورکړي او سماجي انصاف ته وده ورکړي، د ادب د دې کردار د جوت کولو دپاره د ځوانانو او نورو خلکو په ادب کي د شریك کولو او د گټورو مباحثو دپاره د داسي فورم جوړولو ضرورت دی، چیري چي ادیبان او عام خلک په ذهني او فکري لحاظ سره نږدې کړلای شي، که موږ و ځان ته ادیبان وایو او خپل ځان د خپلو سماجي، ثقافتي او ادبي ورثو امین گڼو نو موږ ته له بندو کمرو او و یوه بل ته د شاباش ورکولو له عمل څخه راوتل او پر عوامي ډگر باندي کردار لوبول په کار دی او و عامو خلکو ته هم په ادب کي دننه د موجود ترقیاتي تصوراتو سنجولو کي برخه ورکول په کار ده او د دې خبري غندنه په کار ده، چي ادب تخلیق کول او پر ادب باندي خبره یوائي د هغو خلکو کار دی چي دا "خدا داد صلاحیت" ولري په دې خبره موږ هغه وخت ښه پوهېدلای شو، چي کله موږ د ماضي د ادیبانو او ادب په عوامي کردار خبر یو.

زما خیال دی چي د ادب مترقي کردار او په سماجي بدلون کي د دې کردار هغه وخت په صحیح معنا را برسېره کېدلای شي، چي کله موږ په خپلو ذهنونو کي د ترقي او سماجي بدلون

پـر موجـوده سـامراجي تعریفونـو بانـدي لـه سره سـوچ وکړو او نـوي معنـا ورکـړو هـم هغـه وخـت بـه مـوږ د دې جوګـه يـو چـي د موجـوده ترقيـاتي رجحانـاتو د منفـي اغېزنـي تجزيـه وکـړو ، د خپلـو مځکنـي حقيقتونـو او حـالاتو سـره يـې وګـورو او بيـا د دې تـړون لـه آفـاقي انـساني اصـولونو (امـن، برابـري، سـماجي انـصاف) پـه پـسِ منظـر کـي وګـورو يقينـاً هغـه وخـت بـه مـوږ و دې رجحانـاتو تـه خپـل تعريـف ورکولـو کـي کامیابـه شـو او د ادب د مترقـي کـردار پـه سوب به د يو ښه سماجي بدلون د خوب تعبير ومومندو.

۲۷ اګست ۲۰۰۳ء

# د تهذیبونو تر میان د جنګ حقیقت او د ادب کردار

نن مو ړ د تاریخ پر یو ډېر عجبه درشل ولاړ یو او له دې ځایه د نوي مستقبل یو داسي منظر وینو، په کوم کي چي په نړیواله سطح باندي د اقتصاد له لاري نوي سیاسي او تهذیبي بدلون ته په نوي انداز لاري پرانستل کیږي.

نن و یوې خواته خصوصاً په اسلامي نړۍ کي د مغرب د هغه ناروا عمل خلاف احتجاج روان دی، چي د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په شان کي له سپکاوي سره تړلی دی او سلسله یې د ډنمارك له یوې ورځپاڼي واخلې بیا د اټلي د یو وزیر له خوا په شرټ باندي د هغه ناروا خاکو تر چاپه رسي، و بلې خواته د القاعده او طالبانو په شکل کي د اسلام په نوم یو بنیاد پرست تحریك په نړۍ کي روان دی، چي سلسله یې د سن ۱۹۸۰ء په لسیزه کي له "مجاهدینو" را شروع کیږي او بیا تر اسامه بن لادن، ملا عمر او په پاکستان کي د مذهبي ګوندنو تر اتجاده پوري رارسېږي او په نتیجه کي یې د افغانستان او عراق واك و اختیار و مغرب ته ورکول دربیمي خواته په فلسطین کي د ازادۍ دپاره و هري قرباني ته لقمه وخت تیار او سرګرم تحریك حماس په عوامي چوڼ کي برى تر لاسه کړو خو د

مغــرب واکــداران یــې پــه ترهګــر مــسماکوي او لــه اقتــداره یــې د لیــري ســاتلو دپــاره هڅــې کــوي، د فلــسطین د ازادۍ د جدوجهــد سلــسله لــه ۱۹٤۹ء څخــه را پیــل کیــږي، بیــا د ســن ۱۹۸۰ء او ۱۹۹۰ء د لــسیزو د اولــې او دویمــې انتفــادې پــس د نــن تــر چــونړ را رســېږي، ځلــورمې خواتــه پــه ایــران کــې د جــوهري صــلاحیت تــر لاســه کولــو هڅــې روانــې دي، ټــول مغــرب یــې غندنــه کــوي او لارې یــې نیــسي، دا سلــــسله هـــم لــــه احتجــــاج، مزاحمـــت او جدوجهـــد څخــــه ډك تاریخي پسِ منظر لري.

دا پورتــه ذکــر شــوي حــالات او واقعــات نــن زمــوږ د هــري ورځــې د بحــث موضــوع دی، نجــې مجلــسونه، اخبــاري کالمونــه، د رېــډیو او ټېلیــویژن بحثونــه او ځــای پــر ځــای ترتیــب شــوي ســیمینارونه هــم د دې موضــوع شــا او خــوا ګرځــي او هــر څــو د خپــل ایمــان پــه حــدت او د علــم پــه شــدت ســره خپــل نظــر بیــانوي، زه هــم دا حــالاتو او واقعــاتو تــه پــه تنقیــدي نظــر ګــورم او ځــای پــر ځــای غندنــه یــې کــوم، خــو ورســره- ورســره غــور و فکــر هــم وربانــدي کــوم او د دې سلــسلې کړیــاني پــه ماضــي، حــال او مــستقبل کــې پــه سیاســي، ســماجي او ثقــافتي توګــه لــه یــوه بــل ســره تــړم، ماتــه پــه دې هــره سلــسله کــې دوه شــیان ډیــر زیــات مــشترك ښــکاري او هغــه دي اســلام او مغــرب، اســلام او مغــرب پــه دې هــره واقعــه کــې یــوه بــل تــه مخــامخ ولاړ دي، یــا دا ویــل بــه زیــات ښــه وي، چــې یــوه بــل تــه مخــامخ درول شــوي دي، مــوږ ټــول هــم بــس پــه دې حــالاتو کــې دغــه دوه کردارونــه وینــو، خــو زمــوږ زیــاتره بحثونــه د دې دواړو کردارونــو و دې مقــام تــه د را رســېدلو لــه پــسِ منظــر او تــړون څخــه خــالي وي، خــو حقیقــت دا دی چې:

وقت كرتاہے پرورش برسوں حادثه ايك دم نہيں هوتا

هم دغسي زه دا شمېرم چې د ډنمارك د ورځپاڼي د مدير په ذهن کې یو دم د حضورصلی الله علیه وسلم په شان کې د سپکاوي عمل راغلو او هغه و دې ته عملي بڼه ورکړه او نه زه د طالبانو تحریك، د القاعده وجود او د مذهبي ګوندونو و یو کېده ته د اسلام د رښتیني اصولونو او قدرونو د ترجمان په حیث ګورم، نه خو زه د حماس جدوجهد ترهګري بولم او نه پاکستان یا ایران د اسلام قلعه ګڼم، دا ټول واقعات یو دم نه دي را منځ ته شوي، بلکې د دې تر شا له ډېرو کلونو را هیسې یوه لویه سیاسي لوبه روانه ده، چې موږ یې دا وخت و حقیقت ته یا خو نه رسېږو او یا بیا موږ ته حالات داسې وړاندې کول کیږي چې موږ له اصل حقیقت څخه لیرې ساتي، زه غواړم چې د دې د پسِ منظر په اړه خپله تجزیه له تاسې سره شریکه کړم.

څه له پاسه پنځه سوه کاله وړاندې یورپ د نشاة الثانیه پس د دې دنیا هر کونج ته د تهذیب ورکولو په نوم ورسېدو او هر ځای یې د لوټ مار او استحصال نظام ته وده ورکړه، د دویم نړیوال جنګ وروسته د ترقي په نوم یوه نوې لوبه شروع شوه، چې امریکې یې مشري کوله او د مغرب زیاتره سرمایه دار هېوادونه یې مقتدیان وو او بلې خواته د روس په مشري کې د یورپ او نوري نړۍ ځینې هېوادونو ورسره سیالي کوه، دا دور هم له استحصال څخه ډك وو، دا دور موږ د سوړ جنګ په نامه یادوو، ولې چې دا جنګ د امریکه او مغربي یورپ د سرمایه دارانه نظام او د روس او مشرقي یورپ او ملګرو دا اشتراکي نظام تر میان وو، خو د دې جنګ د پاره د دریمي نړۍ د

هېوادونو مځکه او خلک په کار را وستل شوو، او هغه وخت موږ هم پر خپله مځکه مجاهدین ولیدو، چې په افغانستان کې د شورویانو خلاف جنګېدو او د دې مجاهدینو یو وفد وو چې کله یې د امریکې له صدر رېګن سره لیدل کتل کولو نو صدر رېګن ورته د "آزادۍ جنګیالي" ویلي وو، بیا موږ ولیدو چې د برلن دېوال له نړېدو او له افغانستان څخه د روسي فوځیانو له وتلو سره سم د سرمایه دارانه نظام او اشتراکي نظام دا سوړ جنګ پای ته ورسېدو او دنیا د امریکې په مشرۍ کې د مغرب تر کنټرول لاندي راغله او د کمیونزم په شکل کې موجود دښمن له منځه ولاړ، هم دا هغه وخت دی چې په مغرب کې د یوه نوي دښمن د جوړېدلو تیاریاني شروع شوې، ولې چې د مغرب په نوري دنیا باندې د کنټرول ته د جواز ورکولو او د مغرب نام نهاده جمهوریت او آزادۍ اصولونو پر مخ وړلو د پاره د یو دښمن وجود ډېر ضروري ؤ، ځکه خو مغربي سکالرانو او دانشورانو د خپل علم په زور د یوه نوي دښمن د جوړولو او پیدا کولو هڅې پیل کړې.

کله چې کمیونزم د زوال په خوا روان وو، نو هم هغه وخت لا د نوي دښمن د جوړولو هلې ځلې پیل شوې وې، چې د پري تېستې د پاره یې د سلمان رشدي، "شیطاني آیات" د سن ۱۹۸۸ شا او خوا چاپ کړو او په ټوله اسلامي نړۍ کې د غم او خواشیني اظهار پرې وشو.

زه د سلمان رشدي و دا ناروا عمل ته د یوه نوي دښمن جوړولو د پاره د پري ټېستې په نظر ګورم، ولې چې په دې اړه

مغـرب و ځـان تـه دا معلومـول غوښـتو چـي د اسـلام او مـسلمانانو پــه شــکل کــي پــه نــوي دښــمن کــي ځــومره مزاحمــت او ردعمــل موجـود دی، هـم پـه دې اړه پـه سـن ۱۹۸۹ء کـي "د تـاريخ خاتمـه" (End of History) تـر عنـوان لانـدي د فـرانس "فوکـو ياما" يـو ليـك چـاپ شـو چـي د هغـه زور پـه دې خبـره بانـدي وو، چـي اوس يـو رنګـه د کميـونزم لـه خـاتمې سـره د تـاريخ خاتمـه هـم وشـوه، پـه دې مابعـد تـاريخ دور کـي بـه نـه د آرټ ځـه ارزښـت وي او نـه بـه فلـسفه ځـه معنـا لـري، بلکـې يـواځي بـه اقتـصاد اهـم وي، پـه دې دور کـي بـه تهذيبونـه د ناسـټلجيا ښـکار شـي او لـه دې کبلـه بـه تـصادم او تـضاد پيـدا کيـږي او ترهګـري بـه وده مـومي، پـه دې مـضمون کـي و لوسـتونکو تـه دا رای ورانـدي کـړل شـوې وه چـي اوس د عـامو خلګـو هـر ضـرورت بـه د مغـرب لـه لاري تـر سـره رسـول کيـږي، پـه دې مـضمون کـي د مغـرب بالادسـتي ثابتـه کـړل شـوې ده او پـه دې کي د تصادم او ترهګرۍ غوندي توري د توجه وړ دي.

پـه دې سلـسله کـي پـه سـن ۱۹۹۰ء کـي يـو بـل امريکـي دانـشور برنـارډليوس "د مـسلمانانو د غـصې جرړونـه" (The Roots Of Muslim Rage) تـر عنـوان لانـدي يـوه مقالـه وليکلـه، پـه دې مقالـه کــي هغــه اول ځــل د تهــذيبونو جنــګ/ تــصادم (Clash Of Civilizations) جملــه پــه کــار راوســته او د اســلام او مغــرب غونـدي تـوري يـې پـه وار- وار د يـوه بـل مخـالف پـه توګـه اسـتعمال کـړو، پـه دې مقالـه کـي برنـارډ ليـوس ويلـي دي، چـي پـه اصـل کـي اسـلام زمـوږ د مغربـي تهـذيبي حقيقـت، يهـودي او عيـسايي ورثـه، سـيکولر حيثيـت او پـه دنيـا کـي هـر ځـای زمـوږ د موجـودګي پـه اړه لـه مـوږ سـره سـيالي نـه شـي کـولای، ځکـه هـر وخـت اسـلام د امريکـه

مخالفت کوي، ولې چې امریکه د مغرب قایده ده، دلته هم خبره ببرته د اسلام او مغرب شا او خوا ګرځېدلې ده، د دې ثابتولو کوشش په کې شوی دی، چې د اسلام او مغرب تر مابین یو تهذیبي جنګ ته هوا ورکړل شي.

له دې پس په سن ۱۹۹۳ء کې د سیموئیل هنټنګټن "د تهذیبونو تصادم" (The Clash Of Civilizations) مقاله تر چاپ لاندې راغله او د دې په اړه د دنیا په هر کونج کې بحث شروع کړل شو، هم دا مقاله له څه نورو اضافو سره په سن 1996ء کې په کتابي بڼه کې هم خوره کړل شوه، دې مقالې په دنیا کې و یوه نوي بحث ته وده ورکړه، په دې کې سیموئیل هنټنګټن دا تهیسس وړاندې کړی وو، چې د نن جدیدې دنیا ته د تهذیبونو تر میان د جنګ/ تصادم مسله وړپېښه ده، هغه لیکلي وو، چې اوس به په را روان وخت کې د تهذیبونو تر میان جنګ د دنیا د سیاسي هدفونو تعین کوي، هغه ویلي وو، چې اوس به جنګ د تهذیبونو تر میان وي، او په دې کې به هم تر ټولو لوی جنګ د اسلام او مغرب تر میان وي، ګوا دلته هم د اسلامي او مغربي تهذیبونو تر میان د جنګ خبره په ګوته کړل شوه.

هغه وخت که یوې خواته د تهذیبونو تر میان د جنګ خبري د هر فورم موضوع وې، نو و بلې خواته په مغربي میډیا باندې د اسلامي بنیاد پرستي او ترهګري خبري هم پیل شوې، و دریمې خواته هم په هغه دور کې د افغان مجاهدینو باقیات د طالبانو په شکل کې راپورته شو او اسلامي بنیاد پرستي یې په عملي توګه شروع کړه، ځکه مغربي میډیا د یو وخت "د آزادي

جنګیالو" تـه د دې وخـت بنیـاد پرسـت او ترهګـر خطابونـه ورکـړو، او هـــم یـــې د ترهګـــر لاحقـــه د فلـــسطین د آزادۍ د پـــاره لـــه جنګېدونکو فلسطینانو سره وتړه.

د فرانـــسس فوکویامــا، برنــارډ لېــوس او ســېموئیل هټنګــټن د تهــذیبونو تــر میــان د تــصادم و تهیــسس تــه طالبــانو عملــي شــکل ورکـړ او هـم لـه دې سـره پـه څنـګ کـي القاعـده ه وزېـږول شـوه او بیـا مـوږ ولیـدو چـي د یوولـسم سـتمبر واقعـه وشـوه، او ذمـه وار یـې بغیـر د څـه تحقیـق اسـلام او اسـلامي بنیـاد پرسـت وګرځـول شـو، خـو پـه حقیقـت کـي مغـرب پـه خپلـه د یوولـسم سـتمبر واقعـه پـلان کـړې وه.

هـم لـه دې واقعـې وروسـته پـر افغانـستان د حملـې پـه وخـت کـي پــه پاکــستان کــي د مــذهبي ګونــدونو اتحــاد جــوړ کــړل شــو، چــي وخــت پــر وخــت پــه پاکــستان کــي دننــه د مغــرب خــلاف مزاحمــت موجــود وي، چــي واقعــي هــم اســلامي بنیادپرســتي ثابتــه کــړلای شــي، نــن هــم د اســلامي بنیــاد پرســتي پــه رنــګ کــي طالبــان پــه افغانــستان او القاعــده د دنیــا پــه نــورو هېوادونــو کــي د مغــرب خـلاف بریدونـه کـوي، خـودکش حملـې پلانـوي او پـه هـر لحـاظ دا ثـابتوي چـي د تهـذیبونو تـر میـان جنـګ یـو حقیقـت دی، ځکـه خـو د دې جنــګ لمبــې پــه دنیــا کــي راپورتــه کیــږي کلــه کلــه زمــوږ پــه هېــواد کــي تــر شــمالي او جنــوبي وزیرســتان او بــاجوړه پــوري هــم را ورســیږي، هــم پــه دې اړه کــي تــازه واقعــه د حــضورρ پــه شــان کــي سـپکاوی دی، دا ټـول عملیـات مغـرب پـه خپلـه تخلیـق کـوي او بیـا یــې و میــدان تــه راوړي یــوائي د دې دپــاره چــي د تهــذیبونو تــر

میـان د خیـالي جنـګ خبـره پـه حقیقـت بدلـه کـړي، او اسـلام او د اسـلام پـه شـکل کـي بنیادپرسـتي او ترهګـري دمغـرب دښـمني وګرځوي.

اول کـه بـه مغـرب کمیـونزم د نـام نهـاد جمهوریـت او آزادۍ دښـمن جـوړ کـړی وو، او خپلـي د اسـلحې کارخـانې یـې پـه چلـولې اوس هـم هغـه مغـرب اسـلام او ترهګـري د دښـمن پـه توګـه پروپیګنـډه کـوي، او پـر دنیـا بانـدي خپلـي حکمرانـي تـه دوام ورکوي.

زمـا پـه نـزد پـه دې کـي شـك نـه شـته چـي داسـي حـالات او واقعـات مغـرب پـه خپلـه جـوړوي او پـه مـوږ کـي دننـه نـن هـم د میـر جعفـر رنګـه خلـګ د ځـان ملګـري کـوي، او د تهـذیبونو پـه دې جنـګ کـي ولـن هیـرو او هیـرو ولـن ثـابتیږي، دلتـه د فلـسطین د آزادۍ دپـاره جنګېـدونکي هـم ترهګـر بلـل کیـږي، دلتـه د خپـل اسـلامي تـشخص د دفـاع دپـاره کېـدونکي هڅـي صـرف او صـرف د دې دپـاره بنیـاد پرسـتي بلـل کیـږي چـي ډېر نـن میـر جعفـران نـن هـم د اسـلام پـه لبـاده کـي د مغـرب و دهـشت ګـردي تـه وده ورکـوي، مغـرب پـه خپلـه پـر هـر فـورم بانـدي د تهـذیبونو جنـګ یـو حقیقـت ثـابتوي ځکـه کلـه د ازواجِ مطهـرات سـپکاوی کـوي، کلـه د حـضورp پـه شـان کـي نـاروا حرکتونـه کـوي او کلـه د اټلـي د وزیـراعظم برلـسکوني غونـدي دا بیانونـه ورکـوي، چـي پـه اصـل کـي پـه اسـلام او مـسلمانانو کـي دا صـلاحیت نـه شـته چـي هغـه د مغـرب لـه جدیـدیت سـره سـیالي وکـړي، ځکـه یـې خـلاف دي، دا ټـولي هلـې ځلـي د دې دپـاره کیـږي چـي د مـسلمانانو جـذبات را

وپـاروي او هغـوی د مغـرب خـلاف مزاحمـت وکـړي، چـي بيـا دوی پــه اسـاني سـره دا ووايـي چـي وګـورئ د تهـذيبونو تـر ميـان جنـګ يو حقيقت دی.

زمـا پـه خيـال د تهـذيبونو تـر ميـان جنـګ څـه حقيقـت نـه لـري خـو د حقيقــت رنــګ ورکــول کيــږي ځکــه خــو د ايــډورډ ســعيد رنګــه دانـشوران و دې تهيـسس تـه "د جهالـت تـصادم" ( The Clash Of Ignorance) وايــي، ولــي چــي د تهــذيبونو تــر ميــان تــصادم کلــه کېـدلای شـي، د تهـذيبونو تـر ميـان د مـصنوعي جنـګ يـو حقيقـت ثـابتولو تـر شـا کـه يـوې خواتـه د مغـرب د اسـلحې کارخـانو چلولـو مقـصد پـټ دی نـو وبلـي خواتــه د آزاد تجـارت او لبـرل اکـانومي دپــاره هــم لاري پرانــستي کيــږي، چــي پــه دې بهانــه مغــرب پــه سياسـي، ثقـافتي او اقتـصادي توګـه پـر ټولـه دنيـا خپـل جـال را وګرځـوي او فايـدې ځنـي واخلـي، نـن مغـرب تـر ډېـره حـده پـه دې کي بريالی ښکاري.

اوس دلتـه سـوال دا پيـدا کيـږي چـي د تهـذيبونو تـر ميـان د دې مـصنوعي جنــګ پــه اړه د ادب څــه کـردار جـوړيږي؟ آيـا- پــه دې دور کـي د ادب څـه کـردار شـته هـم او کـه د فوکـو يامـا دا خبـره يـو حقيقـت ده چـي پـه دې مابعـد تـاريخ دور کـي د فـن او فلـسفې بـه څـه ارزښـت نـه وي، ولـي چـي اوس بـه د هرچـا د ضـرورت دپـاره ريـډي ميـډ حـل دسـتياب وي، مغـرب لګيـا دی د هرچـا د ضـرورت د پـوره کولـو دپـاره تخليـق کـوي، پـه داسـي حـال کـي پـه کـار دی چـي مـوږ د ادب د ضـرورت او ارزښـت پـه اړه څـه زيـات حـساس شـو او پــه دې بانـدي غـور وکـړو، ولـي چـي هـم لـه دې لاري پـه عـامو خلګـو کـي يـو تنقيدي پاڅون ممکن دی.

ادب هغه ارزښتناکه ذريعه ده چې تر خلګو پوري د ډېرو پېچلو کشالو حقيقت رسولای شي، ځکه خو زه په دې دور کې د ادب کردار ډېر زيات اهم بولم. په کار خو دا دی چې د نن اديب د تهذيب و ثقافت د امين په توګه د تهذيبونو تر ميان د مصنوعي جنګ په حقيقت نه يوائې ځان خبر کړي بلکې د خپلو ليکونو موضوع دې يې وګرځوي او د خپلو ليکنو له لارې دې دا حقيقت و خپلو لوستونکو ته ورسوي، ولې چې زموږ ساده خلګ د نن په دور کې خپل جذبات لا هم له استحصاله څخه نه شي ژغورلای، ولې چې د عامو خلګو د استحصال د پاره ډېري ادارې او ذرايع خپل کردارونه لوبوي، نن هم د څه دغه رنګه ادارو او ذرائعو له وجې د خلګو د مذهبي جذباتو استحصال کيږي او هغه مغرب ته په داسي طريقه مخامخ کوي، چې تاوان ځان ته او خپلوانو ته رسوي، زموږ ليکوال بايد چې د اسلام په اصل جوهر باندي ځان خبر کړي او د اسلامي اقدارو د مسخ شوي بڼو غندنه وکړي. زه دا نه وايم چې ليکوال دې وعظ شروع کړي، لاکن د حقيقت څرګندونه بايد د ادب اولني مقصد وګرځي زما دا يقين دی چې کوم کار يو تحريك نه شي کولای هغه کار کله کله يو شعر، يوه افسانه او يو ناول وکړي، په ادب کې پر انساني جذباتو اغېز نه کولو صلاحيت موجود دی، نو بايد موږ له دې صلاحيته کار واخلو، د خپل تخليقي کښنوس لږي پراخ کړو، ادب په کونجانو کې محدود نه وساتو بلکې د هغه تعلق له نړيوالي منظرنامې سره وګورو، ولې چې موږ اوس په کوم دور کې ژوند کوو، په دې دور کې د ذات پر کاينات او د کاينات پر ذات باندې د سترګو په رپ کې اثر کول اوس څه خيالي خبره نه ده، صرف و دې حقيقت ته رسېدل غواړي.

زما یقین دی که زموږ لیکوال د تهذیبونو تر میان د مصنوعي جنګ حقیقت د خپلو تخلیقاتو له لاري را برسېره کول پیل کړي نو به نړۍ له یو نوي او مثبت بدلونه سره ضرور مخامخ کیږي.

کوټه

۱۹ فروري ۲۰۰۶ء

*((په دې مقاله کي له ایډورډ سعید څخه استفاده شوې ده))*

# یو یشتمه پېړۍ او د نوي ادبي موضوعاتو ضرورت

لکه څرنګه چې د ادب لمنه پراخه ده، هم دغه رنګه د ادبي موضوعاتو دایره هم ډېره وسیع ده، ولې چې که ادب ته د ژوند آئینه ویل کیږي نو لازمه ده چې په دې کې به د انساني ژوند د موضوعاتو څېړنه هم کیږي، هغه که سیاسي وي، ثقافتي وي، معاشي او که سماجي وي، په ادب کې د هر اړخ څېړنه په څه نه څه رنګ کې شوې ده، خو دا څېړنې تر کومه حده د موضوع و اصل حقیقت ته نږدې دي، په دې کې بهرحال سوالونه موجود دي، ولې چې ادب په خپل ارتقایي عمل کې د تاریخ په لوړ ژورو باندې څه فرق کړی دی، او په دې لوړو ژورو کې یې د خپل وخت له سیاسي، ثقافتي، معاشي او سماجي چاپېرچل څخه اثر ضرور اخستی دی، او د هغه وخت رجحاناتو ته یې وده ورکړې ده، هر وخت چې یوه نوې نظریه راپورته شوې ده، یا په فلسفه کې یو نوی رنګ را پیدا شوی دی، نو د ادب یوه لویه برخه له هغه څخه اغېزنه شوې ده او هغه نظریاتي او فلسفیانه موضوعات یې په خپل قالب کې څېړلي دي، او تر ډېره حده یې څېړلی دی، کله- کله خو ادب په دې موضوعاتو کې دومره بوخت شوی دی، چې له انساني ژوند سره یې اړیکې ډېرې کمې

پاتـه شـوي دي او پـه داسـي حـال کـي ادب د یـو خـاص ډلـي تـر پـوهي پوري محدود شوی دی.

کـه مـوږ د تېـر پنځـه سـوه کالـه پـر ادب یـو زغلنـد نظـر واچـوو نـو بـه دا خبـره ځرګنـده شـي، چـي ادب څنګـه د عـام انـساني ژونـد لـه موضـوعاتو لیـري شـوی دی او د هغـه وخـت د رجحانـاتو پـه بهیـر کـي بهېـدلی دی، تـاریخ مـوږ تـه راښـيي چـي پـه پنځلـسمه پېـړۍ کـي پـه یـورپ کـي لـه جدیـدیت پیـل هـم وشـو، یـو داسـي جدیـدیت چـي د انـسان پرسـتي نـاره یـې پورتـه کـړه، ځکـه ارزښـت یـوائي و انـسان او د انـسان و وجـودي او طبعـي ضـرورتونو تـه ورکـړل شـو، چـي پـه نتیجـه کـي یـې یـوې خواتـه د انـسان روحـاني ضـرورتونو او مـذهبي حقیقتونـو خپـل ارزښـت وبـایلو او و بلـي خواتـه یـې یـوائي او یـوائي و انفرادیـت تـه وده ورکـړه، پـه هـم دې دور کـي چـي کـوم ادب تخلیـق کېـدو د هغـه موضـوع هـم د انـسان د وجـودي حیثیـت شـا او خـوا ګرځېـدو هـم دغـه دور وو، چـي یـورپ د دنیـا د تـسخیر پـر خـوا توجـه ورکـړه او د سـیل پـه نـوم یـې د دنیـا پـه هـر کـونج کـي موجـودو وسـایلو بانـدي قبـضه شـروع کـړه چـي زیـات نـه زیـات دولت لاس ته راوړي او د زیات طاقت خاوندان شي.

د پنځلـسمي پېـړۍ د یـورپ بیـداري د دنیـا هـر ګـوټ پـه یـوه نـه یـوه شـکل کـي تـر خپـل اغېـز لانـدي راوړو او پـه قـدم- قـدم یـې و نـسل پرسـتي تـه وده ورکـړه، ولـي چـي د یـورپ پـه نظـر هغـوی اعـلیٰ او برتـر نـسل ؤ او نـوري دنیـا د دوی و ذهانـت تـه اړه لرلـه او د دوی د غلامـي دپـاره پیـدا شـوي وو، ځکـه خـو پاتـه واړه دنیـا د

یـورپ تـر غلامـي لانـدي وه او د دوی پـر سـلطنت کلـه هـم لمـر نـه پرېووت.

پـه دې دور کـي کـه یـوې خواتـه د دنیـا یـوه لویـه برخـه پـه طبعـي توګـه د یـورپ تـر غلامـي لانـدي وه، نـو بلـي خواتـه پـر عـالمي سـطح بانـدي هـم داسـي کوشـشونه روان وو، چـي د یـورپ و دې جارحیـت او قبـضې تـه نظریـاتي او علمـي جـواز ورکـړي، کلـه چي پـه نولـسمه پېـړۍ کـي صـنعتي انقـلاب راغلـو نـو هغـه وخـت خـصوصاً د سـماجي علومـو دانـشورانو پـه هـر اړه د انـسان د انفـرادي فایـدو پـر خـوا زیاتـه توجـه ورکـړه، ولـي چـي د دې صـنعتي انقـلاب ګټـه هـم یـواځي پـه دې کـي وه، چـي انفرادیـت او د انـسان انفـرادي ضـرورتونه دي ارزښـت ولـري ځکـه خـو پـه علمـي او عملـي دواړو سـطحو بانـدي د هـر هغـه نظریـې او عقیـدې لـه منځـه د وړلـو کوشـشونه کېـدلو چـي انـسان د اجتماعیـت پـر خـوا پـاروي، پـه دې اړه د هغه وخت درې نظریې د ذکر وړ دي.

- اولـه نظریـه د انفرادیـت پـسندي وه، چـي زور یـې پـر فـرد باندي وو او د معاشرې اجتماعي رنګ یې نه خوښولو.

- دویمـه نظریـه د آیـډیلزم وه چـي هغـه د معاشـرې پـر بڼـه دومـره زیـات زور ورکولـو چـي پـه هغـه کـي د فـرد ارزښـت هـډو نـه ښکارېدو.

- درېیمـه نظریـه د نامیـت یـا Organism وه چـي مقـصد یـې دا وو چي هر سړی دي له خپله کاره سره کار لري پر نورو دي کار نه لري.

د دې درې واړو نظریو بنه که څه هم له یوه بله څه بېله وه، خو د درې واړو مقصد و انفرادیت ته وده ورکول وو، او د انسان د اجتماعي او سماجي اړخ یې له دې کبله له منځه وړو چې هم د یورپ کارخانې وچلیږي او هم په زیاته توګه د هغوی د مصنوعاتو اخستونکي پیدا شي، که څه هم په دې دور کې د اشتراکیت نظریه هم منځ ته راغله خو د دې زور هم د انسان پر مادي ضرورتونو باندي وو، د ډارون د ارتقاء نظریه هم د دغه دور پیداوار ده چې دغه وخت د صنعتي او ساینسي ترقي د پاره یو بل اهم جواز جوړه شوه.

ولي چې دې نظریې د انسانانو پر مذهب باندي عقیده تر ډېره حده ولړزوله او له دې سره سره یې و مغربي طاقت ته پر بل د قبضې کولو علمي بنسټ ورکړ، چې د خپل بقا د پاره د بل پر مرګ پښه ږدل څه بد کار نه دی، هم و دې ته "بقاء اصلح " وایي.

په شلمه پېړۍ کې یوې خواته انسان په مادي توګه په ډېره تېزي سره پرمختګ کولو او و بلې خواته و دې مادي پرمختګ ته پر عالمي سطح لاري پرانستې کېدې، په دې پېړۍ کې دنیا له دوو لویو جنګونو سره مخامخ شوه، ډېر شیان لکه موټر، هوایي جهاز، ټي وي، رېډیو، ایټم بم حتیٰ کمپیوټر په دې پېړۍ کې ایجاد شو، انسان پر سپوږمۍ قدم کښېښو، په سیاسي توګه د دنیا په درې برخو و بېشل شوه اوله نړۍ پر یورپ او امریکه مشتمله وه، په دویمه پېړۍ کې اشتراکي هېوادونه شامل وو، چې دایره یې له ایشیا څخه تر مشرقي یورپ او لاطیني امریکه پوري خوره وه، په دریمه نړۍ کې

زیاتره هغه هېوادونه شامل وو، چې د یورپ له قبضې څخه آزاد شوي وو، په هم دې پېړۍ کې امریکه د نوي معاشي قوت په حیث راپورته شوه او بیا په هم د دغه پېړۍ کې په اخري لسیزه کې د سوویت یونین له ماتېدو سره دا سوړ جنګ و پای ته ورسېدو، خو د طالبانو په شکل کې د هم دې پېړۍ په اخري کلونو کې یو نوی بنیاد پرست تحریك راپورته شو، په دې پېړۍ کې که یوې خواته په سیاسي، معاشي او ساینسي سطح باندې دا پورته ذکر شوي واقعات او ایجادات په ډېره تېزي سره کېدو نو و بلې خواته ډېرې داسې علمي او ادبي نظریې او موضوعات هم را برسېره کېدل چې زیاتره به یې و دې حالاتو ته وده ورکوله یا به یې څه لږ ډېر اختلاف ورسره لرلو، د فرایډ نفسیات د انسان هرڅه د هغه پر جنسي ضرورتونو ودرولو او دایې وویل:

"چې هر انسان د خوند غوښتونکی دی او له تکلیف څخه لیرې تښتي، فرایډ دا وویل: "چې هر انسان نفس پرست دی، د هغه له مذهب سره هیڅ اړه نه شته، په هم دې دور کې یو بل عالم دا خبره راپورته کړه چې انسان تر هغه پورې هیڅ نه شي کولای چې نس یې ډك نه وي، بي ایف سکنر هم څه دا رنګه نظریه وړاندې کړه چې انسان په فطري طور خود غرض دی، هغه چې هرڅه کوي یواځې یې د ځان دپاره کوي، په دې پېړۍ کې د وجود پرستي، ساختیات او پسِ ساختیات رنګه ادبي نظریې هم راپورته شوې، چې تر اوسه پورې په ادبي موضوعاتو کې څېړل کیږي، دا او دا رنګه ټولې نظریې یواځې د دې دپاره جوړې کړل شوې دي چې هغه د انسان تعلق یواځې د هغه له وجودي او انفرادي ضرورتونو سره مهم وګرځوي او هر هغه

روحاني قوت او جبلي محرکات تر پښو لاندي کړي کوم چي په انسان کي اجتماعي سوچ پيدا کوي او د هغه دننه د ازادۍ او ښېګړي جذبه پاروي ولي چي دا خبره له تاريخه هم څرګنده ده چي هر کله انسانانو خپل سوچ يو کړی دی او له خپلو طبعي ضرورتونو سره- سره يې د خپلو روحاني حقيقتونو ادراك کړی دی، نو هلته د هغه قوتونو خلاف ضرور آواز پورته شوی دی، کوم چي د ظلم په زور ولاړ وي.

په شلمه پېړۍ کي دا سي سياسي نظريو هم ډېر زور واخيستو چي په څه نه څه توګه يې يا خو لږ بدلون راوست او يا يې دې نظريو ته دوام ورکړ په دې کي د استراکيت او کميونزم او نظريې د ذکر وړ دي، چي تر څه وخته پوري يې د سرمايه دارانه نظام څه نه څه مخه نيولي وه، خو چونکې د دې نظريې ماخذ هم د انسان مادي او وجودي ضرورتونه وو، ځکه يې دوام نه وموندو، د دې په تقليد کي د قوم پرستي نظريه هم ډېره رابرسېره شوه خو لاتراوسه د خپل منزل په تکل ده، د دې په ضد په هم دې پېړۍ کي د رجعت پسندي او بنيادپرستي هلي ځلي هم زياتي را پورته شوې، خو دلته دا خبره د ياد وړ ده، چي زموږ په مځکه د قوم پرستي او بنيادپرستي سوچ د سوړ جنګ د وخت حقيقتونه دي.

په نړيواله توګه بلي خواته هنري کسنجر ونړيوال طاقت ته عالمي لار ور ښوولو کوششونه کول. "مېکسم ګورکي" دوستووسکي غوندي ليکوالو د خپل اشتراکي سوچ په لاره خپل قلم چلولو.

جارج آرویل د کمیونزم خلاف، "اینمل فارم" ولیکلو، له دې سره سره د 1936ء شا او خوا په پاکستان کي هم د ترقي پسندو لیکوالو تحریك شروع شو، چې زیاتره لیکوالو لیکونه د اشتراکیت تر اثر لاندي راغلو، په دغه دور کي تخلیق شوی زیاتره مواد په اصل کي د سوړ جنګ د موضوعاتو په اړه دی، چې شاید ادب په کي کم او پروپېګنډه زیاته ښکاري، کله چې سوړ جنګ و پای ته ورسېدو پر دنیا د امریکې باچهي شوه نو په داسي حال کي ضرورت د دې خبري وو، چې امریکه د خپل وجود د بقا د پاره څه نوی دښمن پیدا کړئ، ولي چې د امریکې دا وسلې د کارپورېشنونو د بقا سوال وو، نو په هغه ورځو کي سوکه سوکه پر نړیوال ټېلیوېژن چینلونو او اخبارونو باندي د دهشت ګردي او بنیادپرستي خبري شروع شوې.

د دهشت ګردي او بنیادپرستي په شکل کي د امریکې د نوي دښمن د پیدا کولو د پاره د یو علمي او دانشورانو توثیق هم ضرورت وو، ځکه په ۱۹۹۳ء کي سېموئیل هنټنګټن د تهذیبونو تصادم" په نوم یوه مقاله ولیکله چې بیا له څه نورو تفصیلاتو سره د کتاب په بڼه کي چاپ شوه، په دې کتاب کي هغه ولیکل: "چې په را روان وخت کي به لویې شخړي د قومونو او تهذیبونو تر میان کیږي او په دې کي به هم زیاته لویه شخړه د اسلام او مغرب تر میان وي، هم دغه وجه ده چې د سوړ جنګ پس د اسامه بن لادن او ملا عمر ذکر هر چیري کیږي او په دنیا کي کېدونکې هره دهشت ګردي له اسلام سره تړل کیږي چې سلسله یې د یولسم ستمبر تر واقعې نه تر افغانستان او عراق پوري رسي، یعني اوس اسلام او د اسلام په رنګ کي بنیاد پرست د امریکې دښمن دي، موږ و یویشتمه پېړۍ ته د

تهذيبونو تر مابين جوړ کړل شوې له دې خود ساخته شخړې سره ورداخل شوي يو او ژوند ورسره کوو، په دې يويشتمه پېړۍ کي ټول انسانان په سياسي توګه د امريکې او دهشت ګردو تر ميان په دې خود ساخته شخړه اخته کړل شوي دي او هم په معاشي توګه يې د ګلوبلايزېشن يا عالمګيريت په سحر اخته کړې دی، د دواړو مقصد په اصل کي عام انسانان داسي په قابو کي ساتل دي، چي هغه يوائي صارفين جوړ شي، او نور څه سوچ ونه کړي، د هغو زياتره توجه پر دې مادي شيانو او ضرورتونو کي وي، د هغوی دپاره انساني جذبات او اقدار څه معنا ونه لري.

دا اوس هم د دې عالمګيريت نتيجه ده چي دلته له انساني جذباتو څخه هم مالي فايده اخستل کېږي، ځکه خو اشتهارونه موږ ته دا را ښيي چي که څوك زيات ايريل سرف واخلي نو د دې جوړوونکي به د محرومه کوچنيانو د تعليم دپاره چنده ورکوي، يا بيا تر هغه پوري يوه مړور د خوابنې په زړه کي ځای نه شي پيدا کولای، چي ترڅو يې يو خاص قسم چای نه وي جوړي کړې، يا په خاص قسم غوړو کي يې خورك نه وي تيار کړی، هم دا اشتهارونه انساني جذبات دا رنګه خرڅوي چي د يو غنم رنګې نجلۍ واده تر هغه پوري نه شي کېدلای، چي فيراينډ لولي کريم يې نه وي لګولی.

په دې يويشتمه پېړۍ کي يوائي يو شی اهم دی هغه دی مالي ګټه د دې تر مخه انسان يا انساني جذبات تر دې زيات

نوره هيڅ معنا نه لري چي له هغه څخه دي مالي ګټه پورته کړل شي.

په دې ټولو حالاتو کي ادب يوائي د تفريح يا سات تېري دپاره پاته شوی دی، هغه زړې خبري په بل رنګ کي بيانېږي، ځکه ادب يوائي تر ليکوالو پوري محدود شوی دی او موضوعات يې هم پراخ شوي نه دي او بل يې له انساني ژوند سره اړيکي هم شلېدلي دي، څه نوي موضوعات و ميان ته نه دي راغلي، داسي موضوعات چي هغه د خپل عصر د روانو معاشي، سياسي او سماجي رجحاناتو له اثره څخه څه جلا خبره کړې وي، دلته به دا ووايم چي ادب خو يو داسي ميدان دی، چي په هغه کي د ژوند هر اړخ موجود وي، نو په کار خو دا دی چي ادب د ژوند پر هر اړخ باندي اثر واچوي، نه چي د نورو اړخونو د ښو او بدو رجحاناتو په بهير کي وبهيږي، د نن دنيا چي څومره کړکېچنه شوې ده، تر دې له مخه دومره نه وه، ځکه خو د انساني ژوند مسئلې هم زياتي کړکيچني شوي دي او دا ځکه داسي دي چي د دنيا په ډېرو زياتو انسانانو باندي يوه مخصوصه ډله باچهي کوي، د دنيا شل فيصده کسان پر اتيا فيصده وسايلو باندي قابض دي او پاته اتيا فيصده انسانان له شلو فيصدو وسايلو څخه خپل ضرورتونه ترسره کوي، نو په داسي حال کي به مسايل ارومرو زياتيږي او دا مسئلې به تر هغه وخته پوري نوري هم زياتيږي، چي تر څو پوري چا پر دې آواز نه وي راپورته کړی او هغه ټولي نظريې او رجحانات يې چېلنج کړي نه وي کوم چي انسانان د انفراديت پسندي پر خوا بيايي.

زمـا خیـال دی چـي پـښتنو لیکوالـو تـه هـم خپـل ادبـي موضـوعات پراخـول پـه کـار دي، ولـي چـي اوس "ادب د پـاره د ادب" او "ادب د پـاره د ژونـد" بحثونـه ډېـر زاړهٔ شـو، اوس پـه ادب کـي داسـي موضـوعات پـه کـار دي چـي هغـه لـه ژونـد سـره تړلـي وي، داسـي موضـوعات چـي هغـه پـر ځـایي سـطح بانـدي پـه تېـزۍ سـره د راتلـونکي بـدلون اثـرات د نړیوالـو حـالاتو پـه رڼـا کـي وګـوري او د هغـه تعلـق د انـسان د ژونـد سیاسـي، سـماجي، ثقـافتي او مـذهبي اړخونـو سـره وڅېـړي، ولـي چـي اوس دا خبـره څرګنـده ده، چـي پـه زرګونـو میلونـو لیـري پیـدا شـوی بـدلون پـر مـوږ او زمـوږ پـر ټـول تنـاظر بانـدي د خپلـو تېـزو ذریعـو خـصوصاً مېـډیا لـه لاري اثـر اچـوي، د کومـو لـه وجـي چـي اوس نـه یـوازې د ژبـو سـوچه حیثیـت تـه تـاوان رسـېږي او تهـذیبي پېژنـدګلوي او شـناخت سـره ګـډ وډ کیـږي، بلکـې پـه سیاسـي، معاشـي او مـذهبي توګـه هـم پـه ټولـه انساني معاشره کي انتشار او ګډوډي پیدا کیږي.

پـه داس حـالاتو کـي ضـروري نـه ده چـي مـوږ دي د نړیـوالي سـطحي لـه رجحانـاتو او نظریـو سـره خپـل ادب سـیال کـړو، ولـي چـي د دې سـیالي د پـاره خـو بـه مـوږ خپـل اصـل جرړونـه پرېـږدو او د بـل پـه پلـه پـسې بـه ځـو، چـي یـو ښـه عمـل شـاید نـه دی، حق خـو دا دی چـي مـوږ پـه دا خپـل تنـاظر کـي داسـي تخلیقـات را برسـېره کـړو چـي د هغـه ښـه آفـاقي وي، ضـروري نـه ده چـي رجحـان او نظریـه یـې پـر نړیوالـه سـطح بانـدي دا روزمـره لـه ضـرورتونو سـره سـم وي، نـن کـه تخلیـق کیـږي او کـه تنقیـد، پـه موضـوعاتي اعتبـار نـوی والـی غـواړي، زمـوږ و موضـوعاتو تـه د جدیـدیت دومـره ضـرورت نـه شـته لکـه څـومره چـي د جـدت دی او دا جـدت هغـه وخـت راتـلای

شـي، چـي مـوږ لیکـوال خپلـي سـترګې او غوږونـه خـلاص کـړو، پـه نړیوالـه سـطح بانـد د راتلـونکي بـدلونونو پـر خپلـه ځـایي سـطح بانـدي تجزیـه وکـړو او هغـه د خپـل لیـك موضـوع وګرځـوو، کـه څـه هـم د دارنګــه موضــوعاتو ډېــري اشــارې د نــن پــه پــښتو ادب او خـصوصاً شـاعري کـي لـږ- لـږ لیـدل کیـږي، کـه نـور کـار پروسـي نـو دا زیـات جـوت کېـدلای شـي، او زمـا پـه خیـال هـم دغـه د یـو سـوچه ادب مرام جوړیږي.

کوټه

۲۳ اګست ۲۰۰۴ء

# ژبه، قدرونه او ګلوبلایزېشن

دیو قام د پېژندګلوي تر ټولو لویه نخښه ژبه ده، ژبه د انسانانو تر میان د ورځني ژوند د اړیکو په اړه ډېر زیات ارزښت لري ژبه هغه ذریعه ده، چي هم انسان د خپلو جذباتو او احساساتو بشپړه اظهار پرې کوي او هم د ګڼو قامونو په میان کي خپله پېژندګلوي په کوي، هم دغه ژبه ده چي د یو قام د کلتور هر اړخ خوندي کوي. تاریخ ګواه دی، چي هره ژبه ورکه شوې ده نو د هغه ژبي څښتن قام هم او د هغه واړه کلتور (ثقافت) هم ورك شوی دی، ولي چي د ژبي یو- یو توری (لفظ) د ویونکي قام رسمونه، رواجونه او شناخت ژوندی ساتي.

په حقیقت کي ژبه صرف د تورو مجموعه نه ده بلکې هر توری پر خپل ځای باندي یو قدر دی او هغه قدر د هغه قام د کلتور برخه ګرځېدلې وي. ځکه مورږ ژبه، توري او قدرونه نه شو سره بېلولای او نه یې بېلېده څه هوښیاري ده، د تورو ارزښت د ژبو له ابتدا څخه پر خپل ځای پروت دی، دا بېله خبره ده چي په دې ارزښت څوك خبر دی او چا د دې خواته پاملرنه نه ده کړې.

پښتو یوه ډېره زړه ژبه ده چي تر شا د زرګونو کلونو تاریخ لري، نو ځکه د پښتو ژبي توري هم، که هغه د هري لهجې وي، یواځي د ابلاغ آلې نه دي، بلکې دا د ډېرو ثقافتي قدرونو

ښکارونه هم کوي، هغه ثقافتي قدرونه چې زموږ اصل شناخت او بنيادي ځانګړتيا پرې کيږي، د مثال په توګه "ننواتي" يو توري نه دی بلکې قدر دی، يو داسې قدر چې و پښتون ته د صبر، تحمل او حوصلې زده کړه ورکوي، د دې توري تر شا يو داسې پښتني رواج پټ دی چې د امن او مينې خورونه پرې کيږي، نفرتونه او د ښمني پرې ختم کيږي، که د چا څوك خپل و وژل شي نو چې چا وژلی وي، د هغه له خوا د جرګې په شکل کې څو تنه د هغه کره ننواتي ورشي او بيا دلته د قتل رنګه سنګينه مسئله هم د معافۍ په شکل کې سرته ورسيږي.

د حوصلې او صبر دا ټول عمل د "ننواتي" د قدر په سوب ښه نتيجه راوړي. دغه رنګه "اشر" هم يو توری دی، خو دا توری هم په ځان کې يو قدر لري، د دې قدر په سوب پښتون د يو کار په ګډه کولو د بل د پاره د همدردي او خپلوي جذبه زده کوي، هم دغه رنګه "جرګه" ګودر، ننګ و ناموس، لوظ، ښېګړه، واده، چاره، کراسته، پښتو او نور داسې په زرګونو توري- توري نه بلکې قدرونه دي او هم د دغه قدرونو په سوب پښتو او پښتون پېژندل کيږي.

خو موږ وينو چې د پښتون قام د ژبې دا قدرونه ورځ په ورځ ورکيږي، له موږ څخه ورځ په ورځ خپل توري پاته کيږي ولې چې په مصنوعي توګه د تېزي کړی دا "نام نهاده ترقي" دور ټوله نړۍ د يو کلي رنګه سره نژدې کړې ده، نن د انټرنېټ او سېټلايټ په وجه د سترګو په رپ کې پر ځايي قدرونو د بهرني قدرونو اغېزنه کيږي د دې له وجې ټول ثقافتونه ګډ وډ شوي دي، ژبې ګډې وډې شوي دي،

په داسي حالاتو کي د یو قام سوچه پېژندګلوي، چي ژبه ده، ساتل ډېره ګرانه خبره ده، ځکه چي چا کله هم په دې مسئله باندي غور نه دی کړی.

نن زموږ نوی کهول کومه ژبه وايي؟ هغه د خپلي ژبي په قدرونو څوني خبر دي؟ و دې خوا ته موږ کله هم پاملرنه نه ده کړې، هم دغه وجه ده چي پښتو خپل توري ورځ په ورځ بايلي، خو د دې تورو د خوندي کولو د پاره منظمه هڅي نه دي شوي او نه د تورو د ورکیدو په اسبابو غور شوی دی، هغه اسباب کوم چي د سکول او مېډيا په شکل کي زموږ پر نوي کهول باندي اثر اندازه کيږي، حقيقت کي هم دغه دوې هغه لويې ادارې دي، چي د یوې ژبه سوچه والی ختموي او د ژبي او د ژبي ويونکو تر ميان فاصلې ورځ په ورځ زياتوي، په دې لړ کي پر ژبي باندي اوله حمله سکول کوي، هغه سکول چي د علم د حاصلولو يکي يوه ذريعه ګڼل شوې ده.

تعليم يقيناً ډېر ضروري شی دی، تعليم چي په بله معنا موږ "زده کړه" ورته ويلای شو، د هرچا د پاره ښه دی او دا زده کړه له کور، محلې او چاپېرچل څخه هم کېدای شي، خو د يو مخصوص مقصد د پاره د زده کړي دا ټول عمل د سکول تر څلور ديوالو پوري محدود کړل شوی دی او په موږ باندي منل شوي دي، چي زده کړه د سکول بغير نه شي کېدای، ځکه موږ ټول پر خوا ور مات يو او وس مو دا دی چي خپل بچيان په يو ډېر ښه او معياري سکول کي واچوو، چي اردو او انګريزي ژبي يې ښه زده وي، نو به زيات "مهذبه" وي، موږ کله هم دې خواته پاملرنه

نــه ده کــړې چــي د اســکول زمــوم و بچــي تــه ورکــوي څــه؟ یــوا ځي انګریــزي او اردو ژبــه لــه هغــه څخــه اخلــي څــه؟ د هغــه خپــل لبــاس، ژبــه او ثقافــت هرڅــه تــر دې ســکول قربــان شــي او دا ځکــه قربــانیږي چــي د هغــه ســکول نــصاب او طریقــۀ کــار پــه مــورنۍ ژبــه کــي نــه وي، پــه دې ســکول کــي یــو بچــی پــر ځــای د دې چــي خوشــحال بابــا او رحمــان بابــا وپېژنــي، هغــه شېکــسپئیر او کېــټس پېژنــي، پــه دې ســکول کــي پــر ځــای د دې چــي یــو پــښتون بچــی عجــب خــان او پــالې خــان وپېژنــي هغــه قایــداعظم او ســر ســید پېژنــي، دا ســکول لــه هغــه بچــي څخــه د ننــواتي، اشــر او جرګــې تــوري واخلــي او هغــه تــه د Sorry، خود غرضي او عدالت توري ور ښيي.

زمــا مطلــب دا نــه دی چــي د شېکــسپېر او قایــد اعظــم پېژنــدل څــه تــاوان لــري، تــاوان خــو دادی چــي هغــه خوشــحال خــان خټــك او پــالې خــان نــه پېژنــي، د دې عــلاوه چــي ســکول و یــو بچــي تــه د منفــي مقــابلې احــساس برتــري، غــرور او آزاد خیــالي کــومي تــاواني لاري ښــیي هغــه یــو جــلا بحــث دی، دا وخــت دلتــه مــوږ د موجــوده ســکولنګ نظــام او ژبــي د تعلــق پــه حوالــه خبــره کــوو، چــي د ســکول موجــوده نظــام د یــو بچــي د ښــه تربیــت پــر ځــای لــه هغــه څخــه خپلــه ژبــه او ثقافــت اخلــي او کــه چیــري بیــا هــم لــه یــو بچــي ســره څــه خپــل پاتــه وي، پــر هغــه بانــدي دوومــه حملــه مېــډیا "ټــي وي" وکــړي، هــم لــه دې ټــي وي څخــه هغــه ډیــډې، آشــیرواد او نــور دا رنګــه پــه زرګونــو تــوري زده کــوي او هغــه دغــه ټــي وي د اشــتهارونو لــه اثــره هغــه د ټــي شرټ او جینــز پــه خــوا مایــل کیــږي، یــو داســي بچــی چــي د ســکول او مېــډیا پــه داســي مــاحول کــي را لــوی شــي نــو هغــه بــه پــښتو څه وپېژني او د پښتو قدرونه به څه وپېژني.

زمـوږ دا نـوي کهـول پـر زيـاتره هغـو خلګـو مـشتمل دی، چې اړه يـې لـه سـکول او مېـډيا سـره ده، د دې مثـال بـه اول زه خپـل ځـان وړانـدې کـړم چـې د يـو ليکـوال دعـوه لرلـو بـاوجود نـن زه هـم نـه خـو سـوچه پـښتو لـيکلای شـم او نـه د پـښتو پـه قـدرونو زيـات خبـر يـم، ځکـه چـې زمـا زيـاتره هغـه وخـت چـې د خپلـې ژبـې او قـدرونو د زده کـړې وو، هغـه وخـت مـا پـه سـکول کـې تېـر کـړی دی، چيـرې چـې زمـا ټـول صـلاحيتونه د اردو، عربـې او انګرېـزې ژبـې پـه زده کولـو کـې لګېـدلي دي، د سـکول بهـر پـر ځـای د دې چـې لـه خپلوانـو مـشرانو سـره پـه ناسـته کـې مـا خپـل قدرونـه پېژنـدلي وای زمـا هغـه وخت د ټـي وي و مـخ تـه تېـر شـوی دی، کـه بيـا هـم زه پـه خپلـه ژبـه او ثقافـت لـږ ډېـر خبـر يـم نـو دا زمـا خـوش قـسمتي ده خـو زمـوږ د نـن نـوی کهـول نـه پـه ښـار کـې او نـه پـه کلـي کـې د سـکول او مېډيا لـه وبـا خـلاص دی، پـه داسـې حـال کـې کـه څـوک ننـواتې، اشـر او داسـې نـور تـورې او قدرونـه نـه پېژنـي نـو هـيڅ د حيـرت خبـره نـه ده، لـه داسـې کهـول څخـه بيـا مـوږ د دې قـدرونو د پـاللو هيلـه هـم نـه شـو ساتلای.

کـه مـوږ پـه ژورتيـا سـره و دې مـسئلې تـه وګـورو نـو دا څـه کـوچنۍ مـسئله نـه ده، بلکـې لـه دې سـره هـر پـښتو ويـونکی مخـامخ دی او کـه پـر دې مـسئله بانـدې پـه صـحي معنـا غـور نـه وکـړلای شـو، نـو زه پـه يقـين سره وايـم، چـې پـه دې روانـه پېـړۍ کـې بـه د پـښتو وجـود هـم ګـار شـي، ولـې چـې تحقيـق کوونکـو دا خبـره پـه ګوتـه کـړې ده، چـې پـه تېـرو دوه سـوه کـالونو کـې شـپږ سوه ژبـې ورکـې شـوې دي، نـو کـه پـه دې حـال کـې پـښتو ورکـه نـه شـوه نـو و يـو داسـې ګډ وډ حـال تـه بـه ضرور ورسـي، چـې هغـه بـه بيـا پـښتو نـه

بلکې بلـه ژبـه بـه وي، زمـوږ اکثـره ویـونکي پـه دې حمایـت کـې دي، چې د نـورو ژبـو تـوري چې پښتو تـه راشـي پـه دې سـره پښتو نـوره هم پراخیـږي، پـه دې خبـره کـې بـه شـاید شـك نـه وي، خـو خپـل تـوري بایلـل او د نـورو ژبـو و تـورو تـه هـر کلـی ویـل هـیڅ عقلمنـدي نـه ده، ځکـه زه د ژبـې پـه حوالـه دا مـسئله ډېـره سـنګینه بـولم، ولـې چـې سـکول او مېـډیا پـه ډېـره تېـزي سـره لګیـا دي د "ګلوبلایزېـشن" ایجنـډا مـخ پـه وړانـدې وړي، دا "ګلوبلایزېـشن" مـورنۍ ژبـې، ثقافتونـه او قدرونـه لـه میانـه ځخـه وړي او یـو داسـې نړیـوال ثقافـت خـوروي چـې د هغـه فایـده بـه یـوائې و عـالمي سـرمایه دارانـو او د بـین المللـي کمپنیـانو و مالکـانو تـه رسـیږي، د دې کمپنیـانو زمـوږ پـر ذهنونـو بانـدې قبـضه د مختلفـو ادارو او خـصوصاً د مېډیا پـه ذریعـه ورځ پـه ورځ زیـاتیږي، نـن د دا مېډیا اثـر دی چـې پـه نیویـارك او لنـدن کـې اسـتعمالیدونکي شـېمپو او ټوتهـه پېسټ د لـورالایي او پېشور پـه کلیـو کـې هـم پـه کـاریږي او د دې لـه اسـتعمال سـره سـره د دې ځـای پـه قـدرونو بانـدې هـم اغېزنـه کـوي، ولـې چـې هـر "امپـورټ" شـوی شـی لـه ځانـه سـره یـو امپـورټ شـوی قـدر هـم راوړي، یـو داسـې قـدر چـې ومـوږ تـه و خپلـو قـدرونو ته په سپك نظر د کتلو سوچ هم راکوي.

نـن پـه نـړۍ کـې ځـایي ژبـې او ثقافتونـه پـه ډېـره تېـزي سـره ورکیـږي د ګلـو بلایزېشن پـه دې عمـل کـې مهذبـه او ترقـي یافتـه هغـه څـوك ګڼـل کیـږي چـې یـې "جدیـدیت" خپـل کـړی وي، او لـه روایـت څخـه انحـراف کـوي، ولـې چـې روایـت پـسند د فرسـوده خیـالاتو څـښتن ګڼـل کیـږي، هـم دغـه وجـه ده چـې ځـایي ژبـې او قدرونـه ورکیـږي، ځکـه خـو زمـوږ نـوی کهـول لـه خپلـو روایـاتو

ثخه باغي شوی دی او د نورو په وضع کړي هغه "ترقي" پسې روان دی چي په حقیقت کي"پستي" ده.

په داسي حال کي د باشعوره او حساسه خلګو ذمه داري نوره هم زیاتیږي، هغه باشعوره خلګ چي دانشور او لیکوال ورته ویل کیږي او ثوك چي و ځان ته د پښتو خدمتګاران وایي، خو دلته ماته نه ښکاري چي زموږ لیکوالو هغه ذمه واري تر سره کړې ده، کومه چي دوی ته کول په کار ده، ځکه چي ما اکثره لیدلي دي، چي ثوك ثو غزلي ولیکي نو هغه بیا ځان داسي ښکاره کوي، لکه پر پښتو چي یې ډېر لوی احسان کړی وي، حقیقت خو دا دی چي زموږ اکثره لیکوال له خپلو اصلو ذمه داریو خبره نه دی، په یوه بنده خونه کي سره غونډېدل، غزلې شعرونه، افسانې او نور لیکونه وړاندي کول زما په خیال د ژبي ډېر لوی خدمت نه دی او یا دغسي کتاب چاپول هم د ویاړ خبره نه ده، ولي چي دغه کتابونو او لیکونو لوستونکي هم دغه چاپوونکي او لیکونکي دي، د پښتو د لوستونکو دایره لا هغسي محدوده ده، لکه له مخه چي وه، نو ځکه زه و دې ته د ژبي ډېر لوی خدمت نه شم ویلای، زه ډېره بخښنه غواړم، که ثوك زما په دې خبره باندي خاطرمانده کوي، خو هم دغه حقیقت دی چي زموږ لیکوال هم تر ځان پوري محدوده دي، ولي چي د لیکوال په حیث موږ له عام پښتنو سره د پښتو د خوندي کولو دپاره هیڅ هم نه دي کړي ځکه د پښتو ژبي خپل توري له پښتنو ثخه ورکیږي.

موږ کـه و ځـان تـه د ژبـي خـدمتګاران او د پـښتون قـام خواخوږي وايـو نـو بيا بـه صحي معنا د ژبي د خوندي کولو دپاره هم کار کوو، لـه دې حقيقت څخه څوك انکار نـه شي کـوای چـې ژبـه يـوازې پـه کتـابونو کـې نـه خونـدي کيـږي، بلکـې د ژبـې ويونکي په خپله دا اثاثه خوندي ساتلای شي.

نـن مـوږ وينـو چـې پـښتانه انګريـزي نمـا يـا اردو نمـا پـښتو وايـي ځکـه زه د ليکوالـو و مـخ تـه دا مـسئله ږدم چـې د پـښتو تـوري ورکيـږي، قدرونـه ګـاريږي او ورسـره ورسـره زمـوږ پېژندګلوي هم د "ګلوبلايزېشن" نذر کيږي.

راشـئ! چـې مـوږ لـږ د مـشاعرو او نـورو مخـصوصو نشـستونو څخه را ووځـو، ځکـه چـې د دې نشـستونو فايـده يـوازې وليکوالـو تـه رسـيږي، يـو عـام پښتون لـه دې څخـه نـاخبره دی، ولـې چـې هغـه هيڅکلـه هـم پـه شـعوري توګـه د ژبـې پـه ورکېـدو غـور نـه دی کـړی، راشـئ! چـې مـوږ ټـول پـه ګـډه پـه دې مـسئلې بانـدې غـور وکـړو او د ژبـې د خونـدي کولـو دپـاره داسـې ګامونـه واخلـو چـې هغـه نـه يـوازې ژبـه خونـدي کـړي بلکـې لـه ژبـې سـره تړلـي قدرونـه او ټـول ثقافـت هـم خونـدي کـړي او لـه دې سـره سـره د ليکـوال او عـام پـښتون تـر مـابين پيـدا شـوې فاصـلې هـم ورکـې کـړي. نـن نـه يـوازې د پـښتو ژبـې د خونـدي کېـدو مـسئله ده بلکـې ژبـه لـه مـوږ څخه د ودې غوښتنه هم کوي.

راشـئ! چـې څـه وخـت د ليـلٰی شـرې شـونډې او لـه افـسانوي تـصوراتو څخـه را ووځـو هغـه ژبـه خونـدي او مترقـي کـړو کومـه چـې زمـوږ د تخليقـاتو اظهـار کـوي، زمـوږ پېژنـدګلوي کـوي، کـه مـوږ

اوس هم خپل وخت د "واه واه" کولو او "واه واه" اخستلو په هڅو تېر کړو نو به دېر زر زموږ ژبه د ګلوبلایزېشن تر مېچني لاندي خاوري شي.

۲۲ مارچ ۲۰۰۰ء

# ادب او فکري بحران

ادب د هـــر دور د ســـماجي رویـــو، معاشـــي حـــالاتو او ثقـــافتي قـــدرونو د پرمختـــګ او د تـــاریخي حقیقتونـــو د ســـاتني ذریعـــه ګرځېـــدلی دی، ځکـــه چـــې د ادب رویـــه مـــوږ د انـــساني ژونـــد د ټولـــو اړخونـــو پـــه بابلـــه زده کـــړه کـــولای شـــو او د هـــر دور پـــه هغـــه حـــالاتو او واقعـــاتو هـــم ځـــان خبـــرولای شـــو، کـــوم چـــې پـــه هـــیڅ ســـرکاري او دربـــاري تـــاریخ کـــې نـــه ښـــکاره کیـــږي، ځکـــه مـــوږ ویـــلای شـــو، چـــې ادب یـــوائې د ثقافـــت څرګندونـــه نـــه کـــوي، بلکـــې د انـــساني ژونـــد ســـره د تړلـــي هـــر اړخ ترجمـــاني او عکاســـي کـــوي، ادب کـــه پـــه هـــره ژبـــه کـــې تخلیـــق کیـــږي، د هغـــه د اغېزنـــي دایـــره او محـــور آفـــاقي وي. یعنـــي د ادب لـــه لاري چـــې کـــوم حقیقتونـــه او ربښـــتیا را برســـېره کیـــږي، هغـــه د یـــو مخـــصوص تـــاټوبي یـــا قـــام د نفـــسیاتو لـــه ترجمـــاني ســـره ســـره پـــر ټـــول انـــسانیت او انـــساني اصـــولونو بانـــدي محـــیط وي، د دې مطلـــب دا دی، چـــې کـــه ادب یـــوې خواتـــه د ځـــایي رویـــو چارچېرچـــل او رجحانـــاتو عکاســـي کـــوي نـــو و بلـــي خواتـــه د هغـــه آفـــاقي حقیقتونـــو د ســـنجولو کوشـــش هـــم کـــوي کـــوم چـــې د ټولـــو انـــسانانو دپـــاره، کـــه هغـــه د هـــري خطـــې زی، قابـــلِ قبـــول وي پـــه دې آفـــاقي قدرونـــه مینـــه، امـــن، ســـماجي انـــصاف او انـــسان برابـــري شـــامله ده او لـــه دې ســـره ســـره دا قدرونـــه د بـــاهمي احتـــرام او د یـــوه بـــل د حقیقوقـــو هـــم امـــېن وي، پـــه دې اړه چـــې کلـــه مـــوږ د خپـــل ادب تنقیـــدي پلټنـــه وکـــړو، نـــو مـــوږ تـــه د دې پـــه آفـــاقي حیثیـــت کـــې ځـــه نېمګړتیـــاوي ښـــکاریږي، ولـــي مـــوږ وینـــو چـــې د نـــن ادب د انـــساني ژونـــد لـــه ربښـــتوني ترجمـــاني څخـــه تـــر ډېـــره حـــده پـــوري خـــالي دی، کـــوم چـــې د یـــو

ډېر غټ فکر بحران نخښه ده، د دې مطلب دا نه دی، چې نه له ټولو تخلیقو هلو ځلو څخه مطمئین نه یم بلکې زه غواړم چې ځنې داسې رجحانات په ګوته کړم، د کومو له وجې چې د نن ادب د آفاقیت د سنجولو پر ځای د نام نهاد ګلوبلایزېشن ښکار دی، ځکه خو رېدو پر ځای محدوده کیږي، ولې چې په دې روان وخت کې تخلیق کېدونکی ادب و عامو خلکو ته څه نه شي ورکوای، بلکې که دا ووایم چې نن په ادب کي په خلکو کي د حریك پیدا کولو قوت هډو شته نه نو به دا څه مغالطه نه وي.

تجزیه موږ ته دا راښیي چې په تاریخ کي ادب د قامونو تقدیرونه بدل کړي دي، او د هغه ادب په دې کې ځکه بریالی شوی دی، چې د عام خلکو او لیکوالو تر میان یو مضبوط تړون وو او دا تړون ځکه مضبوط وو، چې تخلیق کېدونکی ادب د انساني ژوند ارو مرو ترجماني کوه ځکه خو د هغه حیثیت هم آفاقي وو.

هم په دې اړه د نولسمي صدی نامتو نقاد میتهو ارنلډ ویلي وو: "چې ادب د انساني ژوند د همه اړخونو د سنجولو بهترینه وسیله دی، چاچي په ادب ځان پوه کړو نو ګویا هغه د انساني ژوند په ټولو کړکېچنو او پېچلو اړخونو باندي سر خلاص کړو، خو موږ وینو چې هم په هغه نولسمي پېړۍ کي د صنعتي انقلاب ابتدا وشوه او له دې سره سم د هغه صنعتي پیداوار د ځایولو او د منډۍ له د دایرې د خورولو د پاره ټولو ادارو خپل کار شروع کړو، په دغه دوران کي د سماجي علومو پر خوا د خلکو توجه زیاته شوه، کومو چې انساني ژوند په بېلو- بېلو خانو کي د تقسیم کولو د پاره یو پورا علمي نظام غوره کړو، دغو سماجي علومو انساني ژوند د سنجولو پر ځای هغه نور هم دوني کړکېچن کړو، چې د یو انسان د پاره هغه سنجول

تقریباً ناممکن شو، هم دغه د دې سماجي علومو مقصد وو، چې عام خلګو کنفیوز کړي، ولې چې کنفیوز خلګ تر لاس لاندي ساتل (کنټرول کول) اسان دی، هغوی په دې خبر وو، چې یوائې د کنټرول په ذریعه زیات دولت او طاقت تر لاسه کېدی شي، نامتو فرانسیسي دانشور میشایل فوکو هم په دې اړه ویلي وو، چې ټول سماجي علوم د خلګو د کنټرول کولو دپاره جوړ شوي دي، چې د هغه فایده و یو مخصوص طبقې ته رسېږي، صرف یو شی داسي دی، چې هغه و خلګو ته آزادي او د آزادۍ تعلیم ورکولای شي او هغه ادب دی. حقیقت هم دا دی چې ادب و انسانانو ته د حقیقي آزادي تعلیم ورکوي، ځکه چې په دې کي کوم تصورات او خیالات را غونډ کړل کیږي هغه یوائې د دې د لیکونکي احساسات نه وي، بلکې په دې کي د ټولي معاشرې او ټولو انسانانو احساسات وي، ولې چې تخلیق کار د یو معاشرې ډېر حساسه او باشعور خلګ وي.

د ادب د دې کردار او توانایي د ختمولو دپاره بېل- بېل سماجي علوم پیدا کړل شو، دغو علومو د پیداوار (Production) او منډۍ دپاره د ولاړي جوړولو په هڅو کي د انساني جبلیات آزادي، تخلیق او ښېګړي ټول اړخونه شاته کړو، او انسانان یې کنټرول کول شروع کړو، له دغه وجې د ادب او عام انسان تر میان فاصله زیاته شوه، بلکې دې سماجي علومو ادب هم په خپله دایرۀ اثر کي او هغه یې د حقیقي آزادۍ له تعلیم ځخه لیري کړو.

په اصل کي صنعتي انقلاب دوه رنګه پر انساني ژوند باندي اثر وکړو، اول: دې انقلاب د سماجي علومو په ذریعه د ترقي، پرمختګ او کامیابي داسي معیار وټاکل چې پر هغه د پوره ختلو دپاره د انسانانو تر میان د مقابلې یو منفي رجحان پیدا شو، چې په

نتيجه کې يې مادي آسايښونه تر انساني ژوند او جذباتو زيات ارزښت ومونډو، ځکه د انساني ژوند هيڅ قېمت پاته نه شو. دويم دې صنعتي انقلاب و انسان د اسانتيا او سهولت ورکولو په نوم دومره زيات مصروف کړو، چې له دغه سره د خپل ژوند په اړه غور و فکر کولو وخت هډ پاته نه شو، ځکه هغه له ادب څخه هم ليري شو، بلې خوا ته د سماجي علومو دايره ورځ په ورځ زياتېده ولې چې خلکو د ژوند د مسلو او کشالو د حل د پاره د سماجي علومو پر خوا توجه ورکول شروع کړه، ځکه د ادب دايره محدوده شوه او سوکه- سوکه ادب د ژوند د کُل پر ځای په جُز کې بدل شو او هغه ته هم د يو سماجي علم په نظر کتل شروع شو، د دې نتيجه دا وختله چې ادب له انساني ژوند او ترجماني او سماجي علومو د دايرۀ اثر د کمولو پر ځای د نام نهاد ترقي، کاميابي، اسايښونو او خوشحالي په تشهير بوخت شو، د دې له سوبه د ادب نصب العين د ژوند د کړکېچنو حالاتو د سمولو پر ځای د نورو سماجي علومو په رنګه د خلکو په کنفيوز کولو کې بدل شو، د مارکېټ اکانومي چکر ادب صرف د تفريح پوري د محدود کولو د پاره هلې ځلې وکړې او هغه په دې کامیابه شو.

که څه هم له ترقي پسند تحريك سره د ادب د پاره د ژوند سوچ هم پيدا شو خو دې سوچ هم د انساني ژوند د کُل په نظر نه وکتل او د يو مخصوص نظريې سياسي پرچار پوري محدود پاته شو، ځکه بيا په ادب او سياسي نعرې بازي کې څه فرق پاته نه شو، هغه وخت د ادب يوې خواته د سرمايه دارانه سوچ د خورولو د پاره په کار را وستل شو، چې فايده يې د مارکېټ اکانومي و تصور ته رسېدله، بلې خوا ته ادب يو د مخصوصه اشتراکي نظريې پرچار کولو، شايد دغه بنيادي وجه وه چې ادب د انساني ژوند د باريکيو سنجولو او

آفـاقي انـساني اصـولونو د ترجمـاني د یـو مکمـل سیاسـي عمـل پـر ځـای پـه بېلـو بېلـو ازمونـو کـې تقـسیم شـو او لـه خپلـو لوسـتونکو څخـه لیـري شـو ځکـه چـې لوسـتونکو د عـامو خلګـو دا محـسوسه کـړه، چـې د ژونـد او حـالاتو پـه بـاره کـې د هغـوی د کنفیـوژن د لیـري کولـو پـه پرتـه پـه بېلـو بېلـو سیاسـي نظریـو کـې د هغـوی کنفیـوژن نـور هـم زیـاتوي، ځکـه خلګـو د نـورو سـماج علومـو پـر خـوا خپـل کوشـشونه شـروع کـړو او بیـا و مخـصوصه طبقـې تـه لـه ادب څخـه هـیڅ خطـره نـه وه، چـې هغـه بـه و خلګـو تـه د آزادۍ تعلـیم ورکـړي، اخـر چـې کلـه د دولـت او طاقـت تـر لاسـه کولـو پـه جنـګ کـې ګټـه مارکېـټ اکـانومي وکـړه او د اشـتراکیت خطـره لیـري شـوه، نـو پـه دې ټولـه عرصـه کـې د یـو مخـصوصه نظریـې د پرچـار د پـاره تخلیـق شـوي د آفاقیـت لـه عناصـرو څخـه خـالي کېـدو پـه وجـه د ماضـي یـوه برخـه وګرځېـدو، چـې لـه موجـوده حـالاتو سـره هـیڅ تخلیق پاته نه شو.

د ادب د مختلفـــو ادوارو تجزیـــه مـــوږ تـــه دا را ښـــیي چـــې پـــه پنځلـسمه پېـړۍ کـې پـه یـورپ کـې د نـشاة الثانیـه ابتـدا وشـوه، نـو ادب یـې هـم د هغـه وخـت د جدیـدیت پـه رنـګ کـې و رنګولـو، ځکـه د ادب یـوه لویـه برخـه د جدیـدیت د ثـابتولو د پـاره پـه کـار راوسـتل شـوه، پـه نولـسمه پېـړۍ صـنعتي انقـلاب هـم دغـه د جدیـدیت عمـل پـر مـخ یـووړ او د ادب پـه ذریعـه یـې د خلګـو د کنټـرول کولـو او د صـنعتي پیـداوار د تـشهیر عمـل جـاري وسـاتلو، لـېکن هغـه وخـت دې خلګـو (سـرمایه دارو) پـر ادب بانـدي خپلـه اجـاره داري پـوره نـه وه قایمـه کـړې، ولـې چـې تـر هغـه وخـت پـوري د ادب تعلـق او رسـایي بـراهِ راسـت تـر عـامو خلګـو پـوري وه، د دې یـو واضـح مثـال د ۱۸۵۷ء جنـګِ آزادي دی، چـې تـر شـا یـې د برصـغیر د ادب لیکوونکـو او لـه ادب سـره د تعلـق لرونکـو خلګـو بنیـادي کردارونـو تـر نولـسمي پېـړۍ پـوري مقابلـه د

سرمايه دارانه نظام او د عام خلګو د مقامي (Indigenous) توانايي تر مابين وه، چي په کوم کي مقامي اديبان د يو مضبوط قوت پر طور و سرمايه دارانه نظام او د هغه و بدرنګيو ته ولاړ وو، لاکن د شلمي پيړۍ په دويمه لسيزه کي د سرمايه دارانه نظام خلاف يو اشتراکي بلاك جوړ شو، چا چي د برابرۍ په نوم خلګ د ځان پر خوا را بلل شروع کړو او له دې سره بيا ادب هم د عام انسانانو د ژوند د ترجماني پر ځای په بېلو ټوليو کي تقسيم شو او د دغو دوو بلاکونو په ترجماني اخته شو او بيا چي کله مقابله سرمايه دارانه نظام وګټله او اشتراکي بلاك مات شو، نو د ادب يوه لويه ذخيره د تاريخ او ماضي په ګړځونو کي ورکه شوه، په دې عرصه کي ادب له خپلو حقيقي لوستونکو څخه هم محروم پاته شو.

سرمايه دارانه نظام چونکې په ادب کي د تاريخ روح ووژلو او په ټيکنالوجي کي د تېزي ترقي په وجه خلګ زيات مصروف کولو کي کامياب شوو نو ځکه شايد هغه ته هم د ادب نور ضرورت پاته نه شو، بلې خواته د اشتراکي نظام د ماتېدو پس د ادب نظرياتي لوستونکي هم ختم شوو، ځکه ادب صرف تر اديبانو پوري محدود شو او د هغه عامو خلګو له ژوند او حالاتو سره څه تعلق پاته نه شو.

ځکه خو نن صبا داسي ادب تخليق کيږي کوم چي ډېر محدود او له بهرني اثراتو ډك دی، هم دا وجه ده چي په ادب کي د جمود موضوع بار- بار خېړل کيږي او د نن په دور کي د ادب په ضرورت بحثونه کيږي، که څه هم اوس د رېډيو، ټي وي او پرنټ ميډيا په توسط سره ادب تر عامو خلګو پوري په اسانه رسېدای شي، لېکن په دغه ابلاغي ذرايعو کي چي څه وړاندي کړل کيږي، د هغه له وجي په عامو خلګو کي دا تاثر دی چي هغه ادب او اديب يو عجيبه

غوندي مخلوق ګڼي او له خپله ځانه يې ليري ساتي، په دې کې څه حقيقت هم شته، ځکه چې زموږ اديبان د ځان ښکاره کولو د پاره په خپل ګېټ اپ او ادب کې قسم- قسم تجربې کوي چې د خلکو ورته پام شي.

په ادب کې د وسعت په نامه کېدونکې دې تجربو ته په تنقيدي نظر کتل په کار دي، چې زموږ ادب پر کومه خوا روان دی؟ او په دې موجوده دور کې د سنجولو څومره قوت شته؟ صرف دا ويل ډېر اسانه دي، چې موږ بل خوشحال خان، رحمان، غالب يا اقبال پيدا نه کړ، لاکن دې ته څوك پاملرنه نه کوي، چې ولې نه پيدا کيږي؟ بلکې د دې په پرته موږ په خپله په دانسته يا نا دانسته توګه و داسې قدرونو ته وده ورکوو، د کومو له وجې چې د بل خوشحال، رحمان، غالب يا اقبال د پيدا کېدو ټول ګنجايشونه او امکانات بنديږي.

بلې خواته که وګورو نو به څرګنده شي چې موجوده اداره جاتي نظام اول لا هغه ټول ګنجايشونه بند کړي دي، ټولې ادارې اوس صرف يو مقصد پر مخ وړي، چې د صارفيت کلچر ته وده ورکړي، خور يې کړي او د ګلوبلايزېشن د پاره لارې پرانېزي، د صارفيت خورېدونکی کلچر او د ګلوبلايزېشن په دې درو کې خو اوس ادب، ثقافت، قدرونه حتیٰ چې انساني جذبې هم اوس د شيانو په توګه وړاندې کيږي چې په اساني سره اخستی او خرڅول کېدای شي، ځکه خو اوس هر هغه عمل زيات ارزښت لري چې ګټه او فايده ولري، په دې کاروبار کې د ادب دا کردار هم د هغوی د پاره ډېر دی چې هغه نړيوال حقيقتونه نه را برسېره کوي او په خلکو کې د تنقيدي شعور د بيدارۍ له نصب العين څخه دستبردار دی.

په عامو خلکو کي د ادب کردار د ژوندي کولو د پاره ضرور دی، چي ادب ببرته د خپل اصل نصب العین پر خوا را ستون شي، کوم چي د شخصیت له دایرې څخه بهر دی او پر عالمي آفاقي حقیقتونو باندي خور دی، ولي چي د نن په دې نام نهاده ترقي یافته دور کي چي د ادب کردار څومره اهم دی شاید اول دومره نه وو، موږ وینو چي په دنیا کي د استحصال عمل روان دی، د کوم له وجي چي په دنیا کي امیر او غریب تر مابین خلا نوره هم زیاته شوې ده، د ګلوبلایزېشن په نوم د قامونو شناخت او د کورنیو د خاندانونو شناخت ورکیږي، اوس د میني، همدردي او خپلوي پر ځای له انټرنېټ سره تړلیو قدرونو زیات ارزښت پیدا کړی دی، له پېړیو څخه مضبوط ګډ خانداني نظام په نیوکلئیر خاندانونو کي تقسیږي، د کوم له وجي چي د انسانانو تر میان پر سماجي او ثقافتي سطح باندي تعلق ختمیږي، اوس د اجتماعیت ځای انفرادیت نیولی دی، مقامي (ځایي) ثقافتونه د ټیکنالوجي له تېز رفتار سره نه شي تلای، ځکه خو فنا کیږي.

بلې خواته Jihad Vs Mcworld تر میان د جوړ کړل شوي مصنوعي تضاد له وجي د مذهبي رواداري او تحمل پر ځای د د بنیاد پرستي او رجعت پسندي رویې زیاتیږي، ځکه چي دا وخت مقابله د هغو دوو قوتونو تر میان جوړه شوې ده، چي دواړه و یوه بل ته او د یوه بل و وجود ته جواز ورکوي او هغوی دواړه په انسانانو کي د بدو خلاف د پورته کېدلو توانایي وژني او د یو داسي منزل پر خوا یې بیایي چیري چي فایده و ملټي نېشنل کمپنیانو او عسکریت خوښو قوتونو ته رسیږي، موږ که په خپل چاپېریال کي وګورو، تجزیه وکړو نو به څرګنده شي، چي موږ په یو داسي دور کي ساه اخلو چري چي حالات تر دې له مخه دومره کړکېچن نه وو او نه تر دې

له مخه انساني ژوند دومره د الجهونو ښکار وو، یو اځي د تېرې پېړۍ په دویم پنځوس کلونو برخه کې چې په کومه تېزۍ سره ترقي پر مخ وړلې شوې ده، هغه له هر اړخه انساني ژوند ته د ډپرېشن، ظلم، بربریت، قتل و غارت او استحصال نوي- نوي ټیکنیکونه ور زده کړي دي، ځکه موږ ویلای شو، چې په یوویشتمه پېړۍ کې به حالات تر دې هم زیات کړکېچن او خراب وي. چیرې چې به انسان د کمپیوټر د ماوس په یوه کلیك سره خپل ټول خواهشونه او خوبونه پوره کوي، د کلوننګ په ذریعه به د ځان رنګه دویم، دریېم او څلورم انسان پیدا کوي او دا سهولت به په هره محله او هر ګلۍ کې رسیږي، هم دغه رنګه به خلک د جنیاتي انجنیرنګ په سوب د خپلې خوښې انسان، د خورك او څښنك څیزونه پیدا کوي، هم د غه د ګلوبل ولیج او د ګلوبلایزېشن بنیادي تصور او مقصد دی، چې د حصول د پاره یې د دنیا ټولې کمپنیاني او ادارې کار کوي.

په دې ټول عمل کې صرف یو شی شاته کړل شوی دی او هغه دی انسان او انسانیت، هغه انسانیت چې د چا بغیر به دا ټول کاینات له مقصدیت څخه خالي وي، ولې چې د دې کاینات د تخلیق بنیادي مقصد انسان وو، خو دې نام نهاده ترقۍ انسان تر شا کړو چې مطلب یې دا دی، چې له انسان سره تړلې ټول جذبات او روایات د پستۍ پر خوا روان دي او د مارکېټ، دولت او طاقت ارزښت ورځ په ورځ زیاتېږي.

په دا رنګه شدیدې بدحالۍ کې هم زموږ ادب صرف تر چاپي خانو او څه نشستو پورې محدود دی، چیرې چې زموږ ادیبان کښېني د مصرعو پر نازکخیالۍ او فني هیئتونو باندې بحث کوي،

په هري فنپارې کې د هغه له جمالياتي اړخ څخه پخپله هم خوشحالیږي او په واه- واه نور هم خوشحاله کوي، هم دغه رنګه نشستونو د ادب عوامي دايره محدوده کړې ده، ځکه ادب صرف تر اديبانو پوري را غونډ شو او شايد څه وخت پس د ادب حيثيت هم ختم شي، ولې چې د نن انسان په مصنوعي توګه دوني مصروف کړل شوي دي، چې هغه د خپل ځان په باره کې د غور و فکر د پاره وخت نه شي موندلای ولې چې هغه ته هر څه ربډي ميډ ور ملاويږي، بيا ولې هغه له خپله څخه د څه تخليق کولو پر عمل خپل قيمتي وخت خرڅ کړې، بيا به څله د ادب تخليق کولو يا اوريدلو زحمت کوي. يقيناً دا د هغه ټولو د پاره چې ځانونه د قلم امين ګڼي د فکر او پريشاني لمحه ده، ضرورت خو د دې خبري دی، چې موږ ادب د هغه له اصل روح څخه وسنجوو او له انساني ژوند سره د هغه تړون بيرته جوړ کړو او د خلګو د لارښوونکو په طور خپل فرض ادا کړو، دا هر څه هغه وخت کيدای شي، چې کله موږ پر هره لمحه بدليدونکو حالاتو نظر ولرو او د هغو د علمي او منطقي تجزيه تر خلګو ورسوو.

په دې دور کې د ادب کردار څومره اهم دی؟ شايد له مخه ډير اهم نه وو، تر دې له مخه ادب د انساني ژوند له ترجماني ډك وو او خلګو ورځني Inspiration اخيستو، نن هم ادب ته هغه رنګه کردار ادا کول په کار دي، نن ادب ته د انساني ژوند جمالياتي اړخونو سره- سره د هغو تراخه حقيقتونو ترجماني هم په کار ده، د کومو له وجې چې په سياسي، معاشي، سماجي او ثقافتي سطح باندي زموږ معاشره د زوال ښکار ده، موم له دې اعتراف سره خپل ادبي کردار بيرته را ژوندی کوای شو، چې انساني ترقي يوائې په سياسي

نعـرې بـازي، د مارکېـټ، اکـانومي، پـه دعـوو او اداره جـاتي بـدلون بانـدي ممکنـه نـه ده، بلکـې د ټولـو حقیقتونـو ترقـي پـه ادبـي اظهـار ممکنـه ده، ولـي چـي ادب د ژونـد د نـورو شـعبو پـه نـسبت د انـساني ژونـد د بـاریکیو د سـنجولو قـوت پـه خطـري توګـه زیـات لـري، چـي لـه هـر قـسمه مـادي ګټـي څخـه مبـرا دی او د روحـاني تربیـت او شـعوري بیـداري پـر لاره روان دی، ځکـه بایـد چـي مـوږ پـه عـالمي او عملـي توګـه پـه خپلـو تخلیقـاتو کـي عـالمي منظرنامـه د هغـه لـه پـوره علمـي تجزیـو سـره وړانـدي کـړو چـي مـوږ د خلګـو دننـه پـټ صـلاحیتونه را برسـېره کولـو او د هغـه پـه تنقیـدي، شـعوري بیـداري کـي خپـل کـردار ادا کـړو او د یـو داسـي سـماجي بـدلون بنیـاد کـښېږدو چـي و مقـامي رویـو تـه اسـتحکام او مقـامي قـدرونو تـه توانـایي ورکـړي او دا رنګـه یـو واري بیا د ادب او عامو خلګو تر میان یو مضبوط تړون پیدا شي.

۲۰ مارچ ۲۰۰۲

# د تکل د تاریخ اجمالي څېړنه

"Essay" چـې پـه اردو ادب کـې د "انـشائیه" او پـښتو ادب کـې د "تکـل" نـوم ورکـړل شـوی دی، یـو داسـې ادبـي صـنف دی، چې لـه تېـرو څلـورو پېړیـو راهیـسې پـه فرانسیـسي او انګریـزي ادب کـې لیکـل کیـږي، پـه اردو ادب کـې د ډاکټـر سـلیم اختـر د تحقیـق مطـابق د انـشائیه عمـر یـو سـل څـورلس (114) کـالو تـه رسـیږي، خـو ډاکټر وزیـر آغـا یـې لـه تیـرو پنځـه څلو ېښت یـا پنځوسـت کـالو څخـه رایـج ګڼـې، او دغـه رنګـه کـه مـوږ وګـورو نـو پـه پـښتو ادب کـې هـم د تکـل عمـر دغـوني دی.

تـاریخ دا ښـیي چـې د دې صـنف ابتـدا پـه شپاړسـمه پېړۍ کـې پـه فـرانس کـې شـوې ده، او "مـشیل دي مـونتین" هغـه ادیـب دی چـې اول تکـل یـې لیکلـی دی، نـن د څلـورو پېړیـو وروسـته هـم د هغـه وضـع کـړې دا صـنف چـې هغـه د "سـعي" نـوم ورکـړی وو، پـه عـالمي ادب کـې د هغـه لـه نامـه سـره ژونـدی دی، کلـه چـې "مـونتین" لـه هرڅـه څخـه لاتعلـق شـو، نـو هغـه خپـل ځـان د مطـالعې او تخلیـق دپـاره وقـف کـړ او هـم پـه دغـه دور کـې هغـه د یـوې داسـې لیکنـې آغـاز وکـړو چـې د خپـل مـزاج، اسـلوب او هیئـت پـه اعتبـار د ادب لـه مروجـو ټولـو صـنفونو څخـه بلکـل جـلا وو، پـه دغـه لیکونـو کـې هغـه د خپـل ذات او شخـصیت یـو رنګـه خاکـه یعنـې "Self Portrait" و خپلـو لوسـتونکو تـه وړانـدې کـړو، کلـه چـې مـونتین پـه ۱۵۸۰ء کـې د خپلـو دغـو لیکونـو مجموعـه وړانـدې کـړه، نـو د هغـه د لیکلـو اسـلوب بـې تکلـف انـدازیـې، لطیـف فکـر، د

بیــان تــازګي، ښایــستګي او بېــل مــزاج ډېــر زر شــهرت و مونــدلو ، وروسـته بیـا د مـونتین لـور د هغـه دا ټـول لیکونـه پـه ۱۵۸۸ء کـي د یـوه کلیات په شکل کي چاپ کړو.

پــه ۱٦۰۳ء کــي جــان فلوریــو د مــونتین تکلونــه (Essays) پــه انګرېـزي کـي وژبـاړل او د هغـه د تخلیـق دا نـوی انـداز یـې د انګرېـزي ادب لیکوالـو تـه وړانـدي کـړو ، فرانـسس بـېکن چـي د جـان فلوریـو ډېـر نـزدې پېژنـدونکی ؤ، نـو د مـونتین د ترجمـه شـووو تکلونـو د باقاعـده اشـاعت لـه مخـه لـه د دغـه نـوي انـدازِ تحریـر سـره ولـد شـو ، او دومـره ځني متـاثر شـو ، چـي هم پـه دغـه انداز کي یـې لیکـل شروع کـړو ، او دا رنګــه پــه انګرېــزي ادب کــي هــم د تکــل ابتــدا وشــوه، پــه ۱۵۹۷ء کــي فرانـسس بـېکن د لـسو تکلونـو اولـه مجموعـه چـاپ کـړه، چـي بیـا یـې لـه مزیـدو اضـافو او تبـدیلیانو سـره نـور ډېـر اشـاعتونه هـم وشـوو او بـېکن د تکـل نګـار پـه حیـث ډېـر زیـات شـهرت حاصـل کـړو ، د هغـه تکلونـه پـه نـور ژبـو کـي وژبـاړل شـو او هغـه د شـهرت دایـره نـوره هـم وسـیع شـوه، د فرانـسیس بـېکن د تکلونـو لـه مطـالعې ځخـه دا نتیجـه اخـذ کـړل شـوې ده چـي دغـه انـدازِ بیـان فلـسفیانه دی او هغـه د ذات پـر ځـای د ژونـد نـور موضـوعات پـه خپـل فلـسفیانه انـداز کـي مبحـث کـړي دي، پـه اولـسمه پېــړۍ کــي د بــېکن بعــد د انګرېــزي تکــل پــه تــاریخ کــي د "ابــراهیم کـاولي" نـوم زیـات ارزښـت لـري، چـي پـه ۱٦٦۸ء کـي یـې اولـه مجموعـه منظرعــام تــه راغلــه د انګرېــزي نقــادان پــه دې خبــره متفــق دي چــي ابـراهیم کـاولي د انګرېـزي تکـل پـه جوړښـت، ښایـست او خـصوصاً پـه هغـه کـي د ذات او اظهـار ځرګنـدولو پـه لحـاظ تـر بـېکن پـه هـیڅ طـور کـم نه دی.

په اتلسمه پېړۍ کې د تکل د تاریخ په حواله دوه نور داسې نومونه هم په نظر راځي، چا چې د دې صنف په بنیاد پخولو کې یو نه هېرېدنکی کردار لوبولی دی، هغه دی "جوزف ایډیسن" او "رچرډ ستیل" په ۱۷۰۹ء کې چې کله ایډیسن او ستیل د "The Tatler" اجراء وکړه او په هغه کې یې لیکل شروع کړو نو د تکل عوامي مقبولیت زیات شو، او هم دغسې په "The Spectator" ۱۷۱۱ء کې د هغوی تکلونه نن هم په معیاري او منتخبو تکلونو کې شمېرل کېږي.

په ۱۷۳۸ء کې "سېموئیل جانسن" د ۲۸ کاله په عمر کې په The Old Gentleman" کې د تکل لیکلو آغاز وکړ او بیا یې دوه کاله په ۱۷۵۰ء "The Rambler" کې لیکلو کولو، دهغه زیات مشهوره او معیاري تکلونه هم د دغه دور یادېږي.

"ایډلر" او "ګولډ سمتهه" هم د اتلسمي پېړۍ په اهمو تکل نګارانو کې شامل دی، ګولډ سمتهه په ۱۷۵۹ء کې په "Bee" کې و دې صنف ته دوام ورکړو، د هغه د اسلوب لطافت او د فکر تازګي ډېر زر د لوستونکو یوه لویه حلقه پیدا کړه.

په نولسمه پېړۍ کې رسمي "Formal" او غیر رسمي (Informal) دواړه قسم تکلونه په ډېر زیات تعداد سره و ادب میدان ته راغلو، "چارلس لېمب" (Informal Essay) د عروج و بام ته ورسوله، هغه په ۱۸۲۰ء کې په "لندن مېګزین" کې د "Elia" په قلمي نوم د 45 کاله په عمر کې خپل اول تکل ولیکلو، په دغه دور کې ولیم هزلټ لي هنټ او تهامس ډیکوینسي هم د تکل نګارانو په حیث نوم لرلو خو لېمب چې تکل و کوم مقام ته ورسولو هغه له چا پټ نه دی. په نولسمه پېړۍ کې امریکي لیکوال واشنګټن ادونګ، ایمرسن ډیوډ

تهوریو، ایډیگر ایلنپو او نور ګڼ لیکوال د تکل په تاریخ کې برخه لري، په دغه دور کې د چسترټن، هکسلې، پریستلې، ورجینا وولف او رابرټ لنډ غوندي تکل نګاران هم پیدا شو، چې د تکلو ادبي مقام یې ډېر لوړ دی.

تر کومه حده چې د اردو انشائیې (تکل) د آغاز خبره ده نو دا یوه متنازعه مسئله ده. ډاکټر سلیم اختر، سرسید احمد خان د اردو اول انشائیه نګار ګڼي د هغه مطابق چې کله په ۱۸۲۹ء کې سرسید انګلستان ته ولاړ، نو هلته د ټیټلر او سپېکټېټر مطالعې هغه د ایډیسن او سټایل له تکلونو څخه متاثر کړو او پر واپسي یې په هغه انداز او اسلوب کې مضامین لیکل شروع کړو، او د دغو د ابلاغ دپاره یې "تهذیب الاخلاق" ۱۸۷۰ء هم جاري کړو، خو د ډاکټر سیده جعفر د تحقیق مطابق د اردو اول "Essayist" ماسټر رام چندر دی، چې په خپلو دوو رسالو "فوايد الناظرین (۱۸٤٥ او محب هند" ۱۸۲۸ء کې یې د دغه صنف آغاز کړی وو، خو ډاکټر سلیم اختر وایي: "چې د ماسټر رام چندر په نثر کې هغه شګفتګي او د فکر تازګي نه شته کوم چې د تکل بنیادي وصفونه دي، نو ځکه هغه سرسید اول تکل نګار ثابت کړی دی، خو ډاکټر وزیر آغا د هغه له دې تحقیق سره مکمل اختلاف کړی دی، هغه وایي چې د سرسید په ټولو مضمونو کې د سنجیده بحثونو انداز ځرګندیږي او بل په اندزِ بیان کې یې هغه تخلیقي تازګي هم نه شته چې د تکل بنیادي وصف دی او پر دې ټولو برسېره هغه د انکشافِ ذات پر ځای د خارجي ژوند واقعات او مسایل په ګوته کړي دي، کوم چې د تکل لطافت او نزاکت مجروح کوي، د ډاکټر وزیرآغا دا خبره صحي هم ده، چې سر سید له خپلو مضامینو څخه د اصلاح کار اخستی دی. له دې کبله د

هغـه دا مـضامين کـه څـه هم تکل تـه ورنـږدې دي خـو مکمل تکـل نـه شـو ورتــه ويــلای، ځکــه چــي اصــلاحي اړخ د تکــل د تيکنيــك او مــزاج څخــه ډېري ليري دی.

د سرســـيد پـــس د مولانـــا محمـــد حـــسين آزاد، مـــرزا فرحـــت االله بېــګ، ســجاد حيــدر، خواجــه حــسن نظــامي، رشــيد محمــد صــديقي، نظيــر صــديقي او ځنــو نــورو اردو ليکوالــو پــه مــضامينو کــي د تکــل ځينــي عناصــر مونــدل کيــږي، خــو هغــوی تــه مکمــل تکــل نــه ويــل کېـدلای، پــه جديــد دور کــي ډاکتـر وزيرآغــا د اردو تکــل روحِ روان ګڼـل کيــږي، بلکــې د هغــه منــونکي دا وايــي: "چــي وزيرآغــا هغــه ليکــوال دی، چـا چـي پـه صـحي معنـا تکـل پـه خپـل اصـلي رنـګ، اسـلوب او هيئـت کــي اول پــه اردو کــي وليکلــو کــه مــوږ د وزيــر آغــا د تکلونــو مطالعــه وکـړو نـو مـوږ نـه تـه بـه پـورتنۍ خبـره مغالطـه نـه بلکـې حقيقـت ښـکاره شي.

پــه موجــوده دور کــي مــشکور حــسين يــاد، مــشتاق قمــر، جميــل آذر، انــور ســديد، غــلام جېلانــي اصــغر، ســليم آغــا قزلبــاش، اکبــر حميــدي، شــهزاد احمــد او نــور بــې شــمېره ليکــوال د اردو تکــل پــه ميــدان کــي د خپــل فکــر نيلــی ځغلــوي او اردو تکــل يــې بــامِ عــروج تــه رســولی دی، د اردو ادب پــه لايبريــري کــي د تکلونــو بــې شــمېره مجموعې او انتخابونه د دې ثبوت دي.

کـه د پـښتو تکـل د تـاريخ جـايزه واخيـستل شـي، نـو معلومـه بـه شـي چـي پـه پـښتو کـي پـر دې صـنف ډېـر کـم کـار شـوی دی، د دې وجـه دا ده چـي مـوږ تـر اوسـه پـوري د تکـل لـه مـزاج سـره سـم نـه يـو ولـد شـوي، کـه څـه هـم نـن صـبا پـه رسـالو کـي ډېـر داسـي څېزونـه د تکـل پـه نـوم چـاپيږي

چې هغه د تکل د تیکنیك او مزاج څخه ډېر جلا وي او هغه ته موږ تکل نه شو ویلای، نو دا ځای د دې بحث نه دی، دلته زما مقصد د تکل د اجمالي تاریخ بیان دی، د اروانښاد عبدالکافي ادیب د وینا مطابق تکل له نن څخه تقریباً څلوېښت پنځه څلوېښت کاله له مخه اولسي ادبي جرګې متعارف کړی دی، صنوبرحسین کاکاجي راحت زاخیلي د پښتو تکل اول لیکونکي دي، مرحوم ایوب صابر خو ګرسره تر دې حده دعوه کړې ده، چې جدید تکل تر اردو ډېر له مخه په پښتو کې لیکل شوی دی، هم د پورتني محققینو د وینا مطابق مرحوم امیر حمزه شنیواری ، ماسټر عبدالکریم، دوست محمد کامل، مهدي شاه مهدي، اشرف مفتون، ربنواز مایل، قلندر مومند ، سلیم راز، مولانا عبدالقادر، ایوب صابر، لطیف وهمي، همېش خلیل، عبدالرحیم مجذوب او نورو ګڼو لیکوالو وخت په وخت و پښتو ته ښه معیاري او په زړه پوري تکلونه ورکړي دي، محمددین ژواك لیکي: "چې په افغانستان کې به هم کله د ادبي ټوټه او کله د منثور شعرپه نوم استاد قیام الدین خادم، عبدالحی حبیبي، صدیق الله رېښتین او ګل باچا الفت داسي لیکونه وړاندي کوي، چې دلته د تکل په نامه لیکل کیږي او هغوی هم په دې میدان کې د قدر وړ زیار ایستلی دی.

په موجوده دور کې هم زموږ په ادب کې ډېر داسي نومونه شته چې د تکل په صنف باندي طبع ازمایي کوي، اوس- اوس ډاکټر اسرار خپله نثري مجموعه چاپ کړې ده، چې ښه معیاري تکلونه په کې لیدل کیږي، له دې علاوه داورخان داود ، محمد اقبال اقبار، جمیل یوسفزی، عبدالواحد قلندر، طاهر اپرېدی، مفلس دراني، ګل محمد بېتاب، آزاد هشنغری، حمد الله جان بسمل، علي دیپك

قزلباش او نور زلمي ليکوال هم د تکل په مځکه کي خپل کر کوي، خو دا يو حقيقت دی، چي په پښتو ادب کي ډېر کم داسي ليکونه شته چي د اصل تکل د مزاج، اسلوب او تقاضو په تول پوره دي. (بوری - اپريل ۱۹۹٤ء) حوالې

(۱) انشائيه کي بنياد ، (اردو) ډاکټر سليم اختر
(۲) انشائيه کې خدوخال (اردو) ډاکټر وزير آغا
(۳) جديد پښتو ادب (اردو) ايوب صابر
(٤) خورې پاڼې (پښتو) عبدالکافي اديب
(۵) جرس پښتو ګڼه
(٦) تماس پښتو سلسله نمبر ۲

# دا "مایل" چي نن له لوی هنره ډك دی

یو مشال دی چي بلیږي زمانې کي
دا مایل چي نن له لوی هنره ډك دی

ربنواز مایل

هو- رښتیا هم مایل یو مشال دی، چي په خپله رڼا د زمانې له تیارو سره په جنګ دی او د یوې داسي دنیا په تکل دی چرته چي خوشحالیاني او مینه وي، خپلوي او خواخوږي وي، هو رښتیا هم مایل له لوی هنره ډك دی، له یو داسي هنره چي یوائې ټیکنیکي اړخ نه لري بلکې د هغه هنر بنیاد په عملي او فکري توګه ډېر زیات ژور او پوخ دی.

محترم ربنواز مایل یو ریټایرډ پروفیسر او د خپل عصر یو نماینده ویاند دی، هغه که نثر لیکي هم نو د هغه خپل فکري او تخلیقي نویتوب له ورایه په کي برېښي یا که نظم او غزل لیکي هم نو له هر رنګه تقلیدي انداز څخه جلا خپله فکري ځانګړتیا لري، مایل په خپلو نظمونو او غزلونو کي د دې دنیا حال په ډېرو ساده او خوندورو ټکو کي وایي، ځکه خو د هغه هر نظم له حقیقته څخه ډك او په فکري لحاظ ډېر لوړ دی، د نظم خبره مي

ځکـه وکـړه چـي زمـا د دې کتنـي بنیـادي موضـوع د مایـل نظمونـه دي، کـه چیـري د هغـه واړهٔ فـن (نظـم، غـزل او نثـر) و څېـړل شـي، نـو بـه کتابونـه ډك شـي، خـو خبـري بـه لا پاتـه وي، ځکـه د دې وړې غونـدي مقـالې وړه سـینه ماتـه دومـره اجـازه نـه راکـوي، دلتـه د مایـل لـه نظمونـو سـره زه څومره انـصاف کـولای شـم، پـه دې زه پخپلـه هـم اریـان یم.

خبـره د نظـم روانـه ده، نـو بـه دلتـه دا خبـره هـم وکـړم، چـي د غـزل پـه نـسبت پـه نظـم کـي د یـو خیـال بیـانول چـي څـومره اسـان دی، هغـومره ګـران هـم دی، کـه څـه هـم پـه نظـم کـي اسـانتیا وي ډېـر دي د مقـفٰی، معـرٰی، حـتٰی کـه د ازاد نظـم غونـدي صـنفونه ډېـره فراخـه سینه لـري خـو پـه دې قـالبونو کـي ډېـري اوتـي بـوتي او مـازي خبـري هـم بیـانیږي، پـه فکـري اعتبـار ډېـر کـم نظمونـه پـه دې ډېـري کـي خپـل ځـانګړی حیثیـت پیـدا کـړي، نظـم و هرچاتـه د څـه نـه څـه ویلـو ګنجـایش ورکـوي، خـو پـه هغـه کـي څـه خـاص ویـل د هرچـا د وس کـار نـه دی، ځکـه چـي د څـه خـاص ویلـو او پـه څـه خـاص انداز کـي د ویلـو فـن ډېـر کـم خلـک خپلـولای شـي او هـم پـه دې ډېـرو کمـو خلکـو کـي یـو نـوم د ربنـواز مایـل دی، هغـه مایـل چـي پـه ظـاهره خـو لـه هرڅـه څخـه لاتعلقـه ښـکاري، لـه دنیـا او دنیـا والـو څـه ګوشـه نـشین دی او پـه دغـه ګوشـه نـشیني کـي یـې ځـان خـوښ دی، خـو زه د دې خبـري لـه اقـرار کولـو څخـه انکـار نـه شـم کـولای، چـي پـه ظـاهره لـه دنیـا څخـه لاتعلـق دا مایـل د هـر تېرېـدونکې لمحـې پـه حـال خبـر دی او د هــري راتلــونکې لمحــې بــوی محــسوسوي، دا کمــال د هغــه د فــن او ټیکنیـك شـاید نـه وي، خـو د فکـر یـې ضـرور دی، پـه اصـل کـي د هغـه بـصیرت (وژن) ډېـر وسـیع او ډېـر ت حقیقـي دی، ځکـه

چې کومې خبرې یې کړې دي، په هغو کې د تصوراتي دنیا ډېر کم شیان لیدل کېږي، هغه د ژوند تحقیقي سختۍ په خپل اصل شکل کې بیانوي، ځکه خو د هغه انداز او بیان و لوستونکي، اورېدونکي ته ډېر زیات اپیل کوي، اپیل به ځله نه کوي، چې د هغه موضوع ژوند دی، د ژوند حقیقي شکلونه دي او د ورځني حالاتو د سترياوو ذکر دی، لکه:

اې د ورځې شپې مالکه!
شپه او ورځ دغه چکر دی
دفترونه، کتابونه
او بیا خپل مړی پر شا مې
د پریجونو په ګړنجا کې
ځان له هر څه ناخبر کړم
بې سکونه، شپه سحر کړم
هر سړی د ځان سایه وي
د سترپا بله نامه وي
اې د ورځې شپې مالکه!
موږ ترټلي خو د تا یو

د مایل نظمونه ماته ډېر زیات اپیل ځکه کوي چې په دې کې د ژوند د کشالو او حقیقتونو ذکر زیات دی، یو رنګه د موجوده عصر عکسونه په کې راغونډ دي، په دې نظمونو کې موږ د نړۍ بدرنګه څېره هم لیدلای شو او د هغه ښایست هم، دا جلا خبره ده، چې د نړۍ څېره له ازله داسې بدرنګه نه وه، بلکې د دې ښایست په دې کې اوسېدونکو انسانانو بدرنګه کړی دی، ځکه

خو چا ويلي وو، چي په دې کاينات کي تر ټولو ښايسته شی انسان دی، او تر ټولو بدرنګه شی هم انسان دی، چي بدرنګي له خپله لاسه راوړي، که موږ د نن سبا حالاتو ته وګورو نو به دا خبره ثرګنده شي، چي دا وخت د دنيا د بدرنګۍ اړخ لږ زيات غالب دی، له دې کبله و هري خواته د مقصديت بحران ليدل کيږي، ولي چي زمانه په ډېره تيزي سره بدليږي او ظاهره خبره ده، چي د بدلون دا تېزي فطري نه ده، د دې تر شا هغه خوړجن له ظلم او ستم او استحصال ثځه ډك تاريخ پټ دی، چي ابتدا يې د ځيني مهذبه انسانانو له هغه قدم ثځه شوې ده، چي هغوی د دنيا له نورو انسانانو د "مهذب" کولو دپاره اخيستی وو، او د دې دپاره يې د دنيا يوه لويه برخه په زوره قبضه کړې وه، چي په کوم کي هغو د دغو خطو د وسايلو ذره- ذره وځبېښله بيا يې د "ترقي" په نوم د استحصال دا سفر جار وساتلو او نن يې د استحصال او هغه عمل ته د "ګلوبالايزېشن" په ظاهر ښايسته خو په حقيقت کي بدرنګه نوم ورکړی دی، دا هرثه نن د جديديت(Modernization) د هغه عمل نتيجه ده چي انسان يې په پوره توګه د ماده پرستي پر خوا روان کړی دی او له خپل تهذيب، رواياتو او انساني خصوصياتو ثځه يې ليري کړی دی، ځکه خو نن په انسان کي د ميني، وفا او خپلوۍ جذبات د نشت برابر دي، مايل د نن ثځه شپږويشت کاله له مخه لا دا خبره کړې وه چي

هو منمه! د دنيا مزاج بدل دی
د مادې دپاره ښکلی هر عمل دی
هو- منمه! د وجدان لاره کږه ده

مینــــه هـــسي هـــم نـــا لوســـتې صـــحیفه ده
هـــــو- منمـــــه! د هرچـــا حـــال د هـــوا دی
یـــو د ځـــان خوښـــی رفتـــار کـــي مبـــتلا دی
هـــــو- منمـــــه! زېـــړه پاڼـــه د خـــزان یـــم
لکـــه ښـــه ښـــګلنه مځکـــه، خـــو انـــسان یـــم

مایـــل د دې هـــر څـــه نفسانفـــسي بـــاوجود د انـــسان د وجـــود لـــه عظمتـــه څخـــه انکـــار نـــه کـــوي او نـــه لـــه هغـــه ســـره تړلـــي مابعـــد الطبعیـــاتي حـــالاتو څخـــه مـــایوس دی، ځکـــه خـــو د انـــسان د دې عظمـــت او ښایـــست دپـــاره د دنیـــا لـــه بـــدرنګی څخـــه د ازادی خوبونه ویني او وایي:

مونږ که خوبونه وینو
په خوبونو
هم ځان لویوو
هم خپلي خوښی په کي غواړو
نو دا کوم جرم دی
مونږ که خوبونه وینو
د دنیا په لنډې تنګې شان ګڼلو
یا د زیات فراخ
زیات نوی رنګ، میدانونو په غوښتلو
نو دا هم کوم جرم دی
مونږ که خوبونه وینو
او په بل رخ

«پر دې تېولو، ګوا ببخي دې پر شان محیط
د سیل ویړه فضا هم
له آزادۍ، له دېري آزادۍ نه غواړو
او د ځان بقا هم
له آزادۍ، له دېري آزادۍ نه
نو دې ته، جهان جرم ولي واي؟
او دا په کوم حیث
یا ځنګه زمونږ، دېر د بدو جرم دی

خو دلته د دې خبري وضاحت هم ضروري دی، چې مایل له هغه خلګو څخه نه دی، چې یوائې خوبونه ویني او یا دا انتظار کوي، چې حالات به په خپله بدلیږي، هغه نه یوائې پخپله له حالاتو سره د جنګ حوصله لري بلکې هغه خلګو ته هم حوصله او همت ورکوي، چې کله- کله د حالاتو له سختي څخه غړی واچوي. مایل په دې خبر دی، چې نن په دنیا کي کوم حالات دي، دا فطري نه دي، دا انسانانو پیدا کړي دي، او د انسانانو د پیدا کړو بدو مخه نیول ګران کار نه دی، ځکه خو مایل که یوې خواته د آزادۍ، سوکالۍ او امن خوبونه ویني نو بلې خواته د هغه خوبونه د حاصلولو دپاره په عمل باندي هم پوخ یقین لري، ځکه خو د خپل زیات بصیرت له کبله خپل منزل دېر څرګند ویني او ملګرو ته هم د پرمختګ همت ورکوي، او وایي:

څـــو قدمـــه تـــګ دی نـــور
بیـــا بـــه پـــر منـــزل یـــو مـــونږ
ښـــاد بـــه یـــو پـــه سـل یـــو مـــونږ
څـــو قدمـــه تـــګ دی نـــور

غــــــــړي اچــــــــول پــــــــه خـــــــــه
زړه هـــــــــــسي وژل پـــــــــه څـــــــــه
لنـــــــــډه اوس قيـــــــصه چـــــــي ده
ټولـــــــــه سلـــــــــسله چـــــــي ده
څـــــــو قدمــــــه تـــــــګ دی نــــــور
هلتــــــه کهکــــــشان پــــــه غــــــږ
دلتــــــه هــــــر نــــــشان پــــــه غــــــږ
ولــــــي دا ســــــفر کــــــو مــــــات
غــــم کــــو د ځــــان نــــور هــــم زيــــات

د ادب هــر صــنف د خپــل عــصرترجماني کــوي، ځکــه د ډېــرو تــاريخي او تهــذيبي حــالاتو جرړونــه پــه ادب کــي ليــدل کيــږي، او دا ځکــه ليــدل کيــږي، چــي د ليکــوال حــساسه طبعيــت د چاپېرچــل پــه ترجمــاني بانــدي هغــه مجبــوره کــوي، هــم لــه دې وجــي مايــل هــم پــه ډېـرو داسـي واقعــاتو پــه چيغــه شــوی دی، چــي پــه کــوم کــي تــاريخ چــپ شــوی دی او چــي د تــاريخ بــد ديانتــه ليکوالــو اصــل تــاريخ خلګـو څخـه پـټ سـاتلی دی، پـه دې واقعـاتو کـي يـوه واقعـه د وېـت نــام د جنــګ ده، چــي پــه کــي د دنيــا "مهذبــه قــام" پــه لکونــو وېتناميـان پـه داسـي بـې دردي، وحـشت او بربريـت و وژلـو چـي پـه تــاريخ کــي يــې ډېــر کــم مثالونــه ليــدل کيــږي، د آزادی، جمهوريــت او انــساني حقونــو علمبردارانــو لــه وېت ناميــانو ســره هغــه ظلــم او جبــر وکــړ، چــي انــسانيت پــرې پــه خپلــه وژړل، خــو د دنيــا تــاريخ ليکونکـو دا ټـول واقعـات داسـي پـټ کـړو لکـه ګرسـره چـي څـه شــوي نــه وي، خــو هغــه پــه دې نــه وو خبــر چــي داسـي واقعــات بــه لــه

هغـو خلکـو څخـه څنـګه پټیـږي چـي پـه سـینه کـي یـو حـساس زړه لـري او لـه انـسانانو سـره مینـه لـري، د مایـل رنګـه خلـګ کلـه پـه داسـي وخـت کـي چـپ پاتـه کېـداى شـي، ځکـه خـو هغـه د تـاریخ پـه دې خـونړۍ پېـښې بانـدي خپـل احتجـاج کـړى دى او و دې انتهـا تـه رسـېدلى دى، چـي د نـن حـالات د انـسانانو د اوسـېدو نـه دي، نـن شـیطان لـه خپلـو پـوره شـیطاني خـصوصیاتو سـره د انـسانانو د ننـه داخـل شـوى دى، ځکـه انـسان تـه ببرتـه هلتـه تلـل پـه کـار دي، چیري چي مینه وه، خپلوي وه او انسان دوستي وه:

زمـا طلـب نـه زر، نـه د مرمـرو رنـګ محـل
زمـا طلـب نـه پېغلـي، د شـهوت د تـاو پـه لـړ
زمـا طلـب نـه جـام، نـه د صـهبا نـشي ژونـد
زمـا طلـب نـه واك، د هـر احـساس د مـرګ پـه تـړ
زمـا طلـب چـي وینـي، د وېـت نـام جـوړي چکلـې
زمـا طلـب چـي وینـي پـه وېـت نـام د اور څپـاو
زمـا طلـب دغـه دى چـي انـسان یـو واري بیـا
ببرتـه پـه شـا لاړ شـي، پـه مېـرو کـي شـي دېـره

پـه دې کـي هـیڅ شـك نـشته چـي پـه حق بانـدي درېـدل او ریـښتیا ویـل یـو روحـاني قـوت او جـرات غـواړي هغـه روحـاني قـوت چـي محمـد ρ یـې د قـریش غونـدي طـاقتوري قبیلـې تـه مخـامخ ودرولـو، و مهاتمـا ګانـدي تـه یـې د فرنګـي غونـدي مـضبوط سـلطنت سـره د ډغـري وهلـو جـرات وکـړي، چـي ګـوبرا، نېلـسن منـډیلا او مـېلکم ایکـس تـه یـې د ظلـم او جبـر او استحـصال مـخ نیـوى کولـو همـت

ورکړو، "مایل" هم د دغه رنګه روحاني او وجداني قوت قایل دی او د تیارو خلاف په جنګ اخته دی، که څه هم پړقیږي خو ځلیږي، د ظلم خلاف تر خپله وسه پوري خپل کردار لوبوي، او د ظلم خلاف کردار لوبول د مضبوط وجداني کیفیت بغیر ممکن نه دی، ځکه خو مایل له دې څخه نه وېرېږي، چې مرګ به یې په نتیجه کې وي، بلکې تر هغه پوري د حق ویلو جرات لري، چې په ده کې څه نا څه سکت باقي وي.

هسي نه چې دا خیال دي
په مغزو کې چرته راشي
چې ما پرېښوه
د وجدان ښودلې لاره
تش د ځان د مرګ له ډاره
ستا په کور کې زما د اور دا یوه لتکۍ
چې که تت یم خو ځلیږم
په هوا کې هم پړقیږم
زما ژبه غوڅه وي
زما ګوتي هم قلم کړي

د مایل په لیک کې نظم وي او که نثر؟ په سطحي انداز ځان پوهول په هیڅ توګه هم اسان کار نه دی، نن صبا چې د مطالعې کوم سهل او سطحي انداز روان دی، هغه د یو سطحي فکر لرونکی لیك د پاره خو هیڅ کېدای شي، خو دلوی فکر و ژورتیا ته د رسېدو قوت نه لري، ځکه خو همېشه ژور او لوی فکر په

دې وجه شاته کړی شوی دی، چې په دې څوك نه پوهیږي خو بیا هغه فکر همېش له خپل وخت سره خپل عظمت پیدا کړی دی، د خپلي کم علمي او سطحي انداز ته د یوه لیك د ابهام نوم ورکول ډېر اسان دی، خو له یو لیك سره حقیقي انصاف کول ډېر ګران کار دی، نو ځکه کوم لوستونکی چي د لوستلو سطحي انداز لري هغو ته زما دا مشوره ده، چي د مایل تخلیقات دي نه لولي ځکه چي د خپل عصر پر کومو حالاتو مایل نظر لري، شاید د سطحي انداز لرونکو خلګو بصیرت هغوني نه وي.

بهرحال زه هم دا دعوه نه کوم چي زه د مایل د تخلیقاتو په مقصدیت پوره پوهه شوی یم، دلته چي ما د هغه د یو څو نظمونو تجزیه وړاندي کړه، د دې فیصله به لوستونکي کوي، چي ما څومره انصاف ورسره کړی دی، زه په خپله مایل د خپل عصر یو داسي نباض ګڼم چي د معاشرې په هر مرض خبر دی او د هغه دپاره د هغه د خاتمې دپاره په ډېره ذاتي سطحه خپل وس کوي، خدای دي وده ته عمر دراز ورکړي، چي موږ را روان نسلونه د ده د تخلیقاتو څخه د مقصدیت او حقیقت لاري خپل کړي. (آمین)

اګست ۲۰۰۱ء

# ما شاعر ولیدو ....................

دا څه د دوولس یا دیارلس کاله له مخه خبره ده، چې ما د شاعري ساز د څېړلو پیل کړی ؤ، دا پیل مې هسې بې استاده کړی وو، په دې نه پوهېدم چې غزل څه دی او نظم څه دی، بس په اخبارونو کې به مې شاعري لوسته او بیا به مې د خپل سوچ مطابق په اخباري انداز کې د څه اوتو بوتو لیکلو خواري ترسره کوه، دا نو هغه دور وو، چې ما څه شاعر په سترګو نه وو لیدلی او نه مې پر ځان د څه شاعر ګومان کېده، په مغزو کې مې دا خبره پرته وه، چې دا شاعر به خدای خبر څنګه شی وي، یعنې په دغه خبره به زما مغزو ته اورومرو دا تصور راتلو چې شاعر شاید د انسان رنګه نه وي، څه نور غوندې مخلوق به وي، (دومره فرق ؤ، چې د څه سیارې د مخلوق شك مه نه پر کېدو) دلته له بل رنګه مخلوقه څخه زما مراد دا نه ؤ، چې شاعر به څه مافوق الفطرت یا عجیبه غوندې مخلوق وي، بې شکه په ذهن کې د شاعر په مجسمه توګه له انسان څخه څه مختلفه او بېل شی ؤ، ګوا د شاعر تصور زما په نزد تر انسان څه د اعلیٰ غوندې مخلوق وو، زما دا تصور ځکه ؤ، چې لکه مخکې مې وویل چې څه شاعر یا شاعرنما مخلوق مې نه په دا

خپلـو سـترګو لیـدلي ؤ او نـه مـي پـه خپلـو غـوږو اورېـدلی وو، هغـه وخـت زه څـه چـي ټـول بـوری لـه ټـي وي څخـه هـم ډېر لیـري وو، ګني چرتـه بـه مـي پـه څـه مـشاعره کـي څـوك شـاعر لیـدلی وای، نـو بـه مـي د شـاعر پـه بـاب څـه Exposure شـوی وو، خـو تـر هغـه وخـت مـا یـوائي پـه اخبـارونو کـي لیـك شـاعري لوسـتې وه او چـونکې پـه مـا کـي هـم لـه دې سـوبه د شـاعري مـاده را بیـداره شـوې وه، نـو بـه مـي څـه مـصرعې ګـډي وډي سـره لیکلـې هغـه وخـت مـي و دې تـه هـم فکـر نـه رسـېدو چـي خـو هغـه دی زه پخپلـه د شـاعري رنګـه څـه کـار کـوم، نـو یقینـاً شـاعران بـه زمـا رنګـه انـسانان وي، خـو څنګـه یـې کـوې، بـس و ځـان تـه مـي هـم فکـر نـه تلـو، کلـه- کلـه بـه هغـه وخـت مـا د کـوټي رېډیو خپرونـي هـم اورېـدې، نـو کـټ مـټ مـي پـه رېډیو کـي د ږغېـدونکو خلګـو پـه اړه هـم څـه دغـه رنګـه تـصور ؤ، خیـر څـه یـې کـوې، چـي خبـره نـوره پـسي اوږدوم، مـا چـي شـاعري پیـل کـړې وه، نـو د دې امکـان خـو ارو مـرو موجـود ؤ، چـي چرتـه نـه چرتـه بـه لـه څـه شـاعر سـره زمـا مخـه ضـرور کیـږي، پـه دا دوران کـي زمـوږ د انګریـزي لـه اسـتاذ غـازي خـان جـاذب سـره چرتـه مـا د خپلـي شـاعري تـذکره وکـړه، بیـا هغـه لـه مـا څخـه زمـا څـه ګـډ وډي غزلـې پـه دغـه نیـت واخیـستې چـي یـې ویـل: "زه بـه یـې و خپـل اسـتاذ سـید خیـر محمـد عـارف تـه ورښـکاره کـړم، د Common Sense خبـره وه چـي غـازي خـان جـاذب د خپـل اسـتاذ خبره وکړه او کلـه- کلـه بـه یـې خپـل څـه شعر هـم پـه کـلاس کـي راتـه ویلـو، خـو زمـا سـاده ذهـن لا بیـا هـم د شـاعر پـه یـو بـل رنـګ تـصور کـي ؤ هـم پـه دا نـه رسـېدمه چـي شـاعران بـه څرنګـه مخلـوق وي؟؟؟؟؟؟

زما ماتي ګوډي غزلي به خود تر سید خیرمحمد عارف رسېدلي وي، خو د شاعر د یو مجسم انسان په توګه زما Exposure هغه وخت وشو چې یوه ورځ ماځیګر د یو ملګري دکان ته ورغلم، د دې دکان له مخه زما له ملګرو سره یو ډېر ساده غوندي سړی هم په خبرو بوخت ؤ، ګول چترالي ټوپۍ پر سر، ساده غوندي جامې او وربانـدي صدرۍ اچولې خرېیلې ږیره او کوچني غوندي برېتونه، یو ساده غوندي سړی، ما دا سړی هسي د یو څو لمحو دپاره ولیدو، ولي چې زما د ورتګ څو لمحې وروسته دا ساده غوندي سړي رخصت واخیست او روان شو، چې کله روان شو، نو هسي په بې خیالۍ کې زما نظر پوري وښنتو چې په تګ کې یې لږ فرق ؤ، پښو ته چې مې وکتل نو په څپلۍ پوري یې څه تارونه هم تړلي ؤ، له ملګري مې هسي د دې سړي پوښتنه وکړه، هغه راته ویل: "چې دا سید خیرمحمد عارف ؤ، ډېر لوی شاعر دی، زه د څو شېبو دپاره په اریاني کې ولاړم، دا اریاني مې په دې وه، چې ما اول ځل په خپلو سترګو د شاعر مجسم وجود ولیدو، هغه وخت پر مابانـدي دا خبره څرګنده شوه، چې شاعر خو انسان وي، ډېر ساده غوندي انسان، چې د دې معاشرې برخه وي، بیا مې و ځان ته د شاعر په حیث هیله پیدا شوه، چې زه هم واقعي شاعري کولای شم، ولي چې ما شاید په اول ځل یو مجسم شاعر ولیدو او هغه انسان ؤ، ډېر ساده غوندي انسان، ډېر عاجزه غوندي انسان، په خبرو کې له انکساري او خلوصه ډك انسان، څو ورځي پس زه په خپل کلاس کې ناست وم، چې محمدعلي بوریوال راغلو زه یې دبانـدي وغوښتم او یوه بلنه یې راښکاره کړه، چې د سید خیرمحمد عارف له خوا لیك ؤ،

چې نن ماسپښین د قاضي عالم ضمیر په یاد کې مشاعره ده، د شاعرانو له نومونو سره زما نوم هم لیکلی ؤ، وروسته بیا زه په څه شش و پنج کې وم، چې زه به څنګه ورځم؟ او هغه هم د دومره ډېرو شاعرانو میان ته؟

خپل مت او حوصلې ملګرتیا نه راسره کوله، خیر همت مې یوځای کړ او خپل د هغه وخت دوست شمس الحق چرمی مې دې ته تیار کړ، چې ماسپښین به له ما سره مشاعرې ته ځي چې زړه مې په ډاډه وي، بیا چې کله زه له شمس الحق سره د انفارمېشن سېنټر په خونه ورننوتم نو د مېز تر شا په مخامخ کرسۍ باندې هغه ساده پاده غونډې انسان قلم او کاغذ په لاس کې ناست ؤ، چې ما څو ورځې له مخه د خپل ملګري د دکان له مخه لیدلی ؤ، یعنې سید خیرمحمد عارف، هغه اول مجسم شاعر چې د شاعرۍ په اړه یې زما تصور حقیقي کړی ؤ، عارف صاحب په ډېره مینه را ولاړ شو، روغبړ یې راسره وکړ او دستي یې د انفارمېشن سېنټر یو بل ملګری، چې تر اوسه پورې په "خانې" مسما دی، و چای راغوښتلو ته ولېږلو، تر دغه وخته پورې ما خپل نوم هم ور ښوولی ؤ او ده بیا دستي مخ ته پر مېز باندې پراته کاغذونه سره وپلټل، یوه پاڼه یې را وایستله ماته یې ونیوه، ما ته یې وویل: "جاذب صاحب ستا غزلونه ماته راکړې ؤ، ما دا یوه سمه کړې ده، د نن په مشاعره کې یې ووایه، ما ورته وویل:

"چې ما خو بل وخت څه مشاعره نه ده کړې، "ده راته وویل: "چې دا غزل یو څو واره له ځانه سره تېره کړه، تابه په درېیم ځلورم نمبر را وغواړو یوه خبره نه ده، دومره ګران کار نه دی".

دا زما د ژوند اوله مشاعره وه، چې د شاعرانو په اړه یې زما Exposure نور هم پراخ کړو، ولي چې هم دلته ما پروفیسر ربنواز مایل، کمېل قزلباش، رازق فهیم، مالك زهیر، خورشید افروز او نور ډېر ولد او ناولده خلګ د شاعر په بڼه کي ولیدو. زما ښه یاد دي، چې کله ما په دغه مشاعره کي خپله غزله اوروله نو په "واه- واه او ډېر ښه- ډېر شه کي د دوو انسانانو ږغونه زما تر غوږو رارسېدو، په دې کي یو ږغ د مرحوم حاجي میرزا خان پېښي ؤ، او بل ږغ د حیات سید خیرمحمد عارف ؤ، چې زما حوصله یې پر ځای ساتله، بس د هغه پس زه هم د سید خیرمحمد عارف په کاروان کي د یو شاعر په حیث شامل شوم، دا سید خیرمحد عارف ؤ چې زه یې د شاعري په رموزو دا رنګه پوهولم لکه یو ډېر شفیق دوست چې خپل بل دوست ته لاره ور ښيي، سو که- سو که زه هم د شاعري د فن په باریکیو ولدېدم.

دا د عارف صاحب د میني، خپلوي او خلوص وجه وه، چې بیا دا زما روټین جوړ شو، چې څنګه به د کلاس له بوریت څخه را خلاص شوم، نو به سیخ انفارمېشن سېنټر ته راغلم، او بیا به د ماسپښین تر اذانه پوري دلته ناست وم، یوې خواته د عارف صاحب له مهارتونو څه د غزل او نظم په فني اړخونو خبرېدم نو بلې خواته به د ټوقو ټقالو په خندني محفلونو کي هم ګډ وم، ولي چې عارف صاحب څومره لوی شاعر دی،

دومره ښه او لوی انسان هم دی، ځکه خو يې د شاعر او انسان هر دواړه اړخونه له ميني او خلوصه ډك ؤ، په انفارمېشن سېنټر كي زموږ محفلونه هره ورځ جوړېدو او بيا به په مياشت كي يو واره ښه خوندوره مشاعره يا بل داسي ادبي نشست به هم كېدو، چي له هغه ځخه به زما رنګه نوي شاعرانو او ليكوالو ډېره زده كړه كوله، دا خبره خو له هغه وخته ډېره ځرګنده وه، چي دا رسمي او غير رسمي محفلونه به د عارف صاحب شا او خوا جوړېدو، ځكه خو دا سلسله تر ننه پوري په يوه نه يوه رنګ كي روانه ده، زما نه يادېږي چي په بوري كي دي داسي يو ادبي نشست شوی وي، چي د هغه تر شا عارف صاحب نه وي، خوشحال بابا خو ويلي ؤ چي:

پښتانه لكه مګس وربانـدي ټول دي
ورته ايښی دی مغل د حلوا تال

دغه رنګه عارف صاحب هم د بوري د شاعرانو دپاره تر شاتو څه كم نه دی، چي ټول هره ورځ باندي راټول وي، زما يقين دی، چي زما د دې محفل د برخه جوړېدو له مخه هم كه په تېرو قريباً شلو پښت پنځوس كاله كي په بوري كي هر ادبي محفل جوړ شوی وي، د هغه تر شا به ضرور د عارف صاحب لاس وي، دغه د عارف صاحب همت ؤ، چي زموږ د دې محفل د برخه جوړېدو وروسته هم د نړيوالې سطحي ادبي سېمينارونه په بوري كي جوړ شوي دي، چي تر ننه پوري يادېږي، خو يوه بدبختي هم له دغه رنګه يوه ادبي سېمينار څخه موږ ته راپېښه شوه، كله چي موږ دا سېمينار جوړولو او

د دې کــاروايي روانــه وه، نــو عــارف صــاحب د يــو نشــست صـدارت و يـوه سياسـي شخـصيت تـه وسـپارلو، عـارف صـاحب پخپله هم لـه هغـه نظريې سره څـه نـه څـه تړون لرلـو او تـر اوسـه يې لـري، خـو دا سياسـي شخـصيت تـه صـدارت ورکـول زمـا او ځينـي مارنګـه نـورو ملګـرو پـه دې وجـه خـوښ نـه کـړ، چـي مـوږ د پـښتو ادبي ملګـري شـناخت لـه يـوه سياسـي ګونـد سـره تـړل نـه غوښـتو، بـس دا خبـره څـه وشـوه، لـه هغـه محفلـه څخـه زمـا ناسـته ولاړه ختمـه شـوه، بيـا نـو د عـارف صـاحب پـه مـشري کـي ټـول پـښتو ادبـي ملګـري يـوې خواتـه ؤ، زه او علـي کمېـل قزلبـاش بلـي خواتـه ؤ، دا ادبـي جنـګ څـه زيـات اوږد شـو، پـه مـابين کـي داسـي خلـګ هـم را ولوېدو، چـي مـوږ تـه بـه يـې يـوه خبـره کـوه او عـارف صـاحب دوی تـه بلـه، چـي لـه دواړو اړخونـو يـې خواشـيني زياتولـه، دا سـوړ جنـګ چـي لـه يـوې خبـري شـروع شـو، تـر ډېـرو خبـرو ورسـېدو او تـر ميـان تقريبـاً شـپږ يـا اووه کالـه ووتـو، پـه دغـه شـپږو اوو کـالو کـي بيـا مـا د بـوري پـه يـوه ادبـي محفـل کـي هـم ګـډون ونـه کـړ، قـصور زمـوږ ؤ کـه د عـارف صـاحب؟ څـه يـې کـوې څـه سـر مـو پـر لـه ګرځـوم، دا لـږ اوږده قـصه ده، پـه کـار نـه ده چـي اوس وشـي، خـو چـي د دې تـر ميـان څنګـه- څنګـه وخـت تېرېدو، لـه زړونـو څخـه خوابـدي پـه خپلـه وتـه، خبـر شـوم چـي پـه دغـه دوران کـي عـارف صـاحب حـاجي هـم شـو او صـوفي هـم، (صـوفي دلتـه د ډېـري پرېښولو پـه معنـا دی) خـو څـه سـر مـو پـر لـه ګرځـوم، زمـوږ تـر ميـان کـه هرڅـه ؤ، پـه خپلـه لـه ميانـه څخـه ووتـو، يـو وار بيـا زمـا ناسـته پاسـته لـه عـارف صـاحب سـره پيـل شـوه، خـو دا ځـل پـه دې ناسـته کـي هغـه تسلـسل ځکـه نـه ؤ، چـي يـو خـو زه د روزګـار پـه سلـسله کـي پـه کوټـه کـي مېـشته شـوم، بـل هغـه

انفارمېشن سېنټر هغه رنګه نه شو پاتـه او نه ادبي محفلونه هغسي ؤ او درېیم په دغه دوران کي عارف صاحب پر له پسي له ډېرو کشالو سره مخامخ شوی ؤ، که یوې خواته په مختلفو کاروبارونو کي د عارف صاحب شریکانو د ده په اخلاص او عاجزي باندي د خپلي فایدې ارې تېرې کړې وې او دی یې په مالي ستونځو اخته کړی ؤ، نو بلې خواته په خپل کور کي له خپلو را لوی کړو تربورانو سره د کور د تقسیم تر مرحلو هم را تېر شوی ؤ.

ما اورېدلي ؤ چي ډېر په خوا عارف صاحب تر ډېرو خواریو راتېر شوی ؤ، په دغه دوران کي یې هم مالي حالت لږ ډېر مضبوط کړی ؤ، چي دا سختري یو تر بل بتري ور پېښېي شوې، دا وخت عارف صاحب یو وار بیا په سپینه ږیره د خپل اقتصاد او روزګار له کبله د شارګ په تورو غرونو کي د توري سونا په لټون سر ؤ او تر اوسه په دغه لټون سر دی، ځکه زموږ ناسته پاسته اوس کمه ده، اوس چي کله عارف صاحب د خپلي نوکرۍ په اړه کوټې ته راشي نو ضرور ماته ټیلي فون کوي او بیا موږ په یو هوټل کي کښېنو، نه یواځي پر ادبي منظر ږغېږو، بلکې خپله شاعري هم سره اورؤ، یا بیا په یوه بل اختر موږ په بوري کي سره وینو، دا یوه داسي موقع وي، چي یو واري بیا د عارف صاحب شا او خوا موږ ټول د بوري شاعران سره راغونډ شو، د یوه بل په حال خبر شو او یوه بل ته خپله شاعري اورؤ، اوس خو انفارمېشن سېنټر هم له سره ختم شوی دی، خو عارف صاحب د بوري د ناظم له دفتر سره د سېنټر دپاره ورکړل شوې خونه سرکار ته بېرته نه ده ورکړې، (خیال

کوئ چې د بوري ناظم خبر نه کړئ) ځکه خو اوس د اختر په ورځ یا په بله داسې موقع چې عارف صاحب د شارګ له سترياوو څخه بوري ته را وتښتي نو دا خونه بيا د يو څو ورځو دپاره ودانه شي، ځکه چې اوس دا د پښتو ادبي ملګرو خونه ده، عارف صاحب ته خو مو دا مشوره هم وکړې ده، چې دا خونه د څه ثقافتي مرکز په نوم کړو چې د پښتو ادبي ملګرو تر اهتمام لاندې وي، يا بيا د دې مقصد دپاره له ناظم څخه څه بل ځای وغواړو، ګوره چې کله دا تر سره کيږي.

عارف صاحب له حج وروسته صوفي شوی دی، خو ګرسره خپله ږيره توروي، د ږيري د تورولو قصه يې څرنګه ده؟ چې کله عارف صاحب له حج څخه بېرته راغلو نو ږيره يې ښه کافي بلکې تکه سپينه وه، خو چې کله سعيدګوهر، عبدالکريم بريالی او سرور سوداني د حج مبارکي ته ورغلو نو درې واړو په زوره عارف صاحب نيولی ؤ او ږيره يې ورتوره کړې وه، زما خيال دی چې ګوهر، بريالی او سوداني د عارف صاحب دپاره د ده ږيره نه ورتورولـه، بلکې له دې وېري يې ږيره ورتوره کړه، چې د عارف سپيني ږيري د ګوهر، بريالي او سوداني اصل عمر وخلکو ته ور ښوولو، بس نو بيا لکه چې عارف صاحب هم د ځان بېرته ځوان ساتلو دپاره ږيره تورول خپل ضرورت وګرځولو او کله- کله يې واقعي هم دا ځني هېره شي، چې اوس د لمسيانو نيکه دی، خو څه وکړي، ناسته يې ټوله له ځوانانو سره ده او بل يې زړه هم هسي ځوان دی، نو ځان به ځوان ولي نه ورته ښکاري، خو دا اوس چې کله مونږ د لوی اختر په موقع د رمضان منتظر کره يوه شپه مېلمانه وو، نو د رمضان منتظر

زوی کلیم الله روغبړ تـه راغلـئ، کلیم الله ماشـاء الله اوس ځـوان دی، ځکه خو عارف صاحب وویل:

"چې اوس په ځان پوهه شوم، چې زه زوړ شوی یم، ولـې چـې د کلیم الله نوم لا ما ایښی دی" لیکن کـه څـه هم پـه طبعي توګه عـارف صاحب څه نا څه زوړ شوی دی، خـو مـا یـې شاعري زړه نه ده لیدلې، عـارف صـاحب نن هم هغـه رنګه ځواني غزلـي لیکـي، څنګه چې ما د ده په ډایریانو کې هغه وخت لیدلي دي، چـې عارف صاحب په طبعي توګه هم ځوان ؤ، خو هو لږ فرق یې اوس په طبعي توګه دا کړی دی، چې کله- کله یې تسپې په لاس کې وي، خـو تـا بـه هـم د خپل بېټهک پـر غـالۍ ګرځـوي، چـې زما تسپې راسره ولټوه، یا بیا بـه داسي هم ورسره وشي، چـې کله د ده په بېټهک کې څوك مېلمه اودس وکړي، نو عارف صاحب تولیه ور واخلي چې دا ده مصله در واخله، خو ډېر زر چې پخپله په پوه شي، نو په خپله هم و خاندي او و بل ته هم وایي: "په راخانده خو مه"!

دا خو لا خیر دوني خبره نه ده، له عارف صاحب سره په دغه اړه تـر دې هم زیاتې پېښې شـوې دي، لـه دغـو پېښو څخه مـوږ د عارف صاحب د سادګۍ او عاجزي ښه اټکل لګولای شو، ولـې چې لـه ده سره هره پېښه شوې ده، په هغه کې د ده هیڅ قصور نه وي، هـو- د ده د سـادګۍ او ملنګانـه طبعیـت دخـل ضـرور کېدلای شـي، انسانان خو لا پرېږده، بې زبانه او بې شعوره ځناوران لا هم د ده له دغه ساده طبعیت څخه خپله حصه بقدرِ جُثه تر لاسه کړې ده، و دې پېښې تـه زه دلتـه یـوائې اشـاره

کولای شم، ګڼي په دې خو لا د عارف صاحب د شاهرګ خانسا مان پوره حال لري، ولې چې هغه د داسي پېښي چشم دید ګوا دی، یا بیا دا رنګه قصې د عارف صاحب په نزدې حلقه کي د Open Secret رنګه دی او د خوش قسمتي خبره دا ده چې په دې نزدې حلقه کي زه هم شامل یم، خو تاسي په دې بشپړ راز نه شم راګډوای، که چرته څوك څه د جاسوسي ماده لري نو په دې راز پسې دي وګرځي، د شاهرګ د خانسامان یا د بوري د جمال الدین مسافر ضمانت زه نه شم درکولای.

خو په دې راز پسې ګرځېدونکی دي له ما سره څه تماس نه نیسي، زه یې هسي هم نه ورښیم، په ډېرو شورو کي ما دا اورېدلي ؤ، چې د عارف صاحب دسترخان پراخ نه دی، خو دا اورېدلي ټولي خبري هله درواغ شوې، چې هر کله زه د عارف صاحب تر ښېټك رسېدلی یم، نو مي دسترخان ویړ لیدلی دي، که بریالی بوري ته راغلی دی، که سرور سودایي یا محمود ایاز یا بیا هسي زما غوندي ملګرو د ده په کور پېښه ورکړې ده، نو دسترخان ضرور خور شوی دی او بیا هغه وخت ټول شوی دی، چې عارف صاحب په ښه مینه او خلوص پر دسترخان ناست هر ملګري ته د نور- نور خوړلو په اصرار پر دسترخان پروت هر شی تر اخره نه وي رسولی، تر دسترخان یو بله خبره را یاده شوه، چې موږ یو ځل د علي کمېل قزلباش کره مېلمانه ؤ، له ډوډۍ خوړلو وروسته چې مو کله رخصت اخیستو نو عارف صاحب و کمېل ته وویل:

"چې موږ خو در ډېره کړه خدای دې در لږ کړي"، دلته هم د عارف صاحب ژبه وا وښته، او د موږ در لږ کړه خدای دې در

ډېره کړي، پر ځای یې د دې اولنۍ جملې تر خوله ووته، خو هغه خبره ده، چې په لوی ښار کې کوچنی- کوچنی پېښې کېږي، یا به ووایم، چې د ښایستې یو عیب نه دی عیب، هسې هم د عارف صاحب دا "نه عیب" د ده شا او خوا غونډ ملګرو ته کله- کله له ده سره د خندلو موقع ورکړي، دغه وجه ده چې موږ کله هم په ده باندې نه دي خندلي بلکې له ده سره مو خندلي دي.

عارف صاحب څه ډېر زاړه یاران او اشنایان هم تراوسه پورې لري، د دوستانو په حلقه کې یې څه داسې ملګري هم شامل دي، چې اوس یې د دوستۍ عمر و پنځوس کلو ته ډېر ور نږدې دی، تر ټولو پخوانی اشنا یې سعید ګوهر دی، ګوهر صاحب یې د هغه وخت ملګری دی، چې کله عارف صاحب د خپل شعري ژوند په ابتدا کې باندې شاعري کوه، دا د دې دوستي وجه وه، چې بیا عارف صاحب او ګوهر صاحب په جدید شاعري کې نه یواځې نوې- نوې تجربې وکړې، بلکې د پښتو ادب لمن یې له ډېرو ښایستو ملغلرو ډکه کړه، او تر اوسه یې ډکوي.

په نورو زړو اشنایانو کې یې په ادبي حلقه کې عبدالکریم بریالی او سرور سودایي هم بقید حیات دي، اوس هم چې کوټې ته پېښه را وکړي، نو زیاتره وخت یې له دغو دوو کسانو سره تېرېږي، اوس چې کله- کله له دغو ملګرو را پېټ شي، نو بیا ما او رازق فهیم ته وخت راکړي، د عارف صاحب په غیر ادبي حلقه کې حاجي عبدالباقي اتمانخېل ډېر زوړ یار دی، خو هغه یې هم نیم شاعر کړی دی، نیم شاعر مې په دې اړه ورته وویل چې ډېر ښه اورېدونکی دی، په هره مشاعره او ادبي

محفـل کـي پـه بـشپړه توګـه ګـډون کـوي، ګنـي نـن صـبا خـو عـام خلـګ لـه شـاعر او شـاعري څخـه لیـري تـښتي، مـوږ خـو لا ښـه یـو پـه بـوري کـي بیـا یـو ښـه اوربـدونکی لـرو، ځکـه خـو زه نـیم شـاعر ورتـه وایـم، چـي لـه شـاعري سـره مینـه لـري، خـو لکـه څنګـه چـي مـا ذکـر وکـړ، د عـارف صـاحب لـه بـوري څخـه د لیـري کېـدو پـه وجـه ادبـي محفلونـه سـاړه شـوي دي، چرتـه کـه بـه یـوه نیمـه مـشاعره د عـارف صـاحب پـه راتـګ سـره کېـده پـه هغـه کـي بـه لـه دا څـه وختـه څخـه حـاجي عبـدالباقي اتمانخېـل غیـر صاضـر ؤ، وجـه یـې دا وه چـي د عـارف صـاحب او د حـاجي صـاحب تـر میـان څـه بېلتـون راغلـی ؤ، خـو دا ځـل یـې جمـال الـدین مـسافر او نورمحمـد نـورو نـه یـوائي پـه سـختي سـره نـوټس واخیـست بلکـې پـه عملـي توګـه د دواړو پـه مـابین کـي ولوېـدو د مرکـې پـه نیـت، چـي کلـه لـه عـارف صـاحب سـره د مرکـې خبـره کېـده نـو زه هـم هلتـه موجـود وم، عـارف صـاحب: پـه ښـه ډېـر لـوی زړه و هرڅـه هېرولـو تـه تیـار شـو او دغـه رنګـه حـاجي عبـدالباقي هـم، ځکـه خـو هغـه ورځ مرکـه وشـوه، خـو دلتـه زمـوږ یـو تـاوان هـم وشـو، ځکـه چـي د دې مرکـې لـه مخـه زمـوږ د اختـر مـشاعره تېـره شـوې وه او مـوږ د دا یـوه اوربـدونکي لـه داد څخـه محـروم پاتـه شـو، خیـر یـار زنـده محبـت بـاقي، کـه خیـر ؤ، چـي عـارف صـاحب تـر بـوري رسـېدو او مـوږ هـم څـه دا رنګـه موقـع پیـدا کـړه، نـو بـه د دې یـوه اوربـدونکي پـه موجـودګي کـي څه بله مشاعره جوړه کړو.

خبـره مـي د عـارف صـاحب د دوسـتانو او یـارانو کولـه، عـارف صـاحب د خپلـو زامنـو هـم ډېـر ښـه دوسـت دی او خپلـه رشـته یـې ډېـره دوسـتانه ورسـره سـاتلې ده، هغـه شـپه چـي د رمـضان منتظـر لـه کـوره څخـه مـوږ د شـپې ناوختـه خپلـو کورونـو تـه ولاړو نـو مـي

پــه دا ســهار د عــارف صــاحب درېیم زوی فــتح شــاه عــارف ولیــد ، هغه ویل:

"برایــي عــارف صــاحب ډېــر ناوختــه کــور تــه راغلــئ، نــو هــسي پــه خنــدا او ګپــه کــي مــي ورتــه وویــل: "چــي مــشر سړی یــې، اوس دي د کلــي خلــګ پــه ماجــت کــي پوښــتنه کــوي، کــه زه ناوختــه راځــم نــو یــوه خبــره ده، ســتا خــو اوس د ناوختــه راتلــو عمــر تېــر دی، فــتح شــاه ویــل: "چــي عــارف صــاحب وخنــدل او راتــه یــې ویــل: "څــه د ......... زوی یــې او خپلــي خــوني تــه ولاړ"، لــه خپــل اولاد سره تردې زیاته دوستانه رشته نوره څه کېدای شي؟

عــارف صــاحب بــې شــکه لــوی شــاعر دی، او د غــه رنګــه پــراخ نېتــه انــسان هــم، هــر کلــه چــي څــه ضــرورت منــد پــر پــېښ شــوی دی، نــو خــالي لاس نــه دی ځنــي تللــی، خــو بقــولِ جمــال الــدین مــسافر عــارف صــاحب پــه مخــامخ جېــب کــي یــو څــو ســوه روپــۍ ایــښې وي، چـــي کلـــه څـــوك شـــناخته او خودســـاخته ضـــرورت منـــد وربانــدي پــېښ شــي، نــو دی لــه مخــامخ جېــب څخــه دا څــه پېــسې را وباســي چــي بــس دغــه راســره دي، تــر تاجــار دي، کېــدای شــي، داسي هــم نــه وي، جمــال الــدین مــسافر بــه څــه مبالغــه پــه کــي کــړې وي، ګنــي عــــارف صـــاحب خـــو لـــه خپلـــي ســـادګۍ څخـــه خپـــل راتلــونکی پنــشن لا نیمــی و خپلوانــو تــه ور لیکلــی دی، تــر دې زیــات پــراخ زړه بــه لا بــل د چــا وي، هــسي هــم زمــا نــه یــادېږي چــي پـــه بـــوري کـــي زمـــوږ د هـــري رســـمي او غیـــر رســـمي ناســـتي او لوازماتو خرڅه د عارف صاحب سېوا بل چا ادا کړې وي.

د عــارف صــاحب د شخــصیت پــه اړه خبــري ببخــي ډېــري دي، خو چیري بــه یې بیـا کـوو ، دلتـه بـه لا لـږ نـور دا ووایـم، چـي عـارف

صاحب کتابونه لیکلي خو ډېر دي، خو تر اوسه یې چاپ کړي دري دي او یو یې ترتیب کړی دی او زیاتره مواد تحقیقي او نثري دی، د شاعري کتاب د چاپولو په وار یې وار خطا شوی دی، خو زه دلته لوستونکو ته دا زېری ورکوم، چې هغه بله شپه د رمضان منتظر په بېټهك کې عارف صاحب له موږ ټولو سره ډېر کلك لوظ وکړو، چې اوس به د خپلې شاعري کتاب چاپوي، خدای دي د ده و دې ارادې ته د عمل توفیق ورکړي او و ده ته د لوی عمر او و قلم ته دي یې نور زور ورکړي. (آمین)

۹ فروري ۲۰۰٤ء کوټه

# "د یاد په جزیره کي" نغمه سنج- سهېل جعفر

د سهېل جعفر له نوم سره زما اشنايي ډېره زړه ده، ولي چي دا نوم به ما په خپل هلکتوب کي تقريباً هره ورځ اورېدو، د هره ورځ له نوي سهار سره به ما د سهېل جعفر نوم اورېدو، د هغه خوږ ږغ او خوږ و خبرو به ماته ډېر خوند راکولو، دا هغه وخت ؤ، چي ما به نه يوائې د كوټي رېډيو ټولي خپروني اورېدې بلكې ليكونه به مي هم ور لېږل، په تېره بيا د نوي سهار خپرونه به ما په باقاعدګي سره اورېده، نو هغه وخت نه يوائې سهېل جعفر بلكې په رېډيو كي د ږغېدونكي هرچا په حقله زما څه ګډ وډ تصورات ؤ، يعني زما په شعور كي د دې خلګو خاكه نه جوړېده، څه مجسم صورت يې نه رامختته كېدو، خو چي څنګه- څنګه زما په پوهنه كي پوخوالى راتلو، دغسي- دغسي زما دا ګډ وډ تصورات څرګندېدو، ځكه زه دا وايم، چي د سهېل جعفر له نامه سره زما اشنايي ډېره زړه ده، د دې اشنايي اوله ذريعه رېډيو وه.

له رېډيو پس به ما د سهېل جعفر نوم د پښتو ادبي ملګري لورالايي له پلېټ فارم څخه اورېدو، كله چي ما نوې- نوې شاعري شروع كړې وه، نو به مي ډېر داسي نومونه اورېدل چي څه به په كي زما دپاره اشنا او څه به نااشنا ؤ، هم په دې كي يو نوم د سهېل جعفر ؤ، كله چي زه په دې خبر شوم، چي دى هم د لورالايي دى، نو له دې نوم سره زما اشنايي نور قربت پيدا كړ او مينه مي ورسره پيدا شوه، يقيناً دا يو فطري عمل دى، چي د ټاټوبي د يو كېدو په وجه مينه زياتيږي، هم دغسي د سهېل

جعفر لـه نامـه سره زمـا مینـه زیاتـه شوې وه، خو تـر ډېره مـي بیـا هـم چرتـه ملاقـات نـه ؤ سـره شـوی.... دا خـو ؤ، د سـهېل جعفـر لـه نامـه سره زما د اشنایي تفصیل........

د سـهېل جعفـر شـاعري مـا اول ځـل هغـه وخـت ولوسـته کلـه چـي د جـرس غـزل نمبـر د پـاره مـا خپـل اولنـی نثـری لیـك "د لـورالایي د جدیـد غـزل نـن او پـرون" لیکلـو، د دې لیـك پـه لټـون کـي د "اولـس پـه زړو ګڼـو کـي د سـهېل جعفـر ځنـي غزلـي پـه لاس راغلـي وې، هغـه وخـت کـه څـه هـم زه د شـاعري پـه رمـوزو پـوره نـه پوهېـدم، خـو ښه مي په یاد دي، خو بیا هم ما د سهېل جعفر په شاعري کي څه جـلا غونـدي خونـد محـسوس کـړی ؤ او یـو داسـي کیفیـت مـي پـه کـي احـساس کـړی ؤ، چـي تـر هغـه ډېـر خلـګ تېرېـږي، خـو د هغـه اظهـار قـوت او صـلاحیت پـه ډېـرو کمـو خلګـو کـي وي، یـا کـم شـاعران یـې بیـانولای شـي، پـه ځنـي داسـي کیفیـاتو کـي د خپـل عمـر د غوښـتني لـه کبلـه زه هـم هغـه وخـت څـه راګېـر وم او ترېنـه تېرېدم، خو اظهار یې ما د سهېل جعفر په یو شعر کي ولیدو:

نـوم بـه زمـا هـم چرتـه لیـك وي پـه نـازکو ګوتـو
پـه امیـد ګـورم، سـتا کاپیـاني، کتابونـه تمـام

او هـم داسـي نـورو خونـدورو شـعرونو زه د سـهېل جعفـر لـه شـاعري او د هغـه لـه یـو جـلا انـداز سره ولـد کـړم، دلتـه مـي د ښه شعر له کبله له سهېل سره قربت نور هم زیات شو.

د سـهېل جعفـر لـه شخـصیت سـره زمـا پېژنـدګلوي د ملګـري لیکـوال کـوټي لـه پلېـټ فـارم څخـه وشـوه، هـم دلتـه پـه یـو نشـست

کي په اول ځل زما له سهېل جعفر سره ملاقات وشو، ښه مي په یاد دي، چي ما د ده په خبرو کي مینه، خلوص او خپلوي احساس کړې وه، د ده نرم خوی، دروند خو پوست رږغ او د خبرو یو جلا انداز ماته د سهېل جعفر د شخصیت ډېر اړخونه راپېژندلي ؤ، د ده ساده، درونـد، سنجیده خو مینه ناك شخصیت د ده په اړه زما په زړه کي مینه نوره هم زیاته کړې وه او په شخصي توګه زما له ده سره قربت نور هم زیات شوی ؤ.

ما سهېل جعفر د یو ځانګړي رېډیو پروډیوسر، منفرد شاعر خوږ شخصیت په توګه په تېرو دیارلس ځورلس کلونو کي پېژندلی دی، ځکه چي ما دی اورېدلی، لوستلی او لیدلی دی، او په دې درې واړه توګه مي د ده په خپرونو، شاعري او شخصي انداز کي انفرادیت محسوس کړی دی، نن دلته چونکې زموږ موضوع د سهېل جعفر شاعري دی، ځکه به د یو شاعر په حیث د ده جاج واخلو، "د یاد په جزیره کي" او سپدونکی سهېل جعفر که څه هم له ځان سره ژغېدلی دی، د خپل ذات د کرب او درد قیصې یې څېړلي دي، او ټوله شاعري یې د خپل داخل د اظهار دپاره کړې ده، خو د دې مطلب قطعاً دا نه دی، چي ده د خارج او معروض له خوا سترګي پټي کړې دي، ولي چي که هغه د خپل کرب او ذاتي درد قیصه هم کړې ده، نو د هغه تر شا یې د خارج او معروض ستم ظریفي هم په ګوته کړې ده، ولي چي د هغه د ذات تجربه د خارج حقیقت دی، یو داسي حقیقت چي تر کوم زموږ د سماج هر وګړی تېرېږي، ځکه د سهېل د ذات تجربه یوائې د هغه نه بلکي د هرچا تجربه ده، دا بېله خبره ده، چي هر څوك د سهېل غوندي د ذات د تجربې د اظهار ملکه نه لري، خو

زما دا یقین دی، چې د سهېل د شاعري لوستونکي هر یوه به د هغه په شاعري کې خپل ذات د بهرني حالاتو او واقعاتو په تعلق کې ویني، ځکه خو د هغه دا لاندینی نظم "Have A Nice Day" د هرچا د احساساتو ترجمان دی.

له کوره وځم
اندېښنو یمه په سر اخیستی
کله زه تا
کله بچیان
کله و کورته ګورم
دا وېره
ولي په وار- وار
وېروي ما
چې
پجارو د امیر
د نشیي ډرایور ګاډی
یا په سړك باندي جلسه
یا یو بې واکه جلوس
ړنده ګولۍ
یا فایرنګ د قبایلو تر مینځ
یا د ټریفك اژدها
وژلی شي ما
مورې! وېرېږم
ته دعا راته کوه
زه د ډوډۍ په لټون

له کوره وځم
چي ژونی واپس وتاته راشم
(Have A Nice Day)

سهېل لـه خپلـي مـور سـره د فطـري مينـي يـو ډېـر جـذباتي تـړون لـري، ځکـه د هغـه پـه شـاعري کـي اکثـره داسـي محسوسيږي لکـه هغـه چـي خپلـي مـور تـه مخاطـب وي، او يـا د خپلـي رښـتېٍ پـه اړه د مـور ترجمـاني کـوي، پـه پـورتني نظـم او لانـديني شـعر کـي خـو هغـه بـراهِ راسـت و خپلـې مـور تـه يـا خـو مخاطـب دی او يـا بيـا د هغـې د جذباتو عکاسي کوي.

چـــي را واپـــس شـــومه ســـهېله! مـــائيگر و کورتـــه
ســـتړې ځېـــرې تـــه مـــي يـــوائي خپلـــي مـــور وکتـــل

هـم دغـه رنګـه د خپـل ژونـد د ملګـري سـره وفـاداري او د خپلـو بچيـانو سـره مينـه هـم پـه داسـي انـداز کـي بيـان کـړې ده، چـي پـه کـي ډېـر لوسـتونکي خپـل بچـي او د خپـل ژونـد د ملګـــري ســـره خپلـــه مينـــه او تـــړون لټـــوي او د نـــازکو او پرتمينـو رښـتو پـه اړه د خپلـو مهينـو جـذباتو اظهـار سـهېل پـه داسـي خونـدوره پېرايـه کـي کـړی دی، چـي ډېـر کـم شـاعران پـه داسـي نـازکو موضـوعاتو بانـدي د خپلـو احسـاساتو د بيـان قـدرت لـري، دا ماتـه يـوائي د سـهېل د فـن او فکـر خاصـه ښـکاري، چـي د هغـه اسـلوب د پـښتو شـاعري پـه ميـدان کـي جـوت کـوي او و هغـه تـه ځانګړتيـا ور بخښي.

یو مې سه له خیاله، خپل د زني خال، د شونډو رنګ
پرې مې ږده بچیانو له خواري او مزدوري کوم

پرون چې و تخنېدم، ستا په حسینو شونډو
بچیان مې سترګو ته شو، توبه مې ډېره وکړه

دا څه خیالي تصورات نه دي بلکې د سهېل د ذات تجربه او د ژوند حقیقت دی، چې د شعر بڼه یې ورکړې ده. شاعري هغه بڼه بلل کیږي چې موضوعات یې د نننې ژوند څخه اخذ شوي وي، او حقیقت ته نږدې وي، ګڼي د لیلا د سرو شونډو خبرې هم د هغه څو تورو شا او خوا را ګرځي او لږ ډېر یې انداز بدل وي، خو که انداز یې هر څومره بدل شي، خو د لیلا د سرو شونډو خبرې ډېرې زړې شوې، ولې چې دنیا په څومره تېزۍ سره په مادي توګه پر مخ تللې ده، تر هغه زیاته په تېزۍ سره په روحاني، اخلاقي، تهذیبي او مذهبي توګه شاته او لاندې را غورځېدلې ده، ځکه خو نن له ادب او شاعرۍ څخه د داسې موضوعاتو غوښتنه کیږي، چې هغه اصل حقائق را برسېره کړي، د نننې ژوند شخړې، مسئلې او بحرانونه په ګوته کړي، له ژوند سره د بیان تړون پیدا کړي، ځکه چې نن انسانانو ته تر رومانیت زیات د روحانیت ضرورت دی، د مینې، خپلوۍ، خواخوږۍ او زړه سواندۍ ضرورت دی، ځکه خو د سهېل غوندې حساسه او باشعوره شاعر د خپلو موضوعاتو په چوڼ کې له احتیاطه کار اخستی دی، د دې مطلب دا نه دی، چې هغه قصداً داسې موضوعات په خپله شاعرۍ کې ځېرلي دي،

چې هغه خپل يو تهذيبي، سياسي او معاشي پسِ منظر لري بلکې سهېل چونکې پخپله د دې معاشرې وګړی دی، نو په خپله هم تر دې تجربو تېرېږي او بيا چې کله د دې تجربو له درده په چغارو شي، نو هغه د شعر بڼه ځني واخلي، سهېل کله هم د تشدد، قتل و غارت، مادي رجحانات، استحصال او له ايټم بم سره د خپل "نام نهاده ترقۍ" د تړلو په رويې خاموشه نه دی پاته شوی، پردې منفي، سماجي رجحاناتو چې کله هغه د خپل درد او تکليف اظهار کړی دی، نو شعر ځني جوړ شوی دی:

د ظلمتونو، د اورونو، د قتلونو خبر
هر يو سهار راوړي اخبار د سرو زخمونو خبر

دا مو دليل د ترقۍ دی، چې په يو ساعت کې
تر لري- لري ورسېږي د بمونو خبر

هغسي ويني، تشدد، د ارمانونو قتل
د زړه دننه هم ماحول، شايد بهر غوندي ؤ

دلته څوك نه ګوري په ښه سترګه، د خوار په لوري
دلته رواج ده د ماړه شته من سړي سندره

نن هم زموږ په سماج کې د ماړه او شته من سندري ويل کيږي، ځکه خو نن د هر ځوان آئيډيل بل ګڼهس دی، نن هر څوك د سلطان بروناييې پر لاره تګ غواړي او هم دغه رنګه هر څوك يواځي او يواځي د دولت او پيسو په لټون سر دی او هغوی ځکه د شته منو سندري وايي،

چې پخپله هم د هغه و مقام ته رسېدل غواړي، هم دا وجه ده، چې د نن دنیا که هر څومره ترقي کړې ده، نو تشدد او قتل وغارت او د بل حق خوړل او استحصال هم هغومره ترقي ورسره کړې ده، د دولت عبادت کوونکي زیات شوي دي، اوس خو مینه هم لباسي ده، خلوص هم مصنوعي دی، ځکه خو د دې مادي ترقي له سترګیاوو څخه سترې سهېل ګویا دی:

د دغه ښار په روایاتو کې شامل دی غرض
بېخي ارزانه دی خلوص او د چا مینه خلګو!

او یا بیا چې د خلګو و مادي رویو ته وګوري بیا خپل ساده ژوند ته او بل د خلګو خبرو ته چې د هغه پر سادګي پېغورونه ورکوي، نو په "دعا" نظم کې و خدای پاك ته مخاطب شي:

لویه خدایه!
زه په څنګه کور کې اوسم
نه خېمه ده، نه بنګله ده
زه په څنګه کور کې اوسم
زما د غولي بهر خلګ
دومره جګ چې تر اسمان پورې رسېږي
ساه مې بنده- بنده کېږي
څه شکلونه، بد مخونه
پېغورونه راکوي تل
"څه سړی یې؟
څه دې ژوند دی؟

له راحته نا اشنا يې، له دولته نا خبر يې
څه سړی يې"؟
لويه خدايه!
زه سړی يم
حس لرمه
زړه لرمه
که دا ژوند د سړي نه دی
ماته ژوند د سړي راکړه

(دعا)

دلتـه دا حقيقـت هـم څرګنـد دی، چـي پـه يـوه اداره کـي هغـه سـړی مـخ تـه تللـی شـي، چـي د روغ ويلـی شـي، چاپلوسـي کـولی شـي، د چـا حـق وهلـی شـي، يـو خـود داره ربښـتينی سـړی بـه بـاوجود د ښـه قابليـت او صـلاحيتونو و شـاته پاتـه وي، کـه نـن مـوږ پـر خپلـو ادارو بانـدي نظـر واچـوو نـو مـوږ تـه بـه هغـه خلـګ د دې ادارو پـه لـوړو چوکيـو ناسـت ښـکاري، د چـا لـه وجـي چـي ټـول د سـماجي درپـدرۍ ښـکار دي، ولـي چـي دا ببخـي د ادارو پـه بنيـادي ډانچـې کـي نـه شـته چـي هغـه دي يـوه ايمانـداره او خـود داره سـړي تـه يـو لـوړ مقـام ورکـړي، بلکـې زمـوږ پـه نـړۍ کـي خرابيـاني لـه هغـه وختـه پيـدا شـوي دي، چـي د هـر شـي ذمـه داري ادارو پـر خپلـه غـاړه اخـستې ده، د هـم هغـه اداره جـاتي عمـل (Institutionalization) لـه وجـي زمـوږ پـه سـماج کـي د بـاهمي محبـت، تحفـظ، تعـاون، احتـساب او انـصاف زضـا کارانـه روايـت او لـه دې سـره تړلـي قدرونـه لـه مينځـه وړل شـوي دي، چـي ځنګـه- ځنګـه اداري پـه وجـود کـي راغلـي دي، هـم هغـه رنګـه پـه سـماج کـي ظلـم او ناانـصافي زياتـه

شــوې ده، ولــي چــي د هــري اداري بنيــادي مقــصد کنتــرول حاصــلول دي، پــه هــر هغــه عمــل بانــدي چــي هغــه انــسان د اجتماعيــت و خواتــه پــاروي، ولــي چــي اجتماعيــت د نــن د صــارفيت پــه لاره کــي تــر ټولــو لــوی خنــډ دی، ځکــه د دولــت او طاقــت د حاصــلولو دپــاره د ادارو وجــود پيــدا شــوی دی، هــم دا وجــه ده چــي د دې ادارو و لــوړ مقــام تــه يــو ائــي هغــه خلــک رســېږي، چــي خــود غــرض، دروغجــن، چــاپلوس او بــې رحــم وي، پــر دې اداره جــاتي کلچــر بانــدي ســهېل پــه خپــل يــو ساده شعر کي ډېر ښايسته طنز کړی دی:

ماتـــه پـــه خـــوا زمـــا افـــسر دا نـــصيحت کـــړی ؤ
پـــه دې خـــود داره ژونـــد ســـهېله! ترقـــي ګرانـــه ده

کـه څـه د سـهېل پـه شـاعري کـي د نننـي ژونـد پراخـو موضـوعاتو بـشپړه اړخونـه موجـود دي، خـو د دې مطلـب دا هـم نـه دی چـي هغـه د انـسان پـه نظـر نـه راتلـونکي لطيفـو جذباتو او احـساساتو تـه پـام نــه دی کــړی، بلکــې مــوږ د هغــه پــه شــاعري کــي د مينــي مرکــزي موضــوع هــم ليــدلی شــو، چــي پــه يــو ډېــر جــلا انــداز او ځــانګړي اسـلوب کـي ځـای پـر ځـای بيـان شـوی دی او داسـي بيـان شـوی دی، چـي هـر لوسـتونکی پـه هغـه کـي د خپـل زړه کيفيـت محـسوسوي، ولــي چــي ســهېل د مينــي موضــوع هــم پــه روايتــي توګــه نــه دی څېړلــی و دې تــه يــې يــو نــوی والــی او جــدت ور بخــښلی دی، لکــه چي وايي:

يـــو انـــداز بـــه خپلـــوم، پـــه انتظـــار کـــي نـــوی غونـــدي
تېـــروم بـــه شـــپه پـــه خـــوب هـــم، بنـــدوم بـــه د کـــور ور هـــم

اوس پــــه ازغـــو پـــه زېـــړو پـــاڼو شـــاعري کـــوم
ســـتا د ګـــل ځـــوانۍ خبـــري بيـــا بـــه پـــه ســـپرلي کـــوم

ســـهېله! مـــا کـــه آبـــاد نـــه کـــړل د نفـــرت محلونـــه
ولـــي پـــه دې زمـــا دښـــمن زمـــا ضـــمير جوړېـــدو

اوس خـو نـو خـدای خبـر، چـي سـتا پـه تمنـا تـازه شـم
د نـوي مينـي پـه موسـم، شـايد چـي بيـا تـازه شـم

همېـــشه ســـتا د خـــورو زلفـــو خوشـــبو راوړي ماتـــه
ځکـــه خـــو يـــاره! ســـتا د لـــوري پـــه هـــوا تـــازه شـــم
چـي راتـه ناسـت يـې مخـامخ اوښـكي مـه نـه درېـږي
درتـه کتـی نـه شـم پـه ځيـر سـترګي بـه پټـي کړمـه

پـــــه کمـــــرې کـــــي چـــــي رڼـــــا وه
ســـــتا د ســـــپيني خـــــولې خنـــــدا وه

د سـهېل پـه شـاعري کـي کـه څـه هـم ځـای پـر ځـای تـشبيهات او تراكيـب روايتـي دي، خـو د هغـه اسـلوب پـه روايتـي تـشبيهاتو او تراكيبـو كـي هـم يـو جـدت پيـدا كـړی دی او لـه يـو نـوي رنـګ سـره يـې خپلـو لوسـتونكو تـه وړانـدي كـړی دی، د مثـال پـه توګـه دا لانـديني غـزل ولـولئ، چـي پـه خپلـو روايتـي تراكيبـو كـي د اسـلوب جدت او نوی والی لري:

نــه لــري کېــدو ، چــا پــه ازغــي بانــدي لیکلــی ۀ
آ- ظــالم ســړی مــي پــر زړګــي بانــدي لیکلــی ۀ

ځنګــه مــو تحریــر کــړو ، ځنګــه- ځنګــه پــه اخبــار تحریــر
مــا خــو هغــه نــوم پــه خوشــبويي بانــدي لیکلــی ۀ

هــسي مــي ګیلــه وکــړه، د نــن پــه رویــې بانــدي
ســتا خــو هــر ســلوك پــه بــې رخــي بانــدي لیکلــی ۀ

ځنګــه بــه راتلــو و یــخ وهلــې تــوري خــوني تــه
هغــه ګــل وجــود خــو پــه ســپرلي بانــدي لیکلــی ۀ

نــه ویــل کېــدو داســي تحریــر ۀ د ســهېل نــصیب
ځنګــه ۀ کاغــذ ؟ ځنګــه ســیاهي بانــدي لیکلــی ۀ

د غـزل رنګـه د سـهېل نظمونـه هـم يـو جـلا رنـګ او ښه لـري د نظـم پـه مختـصره پېرايـه کـي هغـه دومـره خـواږه او پـه زړه پـوري خیالونـه وړانـدي کـړي دي، چـي لوسـتونکي يـې پـه وار- وار لوسـتلو تـه مجبـور وي، دلتـه هـم سـهېل خپـل ذات د بـساط رنګـه ایـښی او سـماج یـې بانـدي لوبـولی دی، د هغـوی پـه لنډو خـو خونـدورو نظمونـو کـي هـم نـوې- نـوې تجربـې کـړي دي، خـو تجربـې داسـي هـم نـه دي، چـي ځـه مـافوق الفطـرت ځیزونـه پکـښې دي، یـا بیـا تجربـه برایـې تجربـه ده، بلکـې د سـهېل تجربـې هـم زمـوږ لـه عـامیانـه ژونـد ځخـه اخـستل شـوي دي، ځکـه خـو اپیـل لـري او لوسـتونکی یـې لـه نـوي انـداز او ښایـسته اسـلوب

ښخـه متـاثره کیـږي، د مثـال پـه توګـه دا لانـدیني نظمونـه وګورئ.

زه یم
د ژوند د دغې ستېج ډرامې
یو داسي کردار
چي مسخره شمه
او و ژاړم
نو خاندي پر ما باندي دنیا
چي لېونی شمه
او وخاندم
نو ژاړي پر ما باندي دنیا
(Stage Drama)

راشه! حساب وکړو
ته خپله مینه راوړه
زه به خلوص راوړم
انصاف به بل څوك وکړي
زما د میني حساب
هغه به بیا وکړو!
(حساب)

ولي به کارډ دراستوم
ولي تجدید به کوم
ته پښتنه یې

زه پښتون یم
زموږ اقرار یو ټینګ اقرار
وعده، پخه وعده وي
موږ ته د دې ورځې لمانځنه
یا د مینې تجدید
هیڅ ضرورت نه لري
(Valentine Day)

داسي په طمع- طمع
ټولي د صبر مېوې
دومره زړې به شي چي
نه به یې رنګ پاته وي
نه به یې خوند پاته وي
(د صبر مېوې خوږې وي)

سهېل جعفر یو جدید شاعر دی، د هغه شاعري خپل یو جدت او نوی والی لري هغه د نام نهاد "جدیدیت تحریك" په بهیر کي نه دی بهېدلی، بلکې هغه په دا معنا جدید دی، چي هغه د ژوند مسایل په شاعري کي څېړلي دي او پر هغه رجحاناتو یې تنقید کړی دی، چي د دې جدید دور له کبله په سماج کي و مادیت ته وده ورکوي، او د عارضي سهولتونو او آسایشونو پرچار کوي، که موږ وګورو نو زموږ په سماج کي بدبختیاني او خرابیاني هغه وخت زیاتي شوې، چي انسانانو پر روحانیت باندي و مادیت ته ترجیح ورکړو، دغه وجه ده، چي د نن انسان په مادي توګه دومره "ترقي" کړې ده، چي د یوې بټنې

په کښېکښلو باندي په کروړونو انسانان له منځه ورلای شي، د دې ترقي ومخ ته د کاغذ يو ځو ټکړې خو معنا لري لېکن انسانان او د انسان وینه، د هغه مینه، خلوص، جذبات او احساسات هیڅ ارزښت نه لري، ځکه په سماج کي تشدد، نابرابري، ناانصافي، بدامني، لوټ مار، بدعنواني، قتل وغارت ځای پر ځای ورځ په ورځ زياتيږي، هم دغه وجه ده چي په افغانستان، عراق، فلسطين او بې شمېره هېوادونو کي انسانان په بمونو الوزول کيږي او په نتيجه کي يې د خودکشو حملو د زياتېدونکي رجحان له کبله په ماجتونو کي هم خلک محفوظ نه دي، دا ټول هغه حالات دي، چي د سهېل رنګه حساسه او زړه سوانده شاعران دننه- دننه خوري، ځکه خو هغه د خپلي شاعري له لاري پر داسي حالاتو او رجحاناتو باندي خپل احتجاج رجسټر کوي.

داسي نه يم لکه زه چي مطمئين، پر سکون ښکارم
د اتڼ غوندي تا وېږم د غمو په دائره کي

خدای دي و سهېل جعفر ته لوی عمر او د خپل قلم په وسيله د سماج د زخمونو د دردونو دوا ورکړي.
(آمين)

۲ نومبر ۲۰۰٤ء کوټه

# د لورالايي د نوي پښتو غزل نن او پرون

لورالايي يوه ډېره پخوانۍ سيمه ده، د اثارِ قديمه ماهرين د دې ځاى تهذيب د هړ په اومو هنجو اړو هم عمر شمېري، د محقيقينو د تحقيق مطابق د دغه ځاى يعني د لورالايي فولكلوري ادب خصوصاً غاړي او د اتڼ ناريې هم له پخوا راهيسي ويل كيږي، چي تاريخ يې په زرګونو كلونو باندي محيط دى، د بوري يعني د لورالايي اول باقاعده شاعر د "پټې خزانې" له رويه الله يار اپرېدى دى، او د هغه نه پس د دې سيمي نور ادب تر ډېره وخته پوري نامعلوم دى ځكه چي هغه وخت د دې ځاى پښتنو په خانه بدوشۍ كي ژوند تېرولو، په دوى كي د تعليم رجحان نه ؤ، او نورې هم څه داسي چاري وې چي د هغه وخت ادب په كي ورك شو، او موږ په په خالي لاس يو.

خو دا په خپل ځاى يو منلى حقيقت دى، چي د دغه خاوري شاعرانو په خپل وخت كي د باندارى غزلو ډېره ښايسته ذخيره و پښتو ادب ته وربخښلې ده، د دې باندارى غزلونو هيئت له باقاعده غزل نه بېل ښكاري، خو ځاى پر ځاى د چاربيتو غوندي اوږدې او كوچنۍ مصرې لري، البته په باندارى غزلونو كي چي به كوم الاپ يا مقام ويل كېده هغه له باقاعده غزلونو سره سمون خوري.

تـر کومـه حـده چـي د پـښتو د نـوي غـزل تعلـق دی، نـو د ځینـي نقـادانو پـه خیـال د پـښتو د جدیـد غـزل ابتـدا لـه حمـزه بابـا سـره تعلـق لـري او قلنـدر مومنـد د نـوي غـزل دا بنـا شـوی محـل نـور هـم اوچـت کړو.

بهرحـال پـه جنـوبي پـښتون خـوا کـي کـه یـې د کلاسـك شـاعری پـه اعتبـار را واخلـې او کـه یـې د جدیـد غـزل پـه اعتبـار، لـورالایي تـه خـاص اهمیـت حاصـل دی، د دې خـاوري شـاعرانو و ادب والـو تـه ډېـر څـه ورکـړي دي، کـه یـې یـوې خواتـه د بانـډاري غزلونـو یـوه ښایـسته ذخیـره ور بخـښلې ده، نـو بلـې خواتـه یـې د نـوې شـاعري پـه اړه هـم ډېـر څـه ورکـړي دي، ځکـه خـو ځینـي یـارانو و لـورالایي تـه د پـښتو د نـوي غـزل پـه حوالـه د پـښتو ادب د لکهنـو نـوم ورکـړی دی، ځکـه چـي دې خـاوري ډېـر سـتر شـاعران او ادیبـان و پـښتو ادب تـه ور سـپارلي دي. تـر کومـه حـده چـي پـه لـورالایي کـي د نـوي غـزل تعلـق دی، نـو دا خـاوره ډېـر نـوي شـاعران لـري، چـي د عمر او فن په لحاظ یې په درېیو دورونو کي وېشلای شو.

## اول دور

د دې اول دور ابتـدا لـه ربنـواز مایـل څخـه کیـږي، د ژور فکـر او لـوی ذهـن څـښتن ربنـواز مایـل پـه پـښتو ادب کـي ځـان لـه بېـل مقـام لـري، د لـورالایي د خـاوري نومـوړی مایـل د خپـل ذهانـت او صـلاحیت پـه اسـاس پـه ټولـه پـښتونخوا کـي منلـی جدیـد شـاعر دی، د ده اسـلوب د نظـم او د نثـر تنـوع انتقادانـه نقطـهٔ نظـر د یـوه مـشال حیثیـت لـري، د فکـري ژورتیـا او د نـوو- نـوو تجربـاتو لـه

کبلــه او د خپــل مخــصوص اســلوب لــه جهتــه پــه جدیــد پــښتو شــاعرۍ کــي د مایــل د مقــام تعــین ګــران کــار دی، دی یــو داســي جدید غـزل ګـو شـاعر دی، چـي د خپـل فکـري معنویـت لـه سـوبه پـه جدیـد پـښتو ادب کـي خپـل انفـرادي حیثیـت لـري، د ده غـزل فکـري نــوی والــی او مخــصوص رنــګ لــري، د ده بلنــد خیــالي د نــوو تجربـاتو او د نـوو تـشبیهاتو د اسـتعمال لـه جـوره د ده انفرادیـت تـه وده وربخــښي، د اردو او پــښتو ادب نقــاد او شــاعر ربنــواز مایــل د خپلو احساساتو اظهار د شعر په ژبه څه داسي کوي.

زمــا پــه کــور کــي یــو څــراغ دی، تــت بلیــږي
زمــا پــرې څــه، کــه ټــول جهــان لــه لمــره ډك دی

د ژونــدون پــه فلــسفه کــه چیــري پوهــه شــي
ســل احــساسه د خوښــي هــم شــته، پــه غــم کــي

زیـــاتي عمـــر تېـــرول پـــه ســـتورو ګـــران دی
اې د ورځـــې شـــپې مالکـــه! اوس ســـهار کـــه

د ســـبا ختلـــی لمـــر مـــو چرتـــه ښـــخ کـــړ
د پـــرون پرېـــوتی ســـتوری څلـــه ګـــورو؟

ســعیدګوهر د ښــه ســوچ خاونــد او د جدیــد پــښتو او اردو غــزل پـه زړه پـوري شـاعر دی، چـي د خپلـو جـذباتو او احـساساتو تـه پـه ډېـر نـوي انـداز کـي د شـعر جـامې ور اغونـدي، د ګـوهر پـه پـښتو غـزل کـي د نـوو- نـوو تجربـو دایـره ډېـره وسـیع ده، د ده پـه بـاره کـي عبدالکریم بریالی په "لیکنځي" کي څه دا رنګه رقم طراز دی:

"سعید ګوهر که څه هم د نظم او د نثر دواړه اړخونه لري، که د جدید شاعرۍ په اصنافو کې د غزل نماینده دی، چې د اظهار پېرایه یې لاثاني ده، د احساساتو یو خوږمن شاعر دی، په غزل کې چې څومره تجربې هغه کړي دي، بل ځای هغه نه شي لیدل کېدای، د هیئتونو اجتهاد یې بله خوبي ده، د غزل د پاره یې داسې تراکیب په کار راوستلي دي، چې د هغې تکرار په ټول مکتب کې محسوسیږي".

حقیقت هم دا دی چې ګوهر د جدید شاعري په اصنافو کې د غزل نماینده دی، ځای پر ځای د ده په غزلو کې نوي تشبهات او استعارات په ډېر ښه انداز کې مونډل کیږي، ګوهر په خپلو غزلو کې د خپل درد، مایوسي، د خپل زړه د ځپلو جذباتو ترجماني په ډېر ښه او جدید انداز کې کړې ده، د اردو د کلام مجموعه یې د "پسِ دیوار" تر نامه لاندې چاپ ده.

هغه مالیار یم، چې موسم یې د سپرلي خوړوي
ما په خپل لاس کرلی ګل ما په ازغي خوړوي

یو د ژوندون، بل د حالاتو ګونجي، ګونجي تندی
ګوهره! رابه شي پر موږ هم کله وریـن، موسم

صبر و اختیار، زړه و قرار، هوش و حواس له کومه
ستا و ځوانۍ ته که محشر ته یمه تل مخامخ

په ایره-ایره وجود کې، په لوګي-لوګي ماحول کې، په لمبه-لمبه موسم کې په ما باندې عمر تېر شو، د تازه میني په هڅه، او زړې میني په غم کې

سید خیرمحمد عارف د حساس زړه او د ښو خیالاتو څښتن او د جدید غزل نماینده شاعر سید خیر محمد عارف په خپلو غزلو کي د جدت او نازك خیالي له سوبه په پښتو ادب کي منفرد حیثیت لري، په کلام کي یې مقصدیت ثرګند دی، د زبان او بیان پېرایه یې ساده خو په فکري اعتبار یې په غزل کي ډېره ژورتیا میندل کیږي، د عارف غزل د بې ساختګي او نزاکت یوه جدیده نمونه ده، د یوه کامیاب جدید غزل ګو شاعر په حیث د نوي غزل له جدیدو تقاضو سره ولد دی، ښایست، نازك خیالي، نغمګي او رنګیني د ده د غزل خاصه ده، د ده غزل د نازك خیالۍ او فکري معنویت له جوره خپل جلا رنګ لري، د جلا اسلوب او د جدیدو تجربو له جهته په پښتو ادب کي جوت مقام لري، موږ د ده په غزلو کي نوي علامات او کنایې په ډېر ښه انداز کي لیدلی شو، د نوي تشبیهاتو او استعاراتو جدت یې په خپل ځای یوه ښکلې تجربه ده، عارف بلا شبه د پښتو د جدید غزل د نماینده شاعرانو څخه دی. راشئ! چي د ده له رنګینو او زړه راکښونکو شعرونو څخه خوند واخلو:

په آینه کي د سپین مخ دي سور شفق ښکاره شو
که دې حالاتو وینه کړه په اننګو وچه

ډېر ښه خویونه، ښه خاصې پکي وې، لاس پورته کړئ
قاتل دعا کوي شهید ته له ویشتلو وروسته

ما ول که وران مي کړو د تور نصیب لیکلي توري
په شان د سترګو له تحریره سره تلم راتلمه

ځـــوك بـــه نـــزدې راشـــي خـــو لاره د هرچـــا ګورمـــه
زه پـــر د ېـــوال بانـــدې لیکلـــی هرکلـــی پاتـــه یـــم

ځواني مرګ سید ګل شاه خوستی یو مینه ناك او حساس طبع شاعر ؤ، هغه د خپلو جذباتو او احساساتو ترجماني په ډېره ښایسته او جدید انداز کي کوله، د ده په غزلو کي فکر او لفظي جدت په ډېر زیات تعداد سره مینددل کیږي، د موضوع او د اسلوب په اعتبار د ده غزلي جدت او انفرادیت لري، که څه هم هغه کم ولیکل خو ډېر ښه یې ولیکل، یقیني خبره ده، چي ځوك د ربنواز مایل، سعیدګوهر او سید خیرمحمد عارف په صحبت کي وسېدلی وي، هغه به ښه شاعري لیکي، د هغه په باره کي د "اولس" د اکتوبر 1988ء په ګڼه کي سعیدګوهر خپل احساسات د قلم په ژبه څه داسي بیان کړي دي، چي:

"د ګل شاه خوستي اصل شخصیت د یو روماني غزل ویونکی شاعر دی، هغه د عشق، وفا، د جور وجفا، د هجر و فراق، د غم و انتظار د کیفیاتو یو ریښتونی ترجمان ؤ، هغه د روایت او جدت د توپیر بغیر د خپل رجحان او خوښي مطابق په خپل اصل صورت کي خپل احساسات د تصنع او د تنوع له لحاظه بغیر په سلیسه او مقبوله پیرایه کي د فن د مکمل لحاظ سره نظم کول او هغه په اسلوب او معیار باندي نظر لرونکی تنقیدي بصیرت او فني علم درلود".

د سعیدګوهر دا یو څو کرښي د هغه د شاعرۍ او فن ځلا ښکاره کوي.

زمـــا او ســـتا ســـره تمـــاس وای، څـــه بـــه ښـــه ؤ
تـــر میـــنځ مـــات د درېـــیم لاس وای، څـــه بـــه ښـــه ؤ
څـــو تـــر څـــو بـــه زه بـــې وس ورســـره تـــښتم
بـــدلوي خپـــل څېـــره چـــي کـــال پـــه کـــال ژونـــد

بېلتونـــــه څـــــه نـــــوې تجربـــــه خـــــو نـــــه ده
خـــدای مهربـــان دی بیـــا بـــه هـــم تېـــره شـــي

د بېلتانـــــه قیامـــــت خـــــو تېـــــر شـــــو ګلـــــه!
د ژوندانـــــه ســـــزا بـــــه هـــــم تېـــــره شـــــي

خدای بخښلی وزیر محمد سوالي له باندړاري غزلونو څخه د شاعري ابتدا کړې وه، خو د ادبي ملګرو په قافله کي هغه ډېر زر له زاړه ډګره څخه و نوي ډګر ته راغی، او په زړه پوري اغاز یې وکړ، د کوم په بنیاد چي هغه په ښو شاعرانو کي شمېرل کیږي:

دلتـه نـه لمـر شـته، نـه سـپوږمۍ شـته او نـه سـتوري وینم
د زړه پـه هـسك کـي مـي سـتا د فکـر کهکـشان شـو پاتـه

مینـه سـوالي داسـي سـفر دی، چـي تمـام نـه لـري
پـه دې سـهار کـي مـي د زړه سـتړی کـاروان شـو پاتـه

د "سـرور سـودایي" شـاعري او د شـاعر تـړون زمـوږ د ادب پـه دغـه زرخېـزه خـاوره کـي عـروج مینـدلی دی، هـم لـه دغـه سـوبه د هغـه ذکـر کـول پـه مـا بانـدي پـوره ایـسي، د سـودایي شـاعري ځانتـه

انفرادیت لري، د لفظونو انتخاب یې په زړه پوري دی، د فکر په اړه د ده په غزلو کي جلا خوند لیدل کیږي، غزل یې رواني او په زړه پوري نوی والی لري، هم دغه سرور سودایي ته عبدالکریم بریالی د پښتو د "د یو جانس کلبي" لقب ورکړی ؤ، د کلام نمونه یې داسي ده:

لویه نه شوه سینزلۍ کي خواره مره شوه
زما او ستا مینه بې موره پلاره مره شوه

لاره اوږده ده د ژوندون او زه یم ستړی غوندي
لکه درونده پېټۍ مقدر زه په اوږو ګرځوم

عمر ګل عسکر هم د سودایي په شان د لورالایي په خاوره کي و خپلي شاعري ته رعنایي وربخښلې ده، مورږ د عسکر په غزل کي خوندور مضامین لیدلای شو، د رسا ذهن خوبي ده، د ده غزل یو ډېر ښایسته او سوچه رنګ لري، عسکر چي څه محسوسوي هم هغه رنګه یې و خپل قلم ته سپاري، شاعري یې د وخت ترجماني کوي"

یوه اوښکه شمع څاڅي، یوه اوښکه سترګه څاڅي
شمع ګورم چي ویلیږي، ماهم ګورۍ چي ویلېږم

هغه ورك شوی ښکلی یار، په ورکو لارو ګرځي
چرته به لاره کړي خطا، ستا په دیار زړګیه!

د دې دور غازي خان جاذب هم په ښو شاعرانو کې شمېرل کيږي، موږ د ده په غزلو کې د روايت او جدت امتزاج ليدلای شو. دا ښکلی شاعر په روايتي رديف او قافيه کې هغه نوي عوامل را برسېره کوي کوم چې له ژوند سره ارتباط لري او د ښې شاعرۍ تنده هم پرې ماتيږي. لکه چې وايي:

اوس هر جنس د زر پرستو د بازار شو
ځکه خلک ګرځوي ضمير په لاس کې
ته چې زما د مرګ دعا ته کړې لاس پورته
ستا د ژوند دعا به څوك کړي نه پوهيږې

د غسي محمد اسماعيل سايل چې څو مياشتې مخکې د مرګ په ابدي خوب اوده شو، د پښتو خوږ ژبی شاعر ؤ، ښه ډېرې غزلې يې ليکلي دي، خو د هغه د مرګه پس ټوله شاعري يې ضايع شوې ده.

## دويم دور

په دې درو کې د نوي کهول هغه نماينده شاعران دي، دچا ذهني روزنه چې هم د لورالايي په مکتب فکر کي شوې ده، لکه:

افضل شوق چې و پښتو ادب ته يې د "شلېدلي امېل" غوندي ښايسته او په زړه پوري سوغات ورکړی دی، د جديد پښتو غزل يو ځلانده ستوری دی، چې د خپل ښايسته فکر رڼا يې په ټوله پښتونخوا کې خوره کړې ده. شوق د يوه خوږمن زړه خاوند دی، چې نوي موضوعات او خيالات لري، د ده غزل د

ســادګۍ او سلاســت پــه اعتبــار ځــان تــه انفرادیت لـري، ده لـه خپلـې پــښتو ژبــې ســره د بــې کچــه مینــې و جــذباتو تــه پــه ډېــر خــوارۀ انــداز بانــدي د ښایــسته شــعر رنــګ ورکــړی دی، د خپــل جدیــد اســلوب لــه ســوبه د پــښتو ادب پــه نــوي کهــول کــې یــو جــلا نــوم او جــلا مقــام لري:

خبــــره دا نــــه ده چــــي وړو بــــه چرتــــه کــــډه د ژونــــد
خبــــره دا ده چــــي د پــــلار هــــدیره چاتــــه پرېــــږدو

پــه هیلــه- هیلــه د ســپرلي مــو ټــولي پېغلــې لمحــې
د اوچــو پــاڼو پــه شــان شــوې لــه بــاد ســره ملګــرې

لالیـــه! پـــام کـــوه چـــي مـــات یـــې نـــه کـــړې
زړه خــــو شیــــشه دی، پــــه شیــــشې ځــــه بــــاور

ســهېل جعفــر یــو خــوږ او پــه زړه پــوري شــاعر دی، چــې پــه نــوي کهــول کــې خپــل حیثیــت لــري، د ســهېل غــزل لــه فکــري نــوي والــي سـره- سـره رنګینـي او بـې ساختګي هـم لـري، پـه غـزل کـې یـې ښـې تجربـې روانـې دي، فکـر یـې پـه سـاده ټکـو کـې لورتیـا لـري، یـو جـلا او نــوی انــداز یــې خپــل کــړی دی، د ښــکلو لفظونــو چــوڼ ځــای پــر ځــای خپــل حــسن، رنــګ او خونــد لــري، نــوي تــشبیهات پــه ډېــر زیات تعداد سره د سهېل په غزلو کې مېندل کېږي لکه:

پـــرې مـــین شـــومه ســـهېله! چـــې خـــدای ورکـــړو
د ګـــــلاب غونــــــدي رخــــــسار و پــــــښتنې تــــــه

ستا په جمال کې تازګي د سره او شنه په مثال
خدای دي مدام لکه ګلاب لره حسینه څېره

دا ستا د مینې پیرزوینه، ستا د مینې احسان
زه په امید ، سترګي په خوب، زړه په یادونو آباد

عبدالغني مبارز یو داسي رومانوي غزل ویونکی شاعر دی، چي هر اوربېدونکی یا لوستونکی د ده په شاعرۍ کي د خپلو جذباتو ترجماني محسوسوي، عبدالغني مبارز د خپلو جذباتو د اظهار یو بېل او خوږ انداز لري، د رومانیت په سوب او د خپل بېل انداز له کبله یې خپل حیثیت پیدا کړی دی، د ده غزلي خوږوالی، رنګیني لري، ښه خیالات په ښو او ښایستوو الفاظو کي د شعر په جامه کي رانغښتل د مبارز خوبي ده، ښه تشبیهات په استعمال کي راولي، د ده په کلام کي په زړه پوري اجتهاد مینډل کیږي، د شعر د لیکلو په وخت خپل ټول زیار په کار راولي او ښه شعر لیکي، لکه دا شعرونه:

ما په ډېره مینه، په خلوص او د همت په زور
دا دمیني جنګ له تا ګټلی په څو واره دی

نه تم کیږي اې زړګیه! دي رواني لېونیه!
هغه دلته ایسار شوې پرونی کډي باریږي

هیڅ مي ونه کړو په ژوندون کي له ژوندونه سره
هسي مي دود کړه په مثال د سپېلني زندګي

محمود ایـاز ډېـر خـواږه او زړه راکـښونکي شـعرونه تخلیـق کـوي، خپـل جـذبات د شـعرو پـه ژبـه پـه ډېـرو ښایـستو الفـاظو کـي بیـانوي، د اظهـار پېرایـه یـې ډېـره پـه زړه پـوري ده، غزلـې یـې لـه ښـو او نـوو خیـالاتو ځخـه ډکـي دي، د خپلـو نـوي موضـوعاتو او د جـلا اسلوب لـه کبلـه جوت مقـام لـري، وایـي چـي پـه نـوي غـزل کـي ردیـف مرکـزي حیثیـت لـري، هغـه دغـه وجـه ده، چـي ایـاز د ردیـف انتخـاب پـه ډېـر محنـت سـره کـوي، بـې سـاختګي، رنګینـي او ښـه تشبیهات د ایاز د غزلو بنیادي جزونه دي.

راغلـم د زړه سـره! د زړه سـره! ببرتـه ولاړمـه
سـتا لـه دي ډګـره دي ډګـره ببرتـه ولاړمـه
د زړه پـه شـان پـه نـه خبـره مـات وي
سـتا د وفـا نـازك ځنځیـر دی څـوني

دلتـه ایـازه! حـق خبـره پـه ګنـا حـساب ده
دلتـه بـې ننګـه بـاچهي ده د فرنـګ تراوسـه

هـم د غـسي عبـد المالك زهیـر او سـردار محمـد فكـري هـم د دې دویـم دور پـه سـنیرې شـاعرانو کـي شـمېرل کیـږي، ښـه شـعرونه لیکـي، غزلونـه یـې خونـد او رنـګ لـري، سـردارمحمد فكـري مزاحیه شعرونه هم لیکي،

څـوك دي قتـل پـه پـسته- پـسته خنـدا کـړو
څـوك دي ژوبـل د وفـا پـه تمنـا کـړو
عبدالمالك زهیر

ورځ تېروم‍ــــه پــــه ژړا ، پــــه شــــپه بیــــداره مــــدام
دا ســــتا د وصــــل پــــه هیلــــو یمــــه نګــــاره مــــدام
سردارمحمد فکري

## درېیم دور

پـه دې درېـیم دور کـي د ښځـي نـوي کهـول هغـه زلمـي شـاعران دي، چـي لـه تېـرې لـږ مـودې را هیـسي د ادب پـه ډګـر کـي طبـع ازمـایي کـوي او ښـه پـه زړه پـوري شـاعري کـوي، کـه څـه هـم پـه دې دور کـي ډېـر زلمـي شـاعران شـته خـو د یوڅـو ښـو شـاعرانو بطـور خـاص ذکـر کـول لازمـي ګڼمـه ځکـه چـي دوی پـه دومـره کـم عمـر ښـه شـعرونه لیکـي او زه دا پـه ډاګـه وایـم چـي پـه مـستقبل کـي بـه دوی انشاء الله پـه پښتو ادب کي ډېر نوم پیدا کړي، لکه

پائـدین نـاز زمـوږ د ښځـي نـوي کهـول یـو ښایـسته شـعرو ویـونکی شـاعر دی، چـي پـه ډېـر ښایـسته انـداز کـي خپـل جـذبات د شـعر پـه وسـیله وړانـدي کـوي، د ده لهجـه ښځـي خونـدوره او پـه زړه پـوري ده، نـوي او ښایـسته الفـاظ ځـای پـر ځـای د ده پـه غزلـو کـي لیـدل کیږي،جدیـد او ښـه خیـالات پـه ډېـر ښایـسته انـداز کـي ښایستې مځکي کي بیانوي لکه دا چي وایي:

پــــــه یــــــو ځــــــای د انتظــــــار ګــــــړۍ ولاړه
د وصــــال ګــــړۍ بــــه تــــل پــــه غبرګــــو زغاســــته

آ-چــــــي ولاړه نــــــابېره هغــــــه څــــــوك وه
پــــښتنه وه شــــرمېده لــــه خلګــــو زغاســــته

علي دیپک قزلباش: هم یو حساس او بیباکه شاعر دی، چې په شعرونو کې یې رومانیت کم او زموږ د دې سپېڅلې معاشرې د بدو اړخونو اصلاح زیاته لیدل کیږي، څه چې وینې هم هغه خبره کوي لکه چې وایي:

د خپل ځان د پاره ژوند به څنګه ژوند وي
ژوند هغه دی چې یو څوك خو پرې آباد شي

بیا به اندازه درته د ژوند لګي
راکه خنداګاني، ژړا ته یوسه!

زلمی شاعر رازق فهیم د اظهار خپل یو انداز لري، کم لیکي خو ډېر ښه لیکي، ښایسته فکر د ده د غزل خوبي ده، د ده غزل ښایسته او سوچه رنګ لري:

بیا به را سم کړم پر دې لور د خوشحالیانو ناتار
د مرګ په دار وځم ملګرو! را ولمه ژوندون

زما د آه- په زېر وبم باندې رقصیږي خلک
دا ستا له لاسه خورم څپړې لکه دف پر بدن

فضل داد فضل: هم زموږ د نوي کهول حساس زلمی شاعر دی، د ده په غزلو کې که یوې خواته د جانان غم شته، نو بلې خواته د دوران غم هم په زیات تعداد سره لیدل کیږي، لکه چې وایي:

ستا خندا به پر ځان ولي بده بولم
په خپل ځان- ځان خندولی یم په وار- وار

اې اسرافیله! زیاته وخت شو، پو که خپله شپېلۍ
د زمانې دا لوړ ژور اوس ورکېدل دي په کار

جمال الدین مسافر: ښه ښایسته غزل ګو شاعر دی، چې خپل جذبات په نوي اسلوب شعر ته ور سپاري:

زه که هر څو ځان ته سکون او اطمینان لټوم
خو مسافره! حادثې دي یو په بله پسې

سید نورمحمد شاه: ډېر ښایسته او په زړه پوري شعرونه لیکي:

د دلاسې خلک که نه لرمه
لاس به په خپله پر خپل سر تېروم

د حالاتو ځپلی محمدعلي بوریوال یو باصلاحیته او خواري کښ شاعر دی:

بوریواله! خوی به ویر کړي خوی به ژاړي
یو پرې بندي دروازي شوې بل بې تا شو

زموږ په دې درېیم دور کې شمس الدین شمس، سلطان زخپېل، رشید حقمل، هرات خان حسرت، هم راځي، دا ټول و پښتو ادب ته د څه ورکولو په تابیا دي، ممکنه ده چې له وخت

سره په دوی کې ځینې ځلمي و پښتو ادب ته ډېر څه ورکړي او د ادب په ډګر کې اوچت نوم وګټي.

فـــــــــــــروري

۱۹۹۲ء

Download from:aghalibrary.cm